دتراویحو مسئلې

سره

دوترو او دتراویحو د امامت له مسئلو

دقرآن او احادیثو په رڼا کښې

مؤلف

مولانا رفعت قاسمي

مدرس دارالعلوم دیوبند

مکتبه رشیدیه

سرکی روډ کوټه



د کتاب پیژندنه :

نوم: .... د تراویحو مسئلې

مؤلف: .... مولانا محمد رفعت قاسمي

ژباړن : .... مفتي محمد ابراهیم خلیل

کمپوز او کره کتنه: .... مولوي عبدالغني «ساجد»

ګرځنده تلفون: ۰۳۲۱۸۰۱۶۷۷۴

خپرونکی : .... محمد ساجد

ګرځنده تلفون : .... ـ ۰۳۳۳۷۸۲۵۴۸۴

د چاپ شمیر : .... ۱۰۰۰ زره ټوکه

چاپ: .... مکتبه رشیدیه سرکي روډ کوټه

خبرتیا

دعلم اوعرفان درنومینو الوته خبرورکول کیږي چې دمکتبې رشیدیې لخوا د پیاوړي عالم حضرت مولانا مفتي محمد رفعت قاسمي صاحب لاندې رسالې له اردومتن څخه پښتوته ژباړل شوي :

دامامت مسئلې ، داعتکاف مسئلې ، دجوماتونو مسئلې ، دلمانځه مسئلې ، داوداسه مسئلې ، دجمعې دلمانځه مسئلې ، دروژې مسئلې ، دسفر مسئلې ، دغسل مسئلې ، دزکوٰة مسئلې ، دتراویحو مسئلې ، دموزو مسئلې ، دبرات اودقدر دشپې مسئلې ، دشرک اوبدعت مسئلې ، داداب وملاقات مسئلې ، دمأثوره خطبو مجموعه ، دعیدینو اوقرباني مسئلې ، دحج اوعمرې مسئلې ، . درانه مینوال کولی شي چې دغه رسالې په خپله له مکتبې رشیدیې اونورواړوندو کتابخانو څخه په مناسب قیمت ترلاسه کړي په درنښت .

عنوان فهرست مخ

لومړی باب

عنوان فهرست مخ

دوهم باب

عنوان فهرست مخ

دریم باب

سماع

عنوان فهرست مخ

خلورم باب

تراویحه

پنځم باب

عنوان فهرست مخ

شپږم باب

دبسم الله په بيان کې

اووم باب

سجده سهوه

فهرست

عنوان	مخ

اتم باب

دتلاوت سجده

نهم باب

دتهجداوشبینې په بیان کې

لسنم باب

دختم په ورځ دبیلابیلورواجونو په بیان کې

عنوان

یوولسم باب

دلماخستن دلمانځه مسئلې

دوولسم باب

دوترو ثبوت او مسئلې

دیارلسم باب

سنتونه اونفلونه څه شی دي

ضمیمه

فهرست

بسم الله الرحمن الرحیم

انتساب

زه دخپل دې محنت نسبت سيدنا عمرفاروق ﷛ ته په کولو نيکمرغي حاصلوم چاچې له قاعدې سره سم دتراويحو دجماعت اهتمام او انتظام وفرمايي دهمده په اړه دسيدنا علي ﷛ ارشاد دی الله تعالی دې دده قبر همداسې له نوره ډک کړي لکه څرنګه چې ده زمونږ مسجدونه منورکړل.

دنوي چاپ په اړه

نحمده ونصلی علی رسوله الکريم زما په وهم اوګمان کې داخبره نه وه تيره شوې چې زما په شيردبې سامانه اولاشي کتابونه (مکمل اومدلل دروژې مسئلې ،مکمل اومدلل دتراويحو مسئلې ،مکمل اومدلل داعتکاف مسئلې ،مکمل اومدلل دامامت مسئلې اوداب اوملاقات مسائل) به دومره مقبوليت حاصلوي دالله ﷻ په فضل سره ترتوقع يې زياته کاميابي ومونده اوپه هنداوله هندڅخه بهردبنده حوصله افزايي اوقبوليت وشو زه دزړه له تله ددغوټولوخواخوږيوشکرکونکی يم له يولوري چې زه خپل کم علمي اوبل لوري دکتابونومقبوليت ته ګورم نوبې اختياره زماسردخدای ﷻ په دربارکې پرسجده اوزړه مې دالله ﷻ له ثناډک شي چې په خپل ځانګړي فضل اوکرم يې يوه عاجزاوناتوانه ته ددين خدمت وربه برخه کړ داده په دومره لږه موده کې بشپړې اومدللې دتراويحو مسئلې دريم چاپ له غلطيواصلاح شوی وړاندې کيږي له دې څخه معلوميږي چې په خواصواوعواموکې دالږی مقبوله ده

اودوی له دې څخه ګټه پورته کوي یقینا داټوله دلوی خدای ﷻ ترفضل وروسته د استاذانو کرامو د دعاګانو او د دارالعلوم دیوبند د فیض پایله ده الله تعالی دې زما خاکسار د اکوچنی خدمت قبول د اخرت توښه او د دواړو جهانو د کامیابی وسیله وګرځوي او په راتلونکي کې دې هم د خدمت توفیق راپه برخه کړي آمین

محمد رفعت قاسمی ۱۵ رجب ۱۴۱۰ ه ج

ارشاد ګرامی

د حضرت مولانا مفتی محمود الحسن صاحب دامت برکاتهم د دارالعلوم دیوبند مفتی اعظم

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد: ترنظر لاندې کتاب د تراویحو مسائل او د تراویحو امامت چې ترتیب کونکی یې مولانا محمد رفعت قاسمی مدرس دارالعلوم دیوبند دی د چاپ یو کلنی درسی تړون د دې بنده سره هم شته پرخپله موضوع ډیر ګټور او جامع کتاب دی نو موړي ډیرې باوري فتاوې او نور اړونده کتابونه په ډیره خوله بهولو سره مطالعه کړي زیات او کم څلورسوه د تراویحو او تراویحو د امامت مسئلې یې یو ځای د باب او عنوان په ترتیب سره راغونډې کړې له مبالغې پرته زما په نظر تراوسه کوم داسې کتاب نه دی راغلی چې په کې دې د تراویحو او د تراویحو د امامت دومره ګڼ شمیر مسائل بیان شوي وي څکه زه نوموړي ته د ده پر دغه بې ساري کوښښ د زړه له تله مبارکي ورکوم د دغو مسئلو په هر رمضان المبارک کې اړتیا پیښیږي او چونکه په ټول

کال کې صرف يوه مياشت دتروايحو کولو اوورکولوړی وي خکه نوعوام خوعوام دي کله ناکله ډيرخواص اوعلماء هم غلط شي اودهغوی لپاره داړوندومسئلو لټه ستونزمنه شي الله تعالی دې مؤلف ته دخيربدله ورکړي چې هغه دتراويحو اودتراويحودامامت مسئلې په دومره ګڼ شميريوځای راغونډې کړي چې اوس به شاهذداسې اهمه مسئله نه وي کومه چې به په دې کتاب کې نه وي بيان شوې داکتاب دعوامواوخواصودواړولپاره ګټوراومفيددی دعاده چې الله تعالی دازيات نه زيات ګټوراومقبول وګرزوي اومؤلف ته په راتلونکي کې هم ددارنګه خدماتوموقع ورپه برخه کړي آمين يارب العلمين

العبدمحمودغفرله ۲۲ / ۸ / ۱۴۰۲ ه ق

ستره رايه

دحضرت مولانامفتی نظامدين صاحب مدظله العالی ددارالعلوم ديوبند صدرمفتی

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلوليه والصلاة علی اهلها محمدن المصطفی وعلی اله واصحابه وازواجه واللاحقين بهم الی يوم القرار وبعد : ترنظرلاندې رساله (دتراويحومسائل او دتراويحوامامت) دمولانامحمدرفعت قاسمی تأليف دمؤلف دبې ساري هڅې اومحنت نتيجه ده چاچې دتروايحواودتراويحودامامت په اړه نژدې څلورسوه مفتی به جزئي مسئلې دمعتبروکتابونوله حوالوسره يوځای راجمع کړې چې هرچاته هرکال په رمضان کې ورته اړتياپيښيږي اوپه کال کې صرف

ديو خل ضرورت پېښيدوله کبله په عامه توګه په ذهن کې دننه حاضروالی په وجه خلک له غلطيو سره مخ کيږي.

دې رسالې لويه خانګړتيا داده چې نوموړي مؤلف دهرې مسئلې ترعنوان لاندې قانمولوورو سته دهرمخ فهرست هم ترتيب کړی چې په کې د مسئلې په لټه ډيره اُسانۍ وي ددغو خانګړتياوو له امله دغه رساله دعواموا وخواصوتولولپاره ډيره ګټوره اونافع شوې ده دامسئلې يوځای عموما دارنګه نه ترلاسه کيږي ځکه ددې افاديت نورهم زيات شوی دعاده چې الله تعالی دنوموړي مؤلف دغه هڅه مقبوله هڅه وګرزوي اوپه آئنده کې هم ددارنګه خدماتو موقع ورعطاکړي آمين ثم آمين فقط بنده نظام الدين

مفتي دارالعلوم ديوبند

۱۴۰۲/۱۱/۴ ه ج

تقريظ

دحضرت مولانامفتي ظفيرالدين صاحب زيدمجدهم ددارالعلوم ديوبند مفتي

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله وکفی وسلام علی عباده الذين اصطفی

الحمدلله دمسلمانانوله دين سره مينه اوشوق زياتيږي اوله همدې سره داحکاموطلب اوپلټنه هم روانه ده دايوه ښه نښه ده الله تعالی دې په دغونيکوجذباتوکې زياتوالی وکړي په هره دوره کې دزمانې دتقاضی سره سم داسلامي احکاموټولګې په ترتيب سره خپرې شوې اومسلمانانوله هغوی څخه استفاده کړې داخبره زمونږ ټولو لپاره د

دخوشحالۍ باعث ده چې ددارالعلوم دیوبند یوه استاذ قاري محمد رفعت صاحب دارتیا په احساسولو له تراویحو سره تړلې مسئلې کومې چې دفتاواؤ په کتابونو کې شیندلې دي په یو ځانګړې ترتیب راغونډې کړې ترڅو عوام او خواص په اسانۍ سره له هغه څخه استفاده وکړای شي او دارتیا پرمهال دغه ټولګه هرمسلمان له ځان سره وساتلای شي چونکه دتراویحو مسئلوته ارتیاد کال صرف په یوه میاشته کې په عامه توګه هرلمونځ کونکي ته پیښیږي او په عامه توګه دامسئلې په ذهن کې حاضرې نه وي که کتاب ورسره وي نو په خپله به یې په پاڼواوورقوا ړولو ګوري ځکه نونوموړي فتاوی دارالعلوم دیوبند مدلل اومکمله ،کفایت المفتی ،مجموعه فتاوی عبدالحی فرنګي محلي اونوروفتاواو وټولګې مخته په اینبودلو دتراویحو دامامت اودتراویحو اړوند مسئلو دراغونډولو هڅه کړې ده همدارنګه یې په سلګونو مسئلې دګڼ شمیر کتابونو په حواله یوځای کړې دي هیڅ شک نشته چې داکارزیات زیارغوښتونکی ؤ او ډیره ځان خوړنه یې غوښته دمرتب زیاراو کوښښ دستاینې وړدی چې هغه همت ونه بایله او خپلو هڅو ته یې دوام ورکړ او اخرپای دبریالیتوب غاړې ته ورسید ښتیاداده چې نوموړی زمونږ ټولوله لوري دمننې حقداردی ځکه هغه له دغه فرض دعلماؤ اوږې سپکې کړې اویوه ارزښتمنه ټولګه یې مسلمانانو ته وړاندې کړه له دې څخه یوازې عوام نه بلکه انشاالله علماء او مفتیان هم دارتیا پرمهال استفاده کولای شي دعاده چې الله تعالی

د مولانا محترم زیار او کوښښ قبول او د اخرت لپاره یې ورته توښه وګرزوي آمین
دعاګوښتونکی محمد ظفیر الدین د دار العلوم دیوبند مفتی

د ترتیب کونکي وینا

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد: په وړاندې شوي کتاب کې د تراویحو، ماخستن او وترو مسئلوته په یو ځانګړي ترتیب سره وړاندې کولو کوښښ شوی په کتاب کې له عربي عباراتو څخه د ځان ساتلو په خاطر بوازې مفتی بـه قول راخیستل شوی ترڅو عام لوستونکي د مسئلو په فهمولو کې د کومې ستونزې سره مخ نشي د بنده دا کتاب د دار العلوم دیوبند د نباغلیو مفتیانو د فیض نتیجه ده په دې مهال وعامو مسلمانانو ته په وړاندې کولو سره مې زړه د الله ﷻ له حمد او ثناډک دی چې صرف پخپل توفیق او مهربانی سره یې د غه خدمت زما غوندې بې سامانه او ناتوانه بنده څخه واخیست.

دعاده چې بخښونکی خدای ﷻ په خپل فضل او کرم د دې حقیر بنده خدمت قبول کړي او په خپلو شکر کونکو بندګانو کې د دې حقیر نوم هم ولیکی آمین یارب العلمین

محمد رفعت قاسمی
مدرس دار العلوم دیوبند ۱۴۰۵ ه ج

بسم الله الرحمن الرحیم

لومړی باب

روژې او تراویح دمغفرت باعث دي

عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ اِیْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَنْ قَامَ رَمَضَانَ اِیْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَنْ قَامَ لَیْلَةَ الْقَدْرِ اِیْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ «بخاری ومسلم»

ژباړه: له حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم څوک چې درمضان روژې په ایمان او احتساب سره (دثواب په نیت) ونیسي دهغه ټول مخکني ګناهونه ورمعافیږي همدارنګه کوم څوک چې په ایمان او احتساب سره درمضان په شپو کې نفل دتراویحو وکړي دهغه هم ټول مخکني ګناهونه معافیږي همدارازڅوک چې دقدرپه شپه په ایمان او احتساب سره نفلونه وکړي دهغه هم ټول ګناهونه وربخښل کیږي.

تشریح: په دغه حدیث کې په رمضان کې روژوته، درمضان په شپو کې نفلوته اوپه ځانګړي توګه دقدردشپې نفلونوته دمخکنیو ګناهونو دمغفرت اومعافی وسیله ویل شوي په دې شرط چې روژې اونفلونه په ایمان او احتساب سره وي دغه ایمان اواحتساب خاص دیني اصطلاح ده ددې مطلب همداوي چې کوم نیک عمل وکړل شي دهغه محرک خاص دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ منل اودهغوی پروعدواووعیدوباندې یقین راوستل وي اودهغوی

دنبودلي اجراوثواب طمع او هيله وي كومه بله جذبه اوموخه ددې محرک نه وي همدغه ايمان او احتساب زمونږ د اعمالو زړه او روح دى كه دانه وي نوبيا ظاهري غټې نه غټې اعمال هم بې روح او دننه تش دي كوم چې خداى ﷻ مكره د قيامت په ورځ دنا چلنده روپيو په څير ثابتېږي او په ايمان او احتساب سره دبنده يوعمل دخداى ﷻ په دربار كې دومره قدرمن او ارزښتمن دى چې دهغه په وجه اوبركت دكلونوكلونوگناهونه معافيدلاى شي الله تعالى دې دايمان او احتساب صفت په خپل فضل زمونږ په برخه كړي آمين -

دروژې او قران شفاعت

عن عبدالله بن عمرو ان رسول الله قال الصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ يَقُولُ الصِّيَامُ اَىْ رَبِّ اِنِّى مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِى فِيْهِ وَيَقُوْلُ الْقُرْآنُ مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ فَشَفِّعْنِى فِيْهِ فَيُشَفَّعَانِ «رواه البيهقي فى شعب الايمان» ترجمه: له حضرت عبدالله بن عمرو ؓ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: روژه او قران دواړه دبنده شفاعت كوي (دهغه بنده كوم چې دورځې روژه نيسي او په شپه كې دالله ﷻ په حضور كې په ولاړه دهغه پاک كلام ووايي يا يې واوري) روژه به عرض وكړي اى زما پروردگاره ما دغه بنده له خوراک څښاک او دنفس له خواهشاتو بند كړى وونن زما شفاعت دده په هكله قبول كړه (له ده سره دمغفرت او رحمت معامله وكړه) قران به ووايي ما دى په شپه كې له خوب او آرام څخه بند كړى وو خدايه! نن دده په هكله زما سپارښت قبول كړه (له ده سره دبخښنې او مهربانى معامله وكړه) بيا به نودروژې او قران دواړو شفاعت به ددغه بنده په اړه قبول شي

(دده لپاره به دجنت او مغفرت پريکړه وشي)) تشريح: دچاپه قربانولونه، دخپل ځان اومال په ورکولونه ، دصحت اوروغتيا په ختمولونه بلکه که لږ آرام پريږدو او په نفس لږ زور وکړو د رسول الله ﷺ رابنودلی علاج اودرملنه وکړونو مونږدانعمت ترلاسه کولای شو خومره بختوردي هغه بندګان چې دهغوئ په هکله ددوئ دروژو او په نفلونو کښې ددوی لوستي يا اوريدلي قران کريم شفاعت قبول شي دابه ددوی لپاره څومره دخوشحالي او مسرت وخت وي (معارف الحديث ج ۴ ص ۱۰۸)

دتراويحو اهتمام او درکعتونو شمير

دحضرت عمرفاروق ﷺ عام اعلان وه چې زما اطاعت ترهغوده ترڅوزه دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ اودصديق ﷺ په سيرت عمل کوم چيرې چې دخالق معصيت وي هلته دکوم مخلوق اطاعت جائزنه دی دا يورواجي اعلان نه وو بلکه حضرت عمر ﷺ دخلکو دازمويلو لپاره پرمنبر سربيره داسې اعلان وکړ خلکو ! که چيرې زه دنبوي سنت اوصديقي سيرت په خلاف کوم حکم وکړم نو تاسو به څه کوئ ؟ خلک چوپه خوله ؤبيايې دوهم ځل دغه اعلان وکړ نويوه ځوان توره راواخيسته ولاړشو اوتورې ته يې اشاره وکړه او ورته ويې ويل: دا به فيصله کوي حضرت عمر ﷺ خوشحاله شو ويې فرمايل: ترڅو چې په خلکو کې داسې جرأت پاتې وي ترهغو امت نشي ګمراه کيدای.

يوځل ده مبارک تقرير کاوه ډير خلک ورته ناست ووده وويل: اسمعوا واطيعوا » يعنې واورئ او عمل پرې وکړی يو عام سړی ولاړشو اوويې ويل: ستا خبره نه اوروا ونه عمل پرې کوو ځکه چې

تادغنیمت دمال په ویشلو کې مساوات او برابري نه ده کړې ځکه چې دغه ټوکرکوم چې ستاسې په چوپانه (خرقه) کښې دی مونږ ته هم راکول شوی خوله هغه څخه څادراولنګ نشي جوړیدای اوستاسو جوغه څرنګه ورڅخه جوړه شوه؟ حضرت عمرفاروق ﷺ دځواب ورکولو پرځای خپل زوی عبدالله راوغوښتی هغه وویل: داټوکرماته هم راکول شوی وو خود پلار محترم سره صرف یوه کرتی وه د جمعې دورځې لپاره دهغې په مینځلواوچولوبه وځنډیدی نو ماخپله برخه هم ده ته ورکړه ځکه نوددواړوپه یوځای کولو یوه جوبه (چوپانه) ورڅخه تیاره شوه.

دې ته ورته نورې ډیرې داسې واقعې موندل کیږي چې دغوحضراتو د سنت خلاف یوه کوچنی خبره هم نشوای زغملای ټول دنبی کریم ﷺ دسنتو عاشقان وو له بدعت اودسنت له خلاف کارڅخه دومره بیزاروو چې دامت هیڅ یوشخص دهغه بیلګه نشي وړاندې کولای داسې کلک دسنت پابنداودشریعت پیروحضراتولکه حضرت عثمان غنی، حضرت علی، حضرت ابن مسعوذ، حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهم اوله دوی پرته ټول مهاجرین اوانصار رضی الله تعالی عنهم په موجودیت کې حضرت عمرفاروق ﷺ حضرت ابی بن کعب ﷺ دشلورکعتونو تراویحوورکولو لپاره وټاکی هیچاهم په ده اعتراض یانیوکه ونه کړه بلکه ټولو یې مرسته موافقه اوتائید وکړ اوهغه یې جاري اورواج کړ (ټولو اصحابو رضی الله تعالی عنهم په پابندي سره په تراویحو کې برخه واخیسته) تردې چې حضرت علی ﷺ دعمر ﷺ ستاینه وکړه اودده لپاره یې

دخير دعا وکړه ده به د حضرت عمر ﷺ تر وفات وروسته ويل: چې الله تعالى دې د حضرت عمر ﷺ قبر له نوره ډک کړي لکه څرنگه چې هغه زمونږ مسجدونه منور کړل کوم نښاغلي چې د حضرت عمر ﷺ شل رکعته تراويحو ته بدعت وايي که هغه صحيح ومنل شي نو بيا د حضرت عمر ﷺ په زمانه کې د اصحابه ددومره کثرت سره څرنگه په شل رکعته موافقه راغله؟ که چيرې حضرت عمر ﷺ له ځانه شل رکعته ايجاد کړي وي نو هغه جم غفير او گڼ شمير صحابه رضی الله تعالى عنهم چيرې وو په کوموکې چې د يوادنى صحابی ﷺ داجرات وو چې په يوه کوچني خبره يې په حضرت عمر ﷺ د خطبې پرمهال نيوکه وکړه د حضرت سعد بن ابی وقاص ﷺ پر وفات بي بي عائشې ﷺ غوښتل چې د جنازې لمونځ په مسجد کې وشي ترڅو دا هم يکې برخه واخلي خو دام المومنين دغه فرمايش يا حکم ځکه قبول نکړل شو چې په مسجد کې د جنازې لمونځ د سنت په خلاف وو سره له دې چې حضرت سعد بن ابی وقاص نه تنها دا چې د ايران فاتح وه بلکه له عشره مبشره وو څخه هم وو.

دابن عمر ﷺ مختنه يوه سړي پرچ وهل (ويې نورل) هغه وويل: الحمدلله والصلاة علی رسول الله په دې جمله کې دوالصلاة علی رسول الله زياتوالی که څه هم دمفهوم په اعتبار ډير ښه وو چې پر رسول الله سلام درودوو خو د سنت د خلاف والي له امله سمدستي ابن عمر ﷺ هغه کس پوه کړ چې دا د سنت په خلاف دی حضرت امير معاويه ﷺ د کعبې شريفې ټول کونجان مچ کړل حضرت ابن عباس ﷺ سمدستي خبرداری ورکړ چې له حجراسود پرته دهيڅ ځای مچول

نبوي سنت نه دي تا دا د سنت خلاف عمل څنګه وکړ حضرت معاویه
ﷺ له دغه فعل څخه رجوع وکړه دغه حضراتو صحابه کرامو رضی الله
تعالی عنهم یوه ذره د سنت په خلاف عمل نشو زغملای که به له
عوامو څخه وواوکه به له پاچاهانو څخه سمد ستي به یې راګرزول
نو آیا له دغه شاغلیو څخه دا شوني ده چې دوی په مسجد نبوي
او مسجد حرام کې شل رکعته تراویح وزغمي کومې چې انفرادي نه
بلکه په تولنیزډول کیدې ؟ د دغه حضراتو په اړه دا فکر کول چې دوی
د مجبوریت له امله په کې برخه اخیسته او دوی له خولو څخه دویرې
له وجه هیڅ یوه کلمه نه روا تله معاذالله دا ډول فکر کول نه صرف
پر حضرت عمرؓ بد ګماني ده بلکه له ده پرته د ټولو صحابه
کرامو ،طابعینو او مجتهدینو ائمو پر خلاف د بد ګماني دروازه
پرانستل دي کوم چې په دغه مسئله کې د مسلمانانو له خلیفه سره
متفق اوله هغه سره په دغه (تراویحو کې) شریک وو مونږ په
حضرت عمرؓ او نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم هیڅ کله داسې
ګمان نشو کولای چې دوی ټول دې د رسول اکرم ﷺ د سنت خلاف په
کوم داسې عمل اتفاق کړی وي خبره داده چې د حضرت عمرؓ
ترزماني مخکې هم شل رکعتیزې تراویح له بیلا بیلو امامانو سره
تنها کیدلې صرف حضرت عمرؓ د جماعت ځانګړی اهتمام وکړ نوله
دې څخه دا څنګه لازمه شوه چې حضرت عمرؓ د تراویحو بدعت
جاري کړ .

دخبرې لنډيز

له احاديثو څخه معلومېږي چې رسول الله ﷺ تراويح په جماعت سره کړې دي ترڅو ددې سنت والی معلوم شي تردې وروسته يې له دې وجهې پرېښې داسې نه چې فرض وګرځي که دفرض کيدو انديښنه نه وای نو رسول الله ﷺ به هميشه تراويح وركولای رسول الله ﷺ اصحابو کرامو ته په کورونو کې دتراويحو کولو حکم کړی وو چونکه درسول اکرم ﷺ تروفات وروسته دفرض کيدو انديښنه ختمه شوه ځکه لازمه شوه چې تراويح په مسجدونو کې په جمعې سره وشي تررسول الله ﷺ وروسته ابوبکر رضی الله عنه په جماعت سره دتراويحو کولو حکم ونه کړددې لامل داوه چې دی رضی الله عنه تردې هم په اهم کارمصروف اوبوخت وو يعني دی دنبوت ددعوه کونکيو او مرتدينو په مقابله اخته وواو دخلافت موده يې هم ډيره لنډه يعني دوه کاله او څو مياشتې وه چې له دې کبله نو موړي په جماعت سره دتراويحو د اهتمام فرصت ونه موند حضرت عمر رضی الله عنه دخپل خلافت دپيل په زمانه کې زيات مشغول وو تردې وروسته چې کله انتظامات صحيح اومستحکم شول اودځمکې پرمخ دامن فرش خورشو نوددې سنت دقائمولو طرفته يې توجه وکړه لکه چې بخاري له عبدالرحمن بن عبدالقادر څخه روايت کړی هغه وايي: زه يوه شپه له حضرت عمر رضی الله عنه سره مسجدته ورغلم ومې ليدل چې خلک دلته هلته په متفرق (جلاجلا) ډول لمونځ کوي څوک يوازې دي اوله چاسره څو نفره دي حضرت عمر رضی الله عنه وفرمايل: که داټول ديو حافظ شاته راجمع کړم نوډيرښه به وي بيايې همدغه خيال پوخ کړټول يې دابی بن کعب رضی الله عنه

مقتدیان کړل تردې وروسته دوهمه شپه له حضرت عمرﷺ سره ولاړم نوومې لیدل چې خلک دجماعت په صورت په خپل امام پسې لمونځ کوي دهغوئ په لیدو حضرت عمرﷺ وفرمایل: دا ډیرښه بدعت دی.

علامه قاري رحمه الله وایي حضرت عمرﷺ چې تراویحو ته کوم بدعت وویل صرف دصورت په اعتبارېې وفرمایل ځکه چې داغونډه درسول اکرمﷺ تروفات وروسته وشوه کنه دحقیقت په اعتبار دغه بدعت نه دی ځکه چې رسول اکرمﷺ په خپله اصحابو ته په کورونو کې دکولو حکم کړی وو تر څو فرض نه شي له احادیثو څخه درسول اللهﷺ شل رکعته تراویح کول ثابت دي خو په دومره اهتمام او کثیر جماعت سره نه کیدې حضرت عمرﷺ دټولو دیوه امام سره دکولو اهتمام وکړ دائمو وپه اتفاق سره دا صحیح ده چې په تراویحو کې جماعت افضل دی بلکه ځینې علماؤ ددې په اړه دا دعوی کړې ده چې دټولو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم په دې اجماع شوې ده ځکه چې له مهاجرینو او انصارو څخه هیڅ یوه هم پرډې ردیانیوکه ونکړه ټولو په ذې کې برخه واخیسته درسول اکرمﷺ له ارشاد علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین الخ څخه ددواړوسنتونو عملي کول په وضاحت سره معلومیږي ده مبارک داحکم نه دی کړی چې زماسنت عملي کړی او دخلفاؤ سنت پریږدئ بلکه ددواړو التزام وکړئ.

له امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله څخه پوښتنه

له امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله څخه د سیدنا عمر رضی الله عنه د دغه عمل (تراویحو) په هکله پوښتنه وشوه نوده وفرمایل: چې تراویح مؤکد سنت دي د حضرت عمر رضی الله عنه نوی فعل نه دی هغه کوم بدعت ونه کړ ترڅو چې د دې حکم اصل هغه ته نه وو معلوم شوی د دې کار کولو حکم یې ونه کړ کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة ج۱ ص ۴۴۳ که څوک نور زیات تفصیل لیدل غواړي نو لاندې کتابونه دې وګوري ۱ انوار المصابیح مؤلف مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله ۲ رکعات تراویح مؤلف مولانا حبیب الرحمن اعظمی دامت برکاتهم ۳ فتاوای رحیمیه لومړی ټوک ۴ فتاوی رشیدیه کامل ۵ کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة.

تراویح د ټولو لپاره سنت دي

تراویح د نرو او ښځو لپاره سنت دي په جماعت سره تراویح کول کفایي سنت دي او د تراویحو وخت د ماخستن تر لمانځه وروسته دی او په تراویحو د وتر وړاندې کول هم صحیح دي او وروسته کول هم صحیح دي د شپې تر دریمې برخې د تراویحو ځنډول مستحب دي او د صحیح مذهب سره سم ترنیمې شپې پورې هم د تراویحو ځنډول مکروه نه دي تراویح شل رکعتنه دي په لسو سلامونو سره او ترهرو څلورو رکعتونو وروسته د دغو څلورو رکعتونو په اندازه ناسته ده او د روژې په میاشت کې په تراویحو کې یو ځل ختم کول سنت دي نور الایضاح ص ۹۹ ، تراویح د نارینه او ښځینه ټولو لپاره

مؤکد سنت دي خو د میر منو لپاره جماعت مؤکد سنت نه دی «کفایت المفتی ج ۳ ص ۳۲۱»

په تراویحو کې د حافظ قران کریم اورول

سوال: په تراویحو کې د حافظ لپاره د قران کریم اورول واجب دي که مستحب؟ د واجب کیدو په صورت که کوم شخص د ویلو پر مهال له ریاځخه د ځان ژغورنې توان ونه لري نو د هغه لپاره اورول جائز دي او کنه؟ د نه جواز په صورت کې په نه اورولو سره د قران کریم کوم حق یا مواخذه د ده په غاړه پاتیږي او کنه که پاتیږي نو بیا به د خلاصون صورت څه وي؟ جواب: په تراویحو کې د قران شریف اورول او اوریدل سنت او مستحب دي او د ریا او عجب له وجهې دی نه پریښودل کیږي او تر خپله وسه دې د اخلاص حاصولو کوښښ وشي او د الله ﷻ د رضا لپاره دې بې له معاوضې و اورول شي دا ډیر لوی د اجر او ثواب کار دی او په همدې کې فضیلت دی نور نو که د کوم عذر په وجه کوم حافظ صاحب قران شریف وانه وروي نو له مسئولیت څخه خلاص دی قال الله تعالی لایکلف الله نفسا الا وسعها «فتاوی دار العلوم ج ۴ ص ۲۴۸»

آیا تراویح ورکول د امام ذمه واري ده؟

سوال: امام صاحب پنځه وخته لمونځ په پابندي سره ورکوي خو په تراویحو کې د اورولو عادت نه دی پاتې شوی ځینې خلک وایي چې تراویح ورکول د امام ذمه واري ده؟ جواب: که په تراویحو کې امام صاحب د قران کریم اورولو څخه عاجز او قاصر وي نو په الم ترکیف سره د تراویح ورکولو ذمه وار دی که مقتدیان په تراویحو کې د قران

کریم داوریدلو نکمرغي ترلاسه کول غواړي نوددې انتظام دمقتدیان پخپله وکړي امام صاحب دنه مجبوروي که دخدای ﷻ لپاره تراویح ورکونکی ونه موندل شي نو کوم حافظ درمضان دمیاشتې لپاره نائب امام وټاکئ دلماخستن اونوریودوه لمنځونه دده په ذمه لازمول په کاردي اوتراویح دی هم دی ورکوي په دې سره داجرت اخیستلو لاره راوتلای شي «فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۳۴۹»

په تراویحو کې دامامت حق

سوال: بکرپه یوه مسجد کې امام مقررشو اودقران حافظ هم دی زیدهم دقران حافظ دی هغه له ډیره وخته په دې مسجد کې تراویح ورکولې اوس بکروایي چې زه امام ټاکل شوی یم دتراویحوورکولوحق زمادی زیدوایي چې زماپخوانی حق دی نوداتراویح دچاحق جوړیږي ؟ جواب: په پوښتل شوي صورت کې کله چې بکرامام ټاکل شوی دی نودتراویحو دامامت حق هم ده ته حاصل دی «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۸۲ ددرمختار ج ۱ ص ۵۲۲ باب الامامة په حواله»

دتراویحو لپاره حافظ مقررول

سوال: لکه څنګه چې دپنځه وخته لمونځونو لپاره امام ټاکل جائزدي آیاهمدارنګه دتراویحو لپاره هم حافظ مقررولای شو؟ جواب: څرنګه چې مسئله داده چې الاموربمقاصدها اوداهم ده چې المعروف کالمشروط نو که کوم حافظ دقران کریم ختمولو لپاره دتراویحو امام جوړکړل شي نو څرګنده ده چې له دې څخه مقصد امامت نه دی بلکه دقران کریم ختم دی نو په دې چې کوم اجرت اخیستل کیږي یا ورکول

کیږي هغه د قران کریم د ختم په وجه دی (نه محض د امامت پـه وجه) نو د لایجوز اخذ الاجرة علی قراءة القران د قاعدې سره سم په تراویحو کې د قران پر ختم اجرت اخیستل اوورکول نه روا کیږي همدارنګه د شامی پنځم ټوک ۳۵ مخ کې راغلی چې بې له اجرته د تراویحو امام مقررول صحیح او افضل دی خو پـه اجـرت جائزنـه دي «فتـاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۴۷ ردالمحتار ج ۵ ص ۴۷ کتـاب الاجاره مطلب الاجارة فی الطاعة په حواله»

یو سړی دوه ځایه تراویح ورکولای شي کنه

سوال: ځینې حافظان داسې کوي چې پـه یـوه مسجد کې تـراویح ورکړي راشي په بل مسجد کې هم تراویح ورکوي د دې شرعي څه حکم دی؟ جواب: کـه چیرې دواړه ځایـه پـوره پـوره تـراویح ورکړي نو د مفتی بـه قـول سره سم د دوهـم مسجد د خلکو تراویح نـه صـحیح کیږي په عالمګیري کې څرګند ونه وجود لري «فتـاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۸۸ د عالمګیري ج ۱ ص ۲۸۹ په حواله»

یادونه: د دې صورت داروتلای شي چې حافظ صاحب لس رکعتـه تراویح په یوه مسجد کې ورکړي او پاتې تراویح لـه مقتدیانو څخه کوم یو د حافظ صاحب پر ځای په سورتونو پوره کړي

«مرتب محمد رفعت قاسمی»

حافظ ته په تراویحو کې د معاوضې ورکولو شرعي حیثیت

سوال: په روژه مبارکه کې د قران کریم د ختم پـه غـرض د حافظ د څه اخیستلو یا ورکولو په نیت اوریدل اورول اووروسته ورکول اخیستل څنګه دي نیت د دواړو د ورکولو اخیستلووي بیله دې یې نه اوري اونه

يې اوروي كه په كوم مسجد كې قران شريف نه واورول شي صرف پرتراويحو كولو كفايت وكړل شي نو هغه خلك به په روژه كې دقيام كولوله فضيلت څخه بې برخې شي او كنه ؟ جواب: په اجرت دقران كريم ويل صحيح نه دي او په دې كې ثواب هم نشته او دالمعروف كالمشروط په حكم دچانيت چې دوركولواخيستلودى هغه هم داجرت په حكم دي اوناجائزدي په داسې حالت كې يوازې تراويح كول اوداجير حافظ څخه قران نه اوريدل غوره دي اويوازې په تراويح اداكولو دروژې دقيام فضيلت حاصليږي «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۲۴۲ درد المحتار ج ۱ ص ۷۲۰ مبحث التراويح په حواله»

دتراويحو اجرت دتحفې په ډول

سوال: يو مولوي صاحب ډيرديندار، پرهيزګاراوحافظ دقران دى هغه هركال په روژه كې ديوه كلي په مسجد كې تراويح وركوي ترختم وروسته مقتديان اونوريو څه اندازه بې له څه جبراوزوره اوبيله دې چې مخكې دپه دې اړه خبره شوبيي وي دخداى ﷻ لپاره حافظ ته څه وركوي او حافظ يې هم په خوشحالى قبلوي اووايي: چې زمامقصدله دې څخه مال اوددنياكسب نه دى زمامقصد خوثواب اودسنت مؤكده ادا ينه اودقران يادساتل دي دپيسو شتون اونه شتون زماپه اند برابردي اودتفسير عزيزي له يو عبارت څخه پرعباداتو داجرت اخيستلو جوازمعلوميږي په دې صورت كې شرعاً څه حكم دى ؟ جواب: فقهاؤداقاعده ليكلې چې المعروف كالمشروط كذافى الشامى وغيره) نو كه دې حافظ صاحب ته معلومه وي چې دده دقران په اورولو له مسجد څخه روپى وركول

کیږي اوداورکول او اخیستل عرف اورواج گرځیدلي وي نودې حافظ ته دقران کریم په ختمولو څه اخیستل صحیح نه دي کنه لوستونکی او اوریدونکي له ثواب څخه بې برخې کیږي اوشاه عبدالعزیز رحمه الله دلیکنې مطلب دادی چې پردغه عبادت دڅه ورکولو او اخیستلو رواج نه وي ترڅو دفقهاؤدکلام اوشاه صاحب دارشاد ترمنځ تعارض دفع شي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۷۴ دردالمحتار ج۱ ص ۲۸۷ په حواله»

حافظ ته دتلوراتلو کرایه اوډوډۍ ورکول

سوال: یو حافظ صاحب دشعبان (برات) په پای کې راوغوښتل شو او پولو خلکو چنده وکړه دتلوراتلو کرایه یې ورکړه اودروژې په ټوله میاشت کې یې ښه خوراک څښاک ورکړنو دغه صورت بیله عوضه دقران شریف داورولو شمیرل کیږي اوکنه اوکه داصورت هم نارواده؟ اوده ته څه زیاتوب ددې په عوض نه ورکول کیږي که داسې صورت ونه کړل شي نو حافظ صاحب قران نه اوروي؟ جواب: دتلوراتلو په کرایه ورکولو د حافظ له بهر څخه راغوښتل او بیله عوضه دهغه قران شریف اورول جایز او دثواب باعث دي اوکله چې هغه له بهر څخه راوغوښتل شو نودی ملمه بلل کیږي ښه ډوډۍ ورکول ورته جائزدي فقط «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۹۵» که دحافظ صاحب په زړه کې داخیستلو خیال نه وو او بیا چاورکړې نو صحیح دي اوکه یې دعرف اورواج په اساس ورکوي او حافظ صاحب یې هم داخیستلو په خیال اوروي که څه هم په خوله یې څه نه وي ویلي نو صحیح نه دي «فتاوی رشیدیه کامل ص ۳۲۴»

دتراويحو معاوضه

سوال: حافظان صاحبان دتراويحو لپاره پيسې معلوموي يامتولي ته وايي چې څه ستاسې خوښې وي هغومره راکړئ يامتولي ورته وايي چې مونږ په خپله خوښه چې څومره وغواړو دربه يې کړونو په داډول معلومول جائزدي اوکنه ؟ جواب: په تراويحو کې اجرت ورکول او اخيستل ناروادي ورکونکي او اخيستونکي دواړه ګنهګاريږي ترديې ښه داده چې په الم ترکيف سره تراويح ورکول شي دخداى ﷻ لپاره ويل او دخداى ﷻ لپاره ورسره مرسته کول جائزدي خوپه دې زمانه کې داچيرې شته ؟ که يوځل پيسې ورنه کړل شي نو حافظ صاحب دوهم ځل نه راځي اصل مسئله همدغه ده مګرهغه مشکلات له نظره غورخول نه دي په کار کوم چې هرکال اونږدې دهرمسجد لمونځ کونکو ته پيښيږي دعمل وړحل همدغه دى چې چيرته دخداى ﷻ لپاره تراويح ورکونکى حافظ ونه موندل شي هلته دتراويح ورکونکي درمضان دمياشتې لپاره نائب امام جوړکړل شي اودهغه په ذمه ديويادوه لمونځونو مسئوليت ورکول شي نو په بيان شوي حيله سره تنخواه اخيستل رواکيږي ولې چې په امامت اجرت اخيستل جائزدي دمفتى اعظم حضرت مولانامفتى کفايت الله فتوى داده چې که دروژې دمياشتې لپاره حافظ ته تنخواه ورمقرره شي اويودوه لمونځونه دهغه په امامت کې ورګډ کړل شي نو داصورت جائزدى ځکه چې په امامت داجرت اخيستلو اجازه فقهاؤورکړې.

«محمد کفايت الله کان الله له دهلي ۲۷ شعبان ۱۳۷۰ ه ج کفايت المفتى ص ۷ ج ۳»

یادونه: حضرت مفتی محمود حسن صاحب دامت برکاتهم فرمایي
چې اصل مذهب خو د نه جوازدی خو په بیان شویو حالاتو کې د بیان
شوي حیلې گنجائش شته «فتاوی رحیمیه ج ۳ ص ۳۵۰»
همدارنگه یو صورت داهم راوتلای شي چې له مونځ کونکیو څخه
کوم خیر کونکی د حافظ د روژمات پیشلمي او نورو ضروریاتو انتظام
وکړي او اخیر د تحفې یا مرستې په توګه څه ورکړي نو دا د اعتراض
وړ نه دي د اجرت په توګه ورکول منع دي فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۴۳۳
که بې له تعیینه ورکول شي او پرنه ورکولو کومه شکوه او شکایت نه
وي نو دا صورت له اجرت څخه وتلی او د جواز په حد کې داخلیدای
شي «کفایت المفتی ج ۳ ص ۳۵۰»

دنابالغه حافظانو د قران پخولو لپاره د نفلو جماعت او په هغه کښې د ګډون حکم

سوال: یو نابالغ حافظ په نفلو کې قران کریم اورول غواړي نو په داسې
نابالغ حافظ پسې اقتداء د اصلاح په نیت کولای شو او که نه؟ جواب:
په نابالغ حافظ پسې اقتداء خو په تراویحو او نفلو کې هم صحیح نه ده
خو که هغه د خپل قران پخولو لپاره او د تراویحو ورکولو عادت
جوړولو لپاره په نفلي لمونځ کې قران واوروي نو د فتحې
ورکولو لپاره یو حافظ او که په یوه کفایت نه کیدای دوه حافظان
اقتداء ورپسې کولای شي البته د فضیلت حاصلولو په خاطر اقتداء نه
ورپسې صحیح کیږي «فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۳۸۲»

په کوچني پسې د تراويحو مسئله

سوال: که ترپنځلس کاله کم ماشوم صرف تراويح ورکړي او فرض بل کس ورکړي نو آيا دا صورت جائزدی او که څنګه؟ جواب: د ماشوم تراويح صرف نفل دي او د بالغ تراويح سنت مؤکد دي او بل دا چې په کوچني باندې نفل په شروع سره هم نه واجبيږي او پر بالغ واجبيږي نو د ماشوم لمونځ ضعيف شو پر دې ضعيف لمانځه د قوي لمانځه بنا د اصولو د خلاف کيدو له امله نه جائز کيږي «امداد الفتاوی ج۱ ص ۳۲۱».

په فتاوی محموديه کې راغلي چې نابالغ د تراويحو لپاره امام جوړول صحيح نه دی خو که دا نابالغ د نورو نابالغانو امامت وکړي جواز لري «فتاوی محوديه ج۲ ص ۳۵۰».

د بې ږيري بالغ حکم

سوال: په لغړزني هلک پسې لمونځ کيدلای شي او که نه؟ مراد دا چې بالغ شوی وي خوږيره او بريتونه يې نه دي راغلي که حافظ وي او که طالب د کوچني والي په وجه د مقتديانو دده د امامت په هکله اختلاف وي په دې اړه شرعي حکم څه دی؟ جواب: که چيرې هغه ښائسته وي او ده ته د خلکو په شهوت سره د کتلو احتمال وي بيا نو که دی طالب او يا حافظ هم وي بيا هم دده امامت مکروه دی او که دا خبره نه وي صرف د عوامو ناخوښه وي نو که دی تر ټولو مقتديانو په علم او قران کې ښه وي نو دده امامت مکروه نه دی او که دده مره عمر شوی وي چې اوس يې د ږيرې دراتلو هيله نشته نو دی اَمْرَدْ نه بلل کيږي «امداد الفتاوی ج۱ ص ۳۵۸».

دهلک دامامت مسئله

سوال: دکوم هلک عمر چې د۱۴۰۵ه ج درمضان په لومړۍ ورځ خورلس کاله اوپوولس میاشتې وي دهغه امامت جائزدی اوکه څنګه؟ جواب: مسئله داده چې که په هلک کې کومه بله نښه دبلوغ دمثال په ډول احتلام اوانزال ونه موندل شي نو دپنځلسو کلونو پرپوره کیدوشرعاً بالغ بلل کیږي نو دچا عمر چې دروژې په لومړۍ ورځ خورلس کاله اوپوولس میاشتې شي دهغه امامت په تراویح اووترو کې صحیح نه دی ځکه چې دامام ابوحنیفه رحمه الله صحیح مذهب همدغه دی چې دنابالغ امامت په فرضو، واجبو اونفلو کې صحیح نه دی خوکه دبلوغ کومه علامه په کې وموندل شي نوصحیح کیږي همدارنګه په څورلس کلن هلک پسې فرض اوتراویح هیڅ یوشی نه صحیح کیږي ترڅوپوره دپنځلسو کالونشي خوکه دڅورلس کلونو په عمردبلوغ علائم په کې پیداشوي وي اودی وایي چې زه بالغ شوی یم نوپه ده پسې امامت صحیح دی «فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۲۲۲ درد المحتار ج۱ ص ۵۳۹ باب الامامة په حواله»

دکوم عمرهلک تراویح ورکولای شي

سوال: دڅومره عمرهلک په تراویحو کې قران کریم اوررولای شي دیوه هلک نژدې شپاړس کاله پوره کیږي دی په تراویح کې قران کریم اوررولای شي اوکنه؟ ددغه هلک پرمخ ږیره اونورهیڅ شی نشته اوداسې هلک کوم چې دپنځلسو شپاړسو کالو وي هغه دمخ په صف کې دخلکو سره دریدلای شي اوکنه؟ جواب: که کومه بله علامه

دبلوغ مثلاً احتلام اونورپه هلک کې موجودنه وي نوشرعاً دپنځلسو کلونوپه پوره کيدودبلوغ حکم ورکول کيږي نود کوم هلک چې شپاړسم کال پيل شوی وي په هغه پسې تراويح اوفرض لمونځونه ټول صحيح دي که څه هم بې ږيرې وي دداسې عمرهلک دمخ په صف کې دريدلای شي اوديارلسم کلن او څورلس کلن امام نشي جوړيدلای خوپه تراويحو کې دفتحې ورکولوله امله دی دمخ په صف کې دريدلای شي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۴۷ »

دږيرې خريونکي حافظ امامت

سوال: کوم حافظ چې ږيره خريي په هغه پسې تراويح کول څنګه دي ؟ جواب: ږيره خريل حرام دي اوږيره خريونکی دشريعت له مخه فاسق دی ځکه داسې حافظ امام جوړول جائزنه دي په داسې امام پسې تراويح کول تحريمي مکروه دي « فتاوی رحيميه ج۱ ص ۳۵۳ دشامي ج۱ ص ۵۲۳ په حواله»

ترڅنګلې پورې دلاس پرې شوي امامت

سوال: ديوه حافظ لاس ترڅنګلې پورې پرې شوی په داسې حافظ پسې تراويح صحيح کيږي اوکنه ؟ جواب: په داسې حافظ پسې تراويح کول جائزدي مکروه نه دي «فتاوی رحيميه ج ۴ ص ۳۸۳ »

دفيشني حافظ امامت

سوال: ځينې حافظان موډيان اوفيشنيان وي جامې اونورشيان يې دشريعت مطابق نه وي دسرويښتان يې انګريزي جوړکړي وي اولوڅ سرګرځي نوآيا په داسې حافظانوپسې تراويح کولای شواوکنه ؟ جواب: که حافظ دخپلوناوړه عاداتوپرېښودلوعهدوکړي نودی

د تراویحو امام جوړیدلای شي او کنه نو بیا داسې شخص د امامت د منصب وړ نه دی او په دې وجه که لمونځ کونکي له ده خوابدي او خپه وي نو د هغوی خوابدیا به پر ځای وي په حدیث شریف کې راځي چې که په شرعي سبب سره څه لمونځ کونکي له امامه خوابدي وی نو په داسې امام پسې لمونځ نه قبلیږي که حافظ د خپل ژوند دول بدلولو ته چمتووي نو دی امام جوړیدلای شي او که نه د امامت پاک منصب دې ته سپارل په کار نه دي «فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۴۱۷ د درمختار ج ۱ ص ۵۲۲ په حواله»

د بد چلندي میرمنې په زوی پسې تراویح

سوال: یو حافظ صاحب ډیر خوش اوازه دلمانځه او روژې پابند او ښو اخلاقو څښتن دی قران کریم یې ښه یاد دی خو ولد الزنا (هرمونی) دی یعنی دیوې بد چلندې میرمنې زوی دی آیا دی امام جوړیدلای شي په ده پسې فرض لمونځ او تراویح کول جائز دي او که نه؟ جواب: که دا حافظ نیک، صالح او د معاشرت په لحاظ خوندي دی نو په ده پسې لمونځ جائز دی ولد الزنا والی په داسې صورت کې د کراهیت باعث نه دی «کفایت المفتي ج ۳ ص ۲۴

که د حافظ ږیره تریوه موټ کمه وي

سوال: زمونږ په ښار کې صرف یو حافظ د قران دی خو د هغه ږیره تر یوه موټ کمه ده څکه چې هغه ږیره لنډوي په ده پسې تراویح کول جائز دي او کنه؟ جواب: که تر ده غوره بل امام موندل کیدای شي نو دا کس بایدامام جوړ نه کړل شي ده ته دې د یوه موټ په اندازه د ږیرې

پرېښودلو وړاندېزوشي که يې ومنله نو امامت يې صحي دی «کفايت المفتي ج ۳ ص ۸۷»

په امدادالمفتيين کې دږيرې خريونکي ياپريکونکي په اړه ليکل شوي چې داسې شخص فاسق اوکلک ګنهګار دی دده امام جوړول جائزنه دی ځکه چې په ده پسې لمونځ مکروه تحريمي دی اودی داهانت مستحق دی اوپه امام جوړولو سره دده درناوی دی ځکه نودداسې شخص امام جوړول جائزنه دي «امدادالمفتيين ج۱ ص ۲۲۱ دشامي ج۱ ص ۲۲۱ باب الامامة په حواله»

په فتاوی دارالعلوم کې دامسئله داسې ليکل شوي په حديث شريف سره دږيرې پرېښودل اوزياتول اودبريتوکمول ثابت دي اودږيرې خريل ياکمول که ږيره له يوه مټ څخه زياته نه وه نوحرام دي کوم شخص چې تريوه مټ کمه ږيره خريي يايې پريکوي هغه فاسق دی اودفاسق امامت تحريمي مکروه دی په کوم چاکې چې ټول اعمال دشريعت موافق وي ليکن يوکاريې دشريعت خلاف وي هم فاسق دی هغه ته په کاردي چې ددې حرام کارڅخه توبه وباسي دږيرې خريل اوپريکول دې پرېږدي خوکه تريوه مټ زياته وي نودهغه وهل فقهاؤجائزليکلي «فتاوی دارالعلوم عزيزالفتاوی ج ۱ ص ۱۱۷»

داحتياط کونکي ړانده امامت

سوال: آيادنظرکمزوري دامامت مانع کيدلای شي ؟ جواب: فقهاؤکرامودداسې ړانده امامت کوم چې بې احتياطه اوله پليتي بچ نه شي ساتلی مکروه تنزيهي بللی خوداحکم عام نه دی بلکه په احتياط نه کونکي پورې خاص دی ځکه نوکوم ړوند چې احتياط

د تراويحو مسئلې

کونکی دی او له بلينې د ختم سانتې پوره اهتمام کوي پاک
او صفا وي هغه امامت بيله کراهيته روا دی د عائشې ﷺ بيان
دی چې رسول اکرم ﷺ د تبوک غزوې ته د تګ پرمهال حضرت عبدالله
بن ام مکتوم ﷺ کوم چې ړوند وو په نبوي مسجد کې د لمونځ
د کولو لپاره خپل ځای ناستی ټاکلی وو همدا رنګه حضرت عبدالله
بن عمير ﷺ سره له دی چې ړوند وو دبنی حطمه امام وو هغه فرمايي
چې زه د رسول اکرم ﷺ په مبارکه زمانه کې دبنی حطمه امام وم حال
دا چې زه ړوند وم «فتاوی رحيميه ج ۴ ص ۳۷۳»

د ړوند دبوي ستر ګي والا امامت جائز دی د کراهيت هيڅ لامل نه
دی «کفاية المفتی ج ۳ ص ۸۹»

تراويح وركونكی كه د شريعت پابند نه وي نو...

سوال دلاندې صفاتو خښتن حافظ پسې تراويح کول صحيح دي
او که نه بلکې سنت په خلاف ږيره درلودونکي پسې ۲ په دولتي
مامورين د مکتب (سکول) په استاذ پسې ۳ د اسې دکاندار چې
سود ورکوي او په ناروا طريقه تجارت کوي نو په ده پسې تراويح
کول صحيح دي او که جواب د سنت په خلاف ږيره درلودونکي
سود ورکوونکي او په ناروا طريقه تجارت کونکي د امامت وړ
دی په ده پسې لمونځ مکروه دی خو که په حاضرينو کې کوم
شخص د اسې نه وي نو ښوا زي لمونځ کول په ځای په د اسې امام
پسې لمونځ کول په کار دي ځکه چې د جماعت درلودلو فضيلت
لوی دی «فتاوی رحيميه ج ۳ ص ۸۴»

که حافظ دلمانځه پابندي کونکی نه وي نو څه حکم دی

سوال ۱ يو حافظ خو قران کريم صحيح وايي خو دلمانځه پابند نه دی په داسې حافظ پسې د هغو خلکو تراويح کول کوم چې دلمانځه پابندوي بيله کراهيته کيږي او که سره له کراهيته ؟۲ که ديو حافظ په داسې وي چې سين په شين وايي جيم په ز، يا ذ سره وايي له کوښښه سره يې په صحي لوستلو قادر نه دی نو په داسې حافظ پسې د هغو خلکو تراويح صحيح کيږي او کنه کوم چې قران صحيح لولي ؟ جواب: ۱ په توبه کښلو سره کراهيت ختميږي ځکه چې د کراهيت علت فسق دی او په توبه کښلو سره فسق زائليږي ۲ دا حقر په نزد په فرضو او وترو کې د نه جواز حکم ډير احتياط لري او په تراويحو کې د جواز حکم ښه پراخ دی «امداد الفتاوی ج ۱ ص ۹۵»

دمعذور حافظ امامت

سوال: حافظ که دعذر له کبله په ناسته تراويح ورکوي نو مقتديان به څنګه کوي ؟ جواب: که چيرې حافظ صاحب دعذر په وجه په ناسته تراويح ورکوي او مقتديان ولاړ وي نو ځينو فقهاؤ ويلي چې د ټولو په نزد لمونځ صحيح کيږي او ځينو ويلي چې د مقتديانو کښيناستل مستحب دي ترڅو دامام پيروي پرځای او د مخالفت صورت پاتـه نـشي د واړه صورتونه روا دي «ترجمه فتاوی عالمګيري ج ۱ ص ۱۸۹

پر دوو حافظانو پسې د تراويح کولو حکم

سوال دوه حافظان په ګډه تراويح ورکوي په لسور کعتو کې يو حافظ پاو باندې باره او په نورو لسو رکعتونو کې بل حافظ پاو باندې سپاره وايي آيا په لمانځه کې خو به خلل نه راځي ؟ جواب: له يوه

قران ښخه به زيات نه وايي ترڅو د خلکو شوق معلوم شوي نه وي تراويح صحيح کيږي په دې شرط چې مقتديانو ته ګراني نه وي «مظاهر حق نوی ترتيب»

دغير مقلد امامت

سوال: که امام غير مقلد وي او تراويح د شلو رکعتو نو پرځای اته رکعته ورکوي نو حنفيان به څرنګه پاتې تراويح پوره کوي آيا د امام سره تر وتر وکولو وروسته به پاتې پوره کوي او که تر وتر و مخکې؟ جواب: پاتې تراويح تر وترو وروسته کولای شي او د اسې هم کولای شي چې وتر د امام سره ونه کړي تر پاتې تراويح کولو وروسته وتر وکړي «فتاوی دار العلوم ج ۴ ص ۲۷۴ دهدايه ۱ ص ۱۳۴ باب النوافل، فصل قيام رمضان په حواله».

چاچې دلماختن لمونځ نه وي کړی دهغه امامت

سوال: دلماختن جمع وشوه تر دې وروسته چې کله دتراويحو جماعت پيل کيدی نو حافظ بې دلماختن له فرض اداکولو د تراويحو ورکولو لپاره و دريدی او دوه رکعته تراويح يې ورکړې له مقتديانو ښخه ځينو نيو که ورباندې وکړه نو حافظ صاحب لرې کړل شو تردې وروسته دامام په اقتداء پاتې تراويح اداکړل شوې د پوښتنې ورخبره داده چې د مقتديانو لومړني دوه رکعته صحيح شول او کنه که چيرې صحيح شوي نه وي نو آيا دهغوی راګرځول ضروري دي؟ جواب: په مسئوله صورت کې د تراويحو دوه رکعتونه راګرځول وروو ځکه چې تراويح دلماختن تر لمانځه وروسته دي نه مخکې په هماغه وخت کې يې اعاده کول مناسب وو که اعاده ونه

کړل شوه نووروسته دسهار ترسپيدو مخکې يوازې راګرځيدلا ی شوای اوس وخت تيرشو قضاء يې نشته استغفارووايا ست او په دغو دوورکعتونوکې چې څومره قران ويل شوی وو که موراګرځولی نه وی نوبلـه ورځ يـې راوګـرزوئ «فتـاوی رحيميـه ج ۴ ص ۳۸۵ دکبيري مخ ۳۸۵ په حواله»

په نارينه پسې دښځو اقتداء

سوال: که کوم امام فرض لمونځ ياتراويح ورکوي او ميرمنې دکومې پردې ياديوال شاته پرځه واتن اقتداء وکړي نو دښځو لمونځ روادی که ناروا؟ اوداما م په لمانځ کې خوبه څه خلل نه راځي؟ جواب: ددغو ميرمنو لمونځ صحيح دی «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۷۲»

دميرمنو دتراويح جماعت

سـوال: يوڅـو ميرمنې دقـران حافظـانې دي داغـواړي چـې پـه تراويحو کې قران مجيد په خپل جماعت سره ختم کړي ددوی دافعل څرنګه دی همدارازداخترونو لمونځ هم يوڅو ميرمنې په جمع کولای شي او کنـه آيا ښـځه دښـځو امامه جوړيـدلای شـي او کنـه؟ جـواب: دميرمنو جماعت په دې دول چې ميرمن يې امامه وي مکروه دی که دتراويحو جمـاعـت وی يادبـل لمانځـه پـه ټولـو کې دميرمنو امامـت دميرمنو لپـــاره مکـــروه دی «فتـــاوی دارالعلـــوم ج ۴ ص ۲۷۲ دردالمحتارج ۱ ص ۵۲۸ باب الامامة په حواله»

يادونـه: دمولاناعبـدالحی رحمة الله عليه دميرمنو دجماعـت پـه اړه داسـې فتـواده چې پـه تراويحـو کې کـه ښـځه صـرف دښـځو امامت وکړي نوجائزدی که کومه ميرمن حافظه وي اودهيريدلو انديښنه يې وي

نو دمولانا عبدالحی رحمه الله دفتوی دعملي کولو ګنجائش شته له دې ماسوا دمیر منې دجماعت لمونځ نه کوی.
«مرتب محمد رفعت قاسمي»

دحافظ قران کريم چټک ويل

سوال: ځينې حافظان په تراويحو کې دومره تيز قران کريم وايي چې له يعلمون او تعلمون پرته نور هيڅ نه فهميږي او ځينې مقتديان هم همداسې په بيړه دقران ويل دتراويح دزر ختميدو له امله خوښوي ددې دواړو حکم څه دی؟ جواب: په درمختار کې راغلي چې ويجتنب المنکرات يعنی په قران کې دې له منکراتو څخه ځان وژغوري يعنی قران دې پېړه تلوارنه وايي همدارازد اعوذبالله او بسم الله اوله اطمينان پرېښودو څخه دې ډډه وکړي له دې څخه معلومه شوه چې داسې ويل منکر کاردی کوم چې دثواب پرځای دګناه سبب دی «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۷ د درمختار ج ۱ ص ۶۶۳ مبحث التراويح په حواله»

درکعتونو په شمیر کې داختلاف واقع کيدو حکم

سوال: درکعتونو دشمير په اړه دمقتديانو ترمنځ اختلاف شو ځينې وايي چې اتلس وشول او ځينې وايي شل نو اوس دچا قول معتبر دی؟
جواب: دتراويح امام چې پرکوم طرف وي دهغه ډلې قول معتبر دی او که ټول شکمن شي نو دوه رکعته دنورو کړل شي خو په جماعت سره نه بلکه جلا جلا «فتاوی رحيميه ج ۱ ص ۳۵۵»
په فتاوی محموديه کې راغلي: که چيرې ټول لمونځ کونکي او امام شکمن وي چې اتلس رکعته تراويح وشوې او که شل پوره شوې

نودوه ركعته د بيله جماعت نورو كړل شي كه چيرې ټول مقتديان خوشكمن وو اما امام ته شك نه وو نو ددى په خپل يقين عمل وكړي دمقتديانو ويناته دهيڅ اعتبار نه وركوي او كه ځينې وايى: چې شل پوره شول او ځينې وايي نه بلكه اتلس وشول نو كوم طرف ته چې دامام رجحان وي هغه دې عملي كړي« فتاوى محموديه ج ۲ ص ۲۵۳

په تهجد كې دتراويحو د څو ركعتونو كولو حكم

سوال: كه حافظ شپاړس ركعته تراويح وركړې څلور ركعته يې هغه وخت ورنكړي او هغه كوم بل چا وركړي بيا حافظ څلور ركعته په تهجد كې په جماعت سره وركړې نو جائزدي او كنه؟ همدارازچې حافظ صاحب خوپه خپله دتراويح نيت وكړى اونور مقتديان دتهجد يا هغوى هم پاتې څلور ركعته دتراويحو په نيت وكړي نو جائزدي او كنه؟ په تيره بيا چې دراغونديدو لپاره بلنه وركوي؟
جواب: تراويح يې كه څلور ركعته پريښودې او دشپې په پاى كې يې هغه په جماعت وكړې نو صحيح دي ځكه چې دتراويحو وخت له ماخستنه دسهارترسپيدوپورې وي پرته له تراويحو نورنفلونه په تداعى يعنې تردريو څلوروزياتوګړو جماعت صحيح نه دى همدارازدتهجد جماعت هم مكروه دى «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۲۸۴ ددرمختارج ۱ ص ۷۲۳ باب الوتروالنوافل او ص ۷۵۹ مبحث التراويح په حواله»

كه خداى ﷻ مه كړه حافظ په تراويحو كې وفات شي

سوال: كه چيرې حافظ صاحب په تراويحو كې وفات شي نو مقتديان به څرنګه لمونځ پوره كوي؟ جواب: هغه لمونځ فاسد شو بيا به بل

امام له سره لمونځ ورکوی «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۷۰ دردالمحتار نوک ۱ مخ ۵۵۲ باب الامامة په حواله»

حافظ په تراویحو کې قران پریږدي

سوال: که حافظ په تراویحو کې دقران شریف اورول پیل کړي خو په کومه وجه یې په مینځ کې یوه دوې ورځې ونه وایي مثلا ترلسو پاروپورې ووایي اوتردې وروسته یې بل حافظ ترپنځلسو پاروپورې ووایي نواوس به مخکنی حافظ له یوولسمې سپارې پیل کوي که به له شپاړسمې شروع کوي؟ جواب: کله چې لومړی حافظ لس پارې ولولي اوبیادوهم ترپنځلسو وویلې نولومړی حافظ چې کله راشي نودهغه خوښه ده که له شپاړسمې شروع کوي اوکه له یوولسمې خودخپل قران پوره کولو لپاره غوره داده چې له یوولسمې شروع وکړي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۵»

دلمانځه لپاره دامام دیوخاص سړي انتظار کول

سوال: کوم امام چې داسې وي چې ترڅو مسجدته یو یادوه ځانګړي کسان رانشي که څه هم دلمانځه تاکلی وخت تیرشي اولمونځ هم وځنډیږي خودی دخپلې دنیاوي ګټې په خاطر یاداړیکوله کبله ددغوخلکو انتظار کوي نوپه داسې امام پسې لمونځ کول څرنګه دي؟ جواب: که چیرې ددنیاپه وجه دکوم دین دارر ئیس انتظار کوي اوحاضرینو مراعت نه ساتي نوامام اومکبر یعنی اقامت کونکی دواړه ګنهګاردي مګرلمونځ پسې کیږي «فتاوی رشیدیه کامل ص ۲۸۸».

دخپل ځان لپاره دجماعت ځنډول

سوال: که کوم متولی (دمسجد تصرف کونکی) یاخادم دمسجداونوردااووایي چې ترڅومونږمسجدته درنه شوجماعت دنه دریږي نودداسې شخص په اړه شرعي حکم څه دی ؟ جواب: داسې متولي چې دځان لپاره دځنډیدوتاکید کوي هغه ګنهګاردی اوداسې وګړوته انتظارهم صحیح نه دی هو ! عامو مسلمانانوته انتظارصحیح دی په دې شرط چې نوروحاضرینوته به تکلیف نه رسیږي اووخت مکروهه به نه داخلیږي خودرئیس یاشتمنودنیاداروانتظار دنه کوي چې ټول پروخت راشي یازیاتره راشي نولمونځ دې وکړي «فتاوی رشیدیه کامل مخ ۲۸۷»

دتحریمې صحیح الفاظ څه دي

ځینې امامان په تکبیر ویلوکې له ډیرې بې احتیاطی اودالله اکبرویلوپرځای الله اکبار وایي یعنی دبااوراترمینځ الف زیاتوي همدارنګه ځیني امامان دالله دلفظ په شروع کې مد کوي اوآلله اکبر وایي دادواړه صورتونه یومخ غلط دی اوپه دغودواړوصورتونوکې لمونځ فاسدیږي اوکه په تکبیرتحریمه کې یې داسې وویل نودلمانځه پیل کول هم نه صحیح کیږي «مسائل سجده سهوه ۷۳ مخ دصغیري په حواله»

امام ته تکبیرات ویل څنګه په کاردي

زیاتره امامان لیدل کیږی چې دلمونځ ورکولوپرمهال انتقالیه تکبیرات دانتقال په حالت کې نه وایي بلکه کله له نقل کیدووروسته تکبیروایي اوکله بل رکن ته تررسیدومخکې تکبیرختم کړي دمثال

په توګه له ولاړې څخه رکوع ته ځي نو ځينې امامان
ترټيټيدو وروسته الله اکبر وايي او ځينې امامان دومره لنډ الله
اکبر وايي چې رکوع ته په پوره ډول رسيدو مخکې مخکې دالله
اکبر آواز ختم شي همدارنګه سجدې ته دتلو پرمهال او له سجدې څخه
دوهم رکعت ته دولاړيدو په وخت هم همدا عمل کوي دیادونې وړده
چې په دغو دواړو صورتونو کې تکبير په سنت طريقه ادا نشو پوره
سنت هغه وخت اداکيږي چې کله له يوه رکن څخه بل رکن ته دنقل
کيدو سره سره تکبير پيل کړی او څنګه چې دوهم رکن ته ورشي
دتکبير آواز بند شي او ځينې امامان الله اکبر داډول کشوي چې دوهم
رکن ته ررسيدو وروسته هم ترڅه وخته ددوی دتکبير او از اوريدل
کيږي په دومره اندازه تکبير کشول مکروه دي «مسائل سجده بسهو
ص۷۱ دکبيري ص ۳۱۳ په حواله»

دوهم باب

تراويح په کورکې فضيلت لري او که په مسجد کښې

سوال: دتراويحو لمونځ په کورکې ښه دی که په مسجد کې ؟ جواب:
دامام ابو حنيفه رحمه الله ،امام شافعي رحمه الله او زياتره شوافعو او ځينې
مالکي علماؤ اتفاقي مسلک دی چې دتراويحو لمونځ په مسجد کې
کول افضل دي لکه چې اميرالمومنين عمر فاروق رضی الله عنه او ترهغه
وروسته نورو اصحابو کرامو رضی الله عنهم په مسجد کې تراويح کول مقرر کړې
دي او بيا پردې دټولو مسلمانانو تل عمل راغلی ځکه چې
دتراويحو لمونځ ددين شعاردی او دا خترلمانځه ته ورته والی لري
«مظاهر حق نوی ترتيب ۱۴»

ټولې تراويح داحنافوپه نزد شل رکعته دي او هغه په جماعت سره اداکول سنت دي که چیرې ټول محلې والایاکلیوال تراویح پریږدي نوپرټولو دسنت دپريښودلو اوبال شته.
که چیرې زیاتره محلې والایاکلیوال خوپه جماعت سره تراویح وکړي خواتفاقاً یوه یادوو کسانوپه جماعت ونکړې بلکه په کوزکې یې یوازې وکړې بیاهم سنت اداشول «فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۵۰ دکبیري ص ۳۸۴ په حواله»

په کوم مسجدکې تراویح فضیلت لري

سوال: دتراويحولمونځ په کوم مسجدکې کول افضل دي ځکه چې نژدې جامع مسجدهم شته کله چې په جامع مسجدکې لمونځ کول زيات افضل ښودل شوي دي ؟ ځواب: په درالمختارکې راغلي چې دمحلې مسجددمحلې والاپه حق کې دجامع مسجدڅخه افضل دی اوشامي هم داليکلي لان له حقاعليه فليؤده» يعنی پرمحلې والودمحلې دمسجدحق دی دهغه اداکول په کاردي «درمختارج ۱ ص ۲۱۷»

دمحلې دمسجدحق

سوال: زمونږ دمحلې په مسجدکې تراته رکعته تراويحوپورې لمونځ کونکي وي بیاکمیدل پیل شي نوکه مونږدامسجد پریږدو په بل مسجدکې تراویح اداکوونوڅنګه دي څه قباحت خوبه نه لري ؟ جواب دمحلې په مسجدکې شل رکعته تراويح په جماعت سره کیدل ضروري دي ځکه نوتاسوته په خپل مسجدکې تراویح کول په کاردی که څه هم لمونځ کونکي لږوي که دمحلې په مسجدکې تراويح ونه

شوې نو بيا گنهگاريږي «فتاوى رحيميه ج۱ ص ۳۴۹ د شامي ج۱ ص ۷۲۰ په حواله»

آيا خپل مسجد پرېښودلای شو

سوال: که چيرې په بل مسجد کې ښه قران ويونکی حافظ وي نو آيا هغه اوريدو ته ورتلای شو؟ جواب: که د محلې د مسجد امام قران غلط وايي نو د خپل مسجد پرېښودل او په بل مسجد کې تراويح کول هيڅ پروانه لري همدغه حکم په هغه صورت کې دی کله چې دوهم حافظ په قرائت کې نرم او په آواز کې ښه وي او که دده په محله کې ختم نه کيدی نو دده لپاره د خپل مسجد پرېښودل او د بل مسجد لټه کول په کار دي «ترجمه فتاوى عالمگيري ج۱ ص ۱۸۲، که د خپل مسجد امام د قران کريم ختم نه کوي نو بيا په کوم بل مسجد کې چيرې چې ختم وي تراويح کول هيڅ پروانه لري ځکه چې د ختم سنت هلته حاصليږي «فتاوى محموديه ج۲ ص ۲۵۵».

د مسجد پر بام تراويح کول

سوال: زمونږ په مسجد کې د گرمۍ په موسم کې د لماخستن لمونځ، تراويح او نور د مسجد پر چت کيږي په مسجد کې دننه نه کيږي دده شرعي حکم څه دی؟ جواب: د گرمۍ له امله د ننه مسجد يا غولی د مسجد پرېښودل پر بام د لماخستن، تراويحو او نورو لمونځونو کول مکروه دي هو ا څوک چې دننه په مسجد او د مسجد په انگړ کې ځای ونه مومي که هغوئ سر بيره لمونځ وکړي نو بيله کراهته روا دی ځکه چې د امجبوري ده پر کعبه شريفه سر بيره لمونځ کول د بې ادبی او سپکاوي له امله مکروه دي هو ا که د و د انولو او ترميم په خاطر

ختل وي نو مکروه نه دي همدارنګه که مسجد وي د هغه پرچت ختل مکروه دي او پر همدې بنسټ دا هم مکروه دي د ګرمۍ د سختۍ له کبله پرچت جماعت مه کوئ مګر که چيرې په مسجد کې ځای نه وي نو ددې مجبوريت په وجه پرچت ختل نه مکروه کيږي په هرحال د ګرمۍ سختي اړتيا او مجبوريت نه بلل کيږي ځکه چې له ګرمۍ څخه يو څه تکليف پيدا کيږي او کله چې مشقت او تکليف زيات شئ اجر او ثواب هم زياتيږي نو دې ته مجبوريت نشي ويل کيدای په فتاوی عالمګيري پنځم ټوک ص ۳۲۲ کې راغلي چې دټولو مسجدونو په بامولمونځ کول مکروه دي که چيرې مسجد تنګ وي او دلمونځ کونکيو لپاره پراخي نه وي نو داړتيا له کبله پورته ختل مکروه نه دي په ګرمۍ کې د مسجد په صحن (غولي) کې په جماعت لمونځ کول بې له څه پروا صحيح دی که کوم ځای د مسجد غولی له مسجد څخه وتلی وو نو د مسجد بانی که هغه نه وه نو د مسجد خلک دې د هغه په مسجد د ګډولو لپاره ګامونه پورته کړي ترڅو هغه ځای هم په مسجد کې داخل شي بيا نو پر هغه هم د مسجد ټول احکام جاري کيږي «فتاوی رحيميه ج ۳ ص ۳۱ د کبيري ص ۳۹۲ په حواله او مجموعه فتاوی سعديه ص ۱۴۸»

په دوکانو کې د تراويحو کول

سوال: د بازار خلک صرف د خپلې دندې د زيان له ويرې په دوکانو کې جلاجلا د تراويح جماعت کوي د دوی دا فعل څنګه دی؟ جواب: تراويح په مسجد کې کول او د ختم تراويح په مسجدونو کې او ريدل سنت دي بې له عذره مسجد ته نه تلل او په دوکانو کې تراويح کول

د سنتو ترک دی «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۷۹ د درالمختار ج ۱ ص ۷۲۰ مبحث التراویح په حواله»

په کورکې تراویح په جماعت کول

سوال: د تراویحو لمونځ په کورکې په جمع او مسجد ته نه تلل څرنګه دي ؟ جواب: که څوک داسې جماعت وکړي چې د مسجد جماعت ته ضرر ونه رسیږي صحیح دی لیکن داخلک به د مسجد له فضیلت څخه بې برخې وي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۱ د درمختار ج ۱ ص ۶۶۰ او شامي ج ۱ ص ۵۲۱ په حواله»

د لماخستن لمونځ په مسجد کې او تراویح په کورکې کول

سوال: د لماخستن لمونځ په جماعت سره کونکی که تراویح په کورکې وکړي نو ګنهګاردی او کنه ؟ جواب: تراویح په جماعت سره سنت مؤکد کفائی دي که د محلې یا کلي په مسجد کې تراویح په جماعت سره کیدې او کوم شخص په کورکې یوازې تراویح اداکړې نو نه ګنګاریږي خو د جماعت له فضیلته بې برخې کیږي «فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۴۹ د درمختار مع شامی ج ۱ ص ۶۶۰ په حواله»

دیوه حافظ څوځایه ختم کول

سوال: ځینې حافظان په پنځه اووه ورځې کې په یوه مسجد کې قران کریم په تراویحو کې ختم کړي په بل مسجد کې بل ختم په تراویحو کې کوي دا کار صحیح دی که څنګه ؟ او د دوهم مسجد والو تراویح کیږي او که څنګه ؟ حافظان او ځینې عالمان دې ته جواز ورکوي او ځینې وایي چې د حافظ یو ختم کول سنت دي دوهم ختم نفل دی او د مقتدیانو ختم سنت دی نو د سنت کونکیو لمونځ په

نفل کونکي پسې څنګه کیږي جواب:په یوه مسجد کې په پنځه اووه ورځې کې ترختم کولو وروسته په بل کې دحافظانو ختم کول صحیح دي او دوهم مسجد والاو وتراویح صحیح دي ځکه چې دتراویح لمونځ په ټول رمضان کې مؤکد سنت دی نو په دوهم مسجد کې چې حافظ صاحب کومې تراویح ورکړې هغه هم سنت مؤکده شوې او دمقتدیانو تراویح هم سنت مؤکده شوې ځکه ددوارو لمونځ یو شو پرته له دې په نفل کونکي پسې سنت هم صحیح کیږي او دا شبه غلطه ده چې دقران کریم یو ځل ختمول سنت مؤکد دي دوهم او دریم ختم نفل دی ځکه چې دامام لمونځ سنت مؤکد دی دختم له سنت کیدو څخه هغه لمونځ له سنت کیدو خارج نه شو او دمقتدیانو په لمونځو کې هیڅ نقصان رانغلی خو افضل او غوره په دې زمانه کې دادي چې حافظ امام تریو ختم زیات په تراویحو کې ونه وایي ترڅو مقتدیانو ته په تراویحو کې شرکت کول ستونزمن نه شي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۹۳ ددرمختار ج ۱ ص ۶۶۲ په حواله»

دتراویحو دوه جماعتونه کول

سوال:دحافظانو دډیربښت له کبله ترڅو ددوی قران په یادوي ددې مقصد لپاره مونږ درمضان المبارک په میاشت کې دامعمول جوړ کړی چې دلماخستن لمونځ مونږ ټول دمحلې په مسجد کې په جماعت اداکوو تردې وروسته یو څه حافظان دمدرسې په ودانۍ کې تراویح ورکوي چیرې چې لږ لمونځ کونکي نور هم ورسره شاملیږي او پاتې حافظان هم دلته په مسجد کې تراویح ورکوي دپوښتنې ځای داده چې دقران دخوندي کولو په نیت په دې ډول دتراویحو دوه جماعتونه

جوړول څنګه دي؟ جواب: په بيان شوي سوال کې له جماعته پاتيدل
اوشاته کيدل مقصد نه دي د دې په وجه داصورت جائزدی منع نه دی
په مدرسه کې په جماعت سره کولو خو به د جماعت ثواب وموندل شي
امادمسجد فضيلت نه حاصليږي د دې جبران د قران د حفاظت په
مقصد سره انشاالله پوره کيږي «فتاوی رحيميه ج ۴ ص ۴۱۵»

په يوه مسجد کې د دوو حافظانو تراويح ورکول

سوال: په پاني پت کرنال کې دا دود اورواج دی چې دوه حافظان په
تراويحو کې قران کريم وايي په لسو رکعتونو کې يو حافظ او په
لسو کې بل دا رنګه کول څنګه دي؟ جواب: د پاني پت د رواج په رنګه
دلته هم په ځينې مسجدونو کې داسې کيږي داهم جائزدي که دوه
حافظان تراويح ورکوي نو مستحب دادی چې هريو حافظ ترترويحه
پوره کولو وروسته بيل شي که يو حافظ بيله ترويحې پوره کولو سلام
وګرزوي مثلاً ترشپږيالس رکعته وروسته راشاته شو نو دا ښه نه دي
«فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۵ وترجمه فتاوی عالمګيري ج ۱ ص
۱۸۲»

د څو حافظانو په ګډه تراويح ورکول

سوال: زمونږ په مسجد کې څلور حافظان په ګډه تراويح ورکوي اول
حافظ څلور رکعته ورکوي دوهم حافظ اته رکعته ورکوي دريم
څلور څلور رکعته ورکوي داسې کول صحيح دي که څنګه؟ جواب:
غوره داده چې يو حافظ يا دوه حافظان په ګډه تراويح ورکړي که
داسې جيدا وهمتناکه نه وو او څو حافظان تراويح ورکړي نو داهم

صحیح دي تراویح صحیح کیږي «فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۳۸۹ دعالمګیري ج۱ ص ۲۴ په حواله»

لس لس رکعته په دوو مسجدونو کې ورکول څنګه دي

سوال: په یوه منسجد کې خطیب امام مقرردی تراویح په دې ډول ورکوي چې دلماخستن فرض بل ثوک ورکوي او دتراویحو په لسو رکعتونو کې پاؤبانډې سیپاره حافظ وایي پاتې تراویح په نورو سورتونو له جماعت والو څخه یو شخص ورکوي تردې وروسته حافظ بل مسجد ته لاړشي همغه پاؤباندې پاره په لسو رکعتو تراویح کې وایي داصورت جائزدی او که څنګه ؟ جواب: دعالمګیري له روایت څخه معلومیږي چې لس لس رکعته تراویح په دوو مسجدونو کې ورکول صحیح دي خو دقران کریم په ختم اجرت اومعاوضه صحیح نه ده «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۲۱ دعالمګیري ج۱ ص۲۲۲ فصل فی التراویح په حواله»

په یوه مسجد کې دوهم جماعت

سوال: دتراویحو اوو ترو جماعت وشو څه خلک وروسته راغلل نودوهم جماعت وکړي او که نه ؟ جواب: دوهم جماعت دې په دغه مسجد کښې نه کوي دلیل ددې دادی چې په یوه مسجد کې دتراویحو په څو جماعتونو کولو هغه حالت رامنځته کیږي له کوم څخه دبچ کیدو لپاره چې دوهم خلیفه عمرفاروق ﷺ متفرق لمونځ کونکي دیوه امام په اقتداء کې راغونډ کړي ؤ په یوه مسجد کې دمتعددو جماعتونو لړۍ دعمرفاروق ﷺ دارشاد مطابق له غورې

طریقې خلاف ده «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۳۰۰ د کبیري ص ۳۸۳ په حواله»
په کوم مسجد کې چې یو ځل تراویح وشي نو په همدغه شپه کې هلته د تراویحو دوهم جماعت کول جائزنه دي خو یوازې یوازې کول صحیح دي «فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۵۰»

په یوه مسجد کې دوه ځایه تراویح

سوال: که په یوه مسجد کې دوه حافظان جلا جلا تراویح وکړي په مینځ کې دیوال یا کومه بله داسې پرده وي چې ورځخه د یو بل اوازته حرج نه پیښیږي نو دا جائز دي او که نه؟ جواب: په مسجد کې دوه ځایه تراویح ورکول په دې شرط چې د نفسانیت په وجه نه وي او یو بل ته حرج نه وي جائز دي مګر افضل همدغه ده چې په یوه امام پسې ټول لمونځ وکړي «امدادالفتاوی ج ۱ ص ۴۲۹»

په تراویحو کې تر یوه ختم زیات ویل څنګه دي

سوال: په تراویحو کې چې کوم حافظ دوه درې ختمه کوي دا څرنګه دي؟ سنت مؤکده خو صرف یو ختم دی د نورو به حکم څه وي همدا رنګه که یو حافظ په څو مسجدونو کې ختم کوي نو څه حکم به وي او نورو مسجدوالاو ته د ختم ثواب شته او کنه؟ جواب: په درمختار کې دي چې یو ځل ختم سنت دی دوهم ځل فضیلت دی او درې واړه غوره دي او په بل مسجد کې دوهم ختم صحیح دی دوهم مسجدوالو ته د سنت ختم ثواب ورکول کیږي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۷۴ د درمختار ج ۱ ص ۲۲۲ باب الوتر والنوافل مبحث فی التراویح په حواله»

په تراويحو کې د قران د اوريدو ثواب ور کول کيږي او کنه ؟

سوال: زيد وايي چې په تراويحو کې دوه شيان دي اول قرائت کوم چې فرض دی دوهم مؤکد سنت کله چې په تراويحو کې قران کريم وويل شو نو له دواړو شيانو څخه صرف ديوه شي ثواب حاصل شو يعني که يې د سنت مؤکده ثواب حاصل کړ نو د قرائت له ثوابه بې برخې شو ترتراويحو وروسته دې په همدغه وخت په يو چا قران کريم ولولي په خپله دې و اوري ترڅو دواړه ثوابه حاصل شي ځواب: د زيد داوينا غلطه ده په تراويحو کې د قران کريم په ويلو ويونکو او اوريدونکو ته هم د قران ثواب ور کول کيږي «فتاوی دار العلوم ج ۴ ص ۲۴۹»

ديوه شخص په مراعات د تيرې ورځې قران کريم را گرځول ځنگه دي

سوال: حافظ د کوم چاپه رعايت د قران کريم ترتيب پوره کړی دا معنی چې که کوم شخص په تراويخو کې د قران کريم له اوريد و څخه بې برخې شو نو بيا هغه دوهمه ورځ په شل رکعته کې ويل ځنگه دي ؟ کله چې مقتديانو ته بوج او تکليف او وخت تنگ وي حافظ د داسې چازياتره مراعت کوي نو په داسې حافظ پسې لمونځ روا دی کنه ؟

جواب: لمونځ خو په ده پسې روا دی اما په خپله دا کار چې ديوه شخص رعايت وکړي او نورو ته تکليف جوړوي تحريمي مکروه دی خو که هغه شخص فسادي وي چې له هغه څخه د زيان رسولو انديښنه وي نو مکروه نه دي «امداد الفتاوی ج ۱ ص ۴۸۹»

دریم باب
سماع
دسماع اجرت

سوال: دقران دسماعت (اوریدلو) په اجرت اوویلو په اجرت کې څه فرق دی لومړی ولې رواا ودوهم ولې ناروادی ؟ جواب: دقران کریم داوریدوغرض دادی چې چیرې له حافظ څخه هیرشي هلته یې سامع وروښیي نو داتعلیم دی اوپه تعلیم داجرت اخستل جائزدي په خلاف داورولوچې په هغه کې تعلیم مقصدنه دی «وګوری امدادالفتاوی ج ۱ ص ۴۹۲»

بیله سامع قران کریم ویل

سوال: دروژې په میاشت کې په تراویحو کې بیله سامع دقران شریف ویل جائزدي اوکنه ؟ جواب: که دحافظ قران کریم ښه پوخ وي نو بیله سامع ویل هم صحیح دي که چیرې هیریاشک شونو ترسلام ګرزولووروسته دوګوري که کومه غلطي وي نو بیرته یې دراوګرزوي خوغوره داده چې سامع وي ترڅوډاډمن وي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۴»

حافظ ته فتحه څوک ورکړي

سوال: که حافظ په تراویحو کې غلط شي اوسامع یې په ښه ډول نشي وربښودلای نو که له دوهم یادریم صف څخه کوم بل څوک فتحه ورکړي نوڅه پروالري ؟ حافظ صاحب وایي که فتحه راکوي نو په اول صف کې دریږه نو که ناوخته راتلونکی حافظ په لومړي صف کې ځای

ونه موند نو آيا هغه د فتحې ور کولو حق لري او کنه.؟ جواب: که چيرې سامع مقرروي نو هغه ته په کار دي چې غلطي ورو ښيي کوم بل چا ته بيره کول نه دي په کار له دې څخه په لمانځه کې انتشار او کړکيچ رامنځته کيږي خو که هغه يې ورونشي ښودلای يا يې سم ورونه ښيي نو اوس چې يې هر څوک صحيح ور ښودلای شي پر هغه غلطي اصلاح کول فرض دي په هر صف کې چې ولاړوي که لري وي او که نږدې پر هغه فرض ده چې د غلطۍ اصلاح وکړي که اصلاح نه کوي نو ګنهګاريږي خو دا ضروري ده چې په لمانځه کې له حافظ سره شريک وي که په اول صف کې وي او که په کوم بل صف کې او که په لمانځه کې شريک نه وي هغه که غلطي ورو ښود له او امام د هغه په ښودلو غلطي اصلاح کړه نو لمونځ فاسديږي «فتاوی رحيميه ج ۳ ص ۸۴».

کوچنی سامع به چيرې دريږي

سوال: سامع که کوچنی وي نو آيا هغه په اول صف کې درولای شو؟
جواب: ديارلس کلن امام نشي جوړيدای که بالغ نه وي خو په تراويحو کې د ښودلو لپاره هغه په اول صف کې درولای شي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۴۷».

آيا سامع د حافظ په برابري درولای شو

سوال: په تراويحو کې که حافظ او سامع په برابري ودريږي که حافظ د سماع عذروي او کنه وي داسې څنګه دي؟ جواب: که څه رتياوی مثلاً له ليرې څخه حافظ صاحب د سامع په ښودلو نه

پوهیږي نو په برابري کې دریدل صحیح دي او بې له ارتیا شه نه دي
«فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۹۵»

قران کریم ته په کتو سماعت کول

سوال: په رمضان المبارک کې حافظ تراویح ورکوي نو یو سړي قران کریم پرانستی ناست وي او نږدې مقتدي ته یې نیولی وي هغه قران ته په کتو فتحه ورکوی او قران شریف نیونکی په جماعت کې شریک نه وي کله چې حافظ صاحب ددوهم رکعت رکوع کوي نو ور سره شریک شي او یو رکعت تر سلام وروسته راوګرزوي په دې ډول لمونځ فاسدیږی او که نه؟ جواب: په درمختار کې راغلي چې په لمانځه کې قران شریف ته په کتو ویل یا اوریدل په دواړه صورتونو کې لمونځ فاسدیږي نو دغه صورت چې په پوښتنه کې ترې یادونه وشوه په دې صورت کې هم دلمانځه دفاسیدیدو اندېښنه ده ځکه دارنګه کول نه دي په کار «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۶۸ درمختار ج ۱ ص ۵۸۳ باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها په حواله»

دهیریدو له امله چوپه خوله فکر او سوچ کول څرنګه دي

سوال: ځینې حافظان چې قران کریم وایي ورځینې هیرشي نو بیا خاموش ولاړ فکر کوي کله په ناسته کې تر التحیاتو مخته یا وروسته چورت وهي ددې حکم څه دی؟ جواب: که دربو تسبیحاتو په اندازه چورت ووهي چوپه خوله شي نو دسهوې سجده واجبیږي او که په ویلو چورت وهي نو سجده سهوه نه واجبیږي.

دهيريدو پرمهال يو ځاى بل ځاى ويل

سوال: له ځينې حافظانو څخه که دويلو پرمهال قران هيرشي نونه چو پيږي خو کله په دې سورت کې او کله په هغه سورت کې يو ځاى بل ځاى وايي که ورپه يادشي نوسم ويل پيل کړي او که چيرې ورپه يادنه شي نو ترڅه پريشانۍ وروسته رکوع وکړي لمونځ ختموي خو په يادورتلو اونه ورتلو دواړوصورتونو کې سجده سهوه کوي ايا سهوې سجده کول په کاردي اوکنه؟ جواب: په دغه دواړه صورتونو کې دسهوې سجده کول په کاردي «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۷»

حافظ دسامع دښودلو تروخته چوپ پاته کيدلاى شي کنه؟

سوال: حافظ غلط شي اودسامع ترښودلو خاموش وي آيا په دې سره په تراويحو کې خو به کوم خلل نه راځي؟ اوسجده سهوه وکړي اوکنه؟ جواب: تراويح صحيح کيږي دراګرزولو اړتيا يې نشته دفتحې داوريدو لپاره حافظ دضرورت په خاطر خاموش پاتې کيدل لمونځ نه فاسدوي سجده سهوې ته هم اړتيا نشته ليکن که له پنځولمونځونو څخه کوم لمونځ وي نوامام ته په کاردي چې که تردريو اياتونو کم ويل شوى وي نودفتحې په انتظارد نه دريږي بلکه کوم ځاى چې وريادوي هغه دې ووايي اوکه درې آيتونه ويل شوي وونوركوع دې وکړي «فتاوى رحيميه ج ۴ ص ۳۹۳»

دحافظ دتنګولو حکم

سوال: دځينو حافظانو عادت وي چې کوم حافظ لومړى ځل تراويح ورکوي دهغه داورولو پرمهال دهغه دورخطا کيدو اوورڅخه

دهيرولو په خاطر پښې په زور په ځمکه ټکوهي، غاړې تازه کوي اوياټوخې بد داسې حافظانو په اړه څه حکم دی؟ جواب: داسې کول جائز نه دي په حديث شريف کې رسول اکرم ﷺ له اغلاطو څخه منع کړې ده يعني داسې کارونه چې سړی په غلطۍ کې اچوی له هغوی څخه ځان ژغورل ضروري دي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۲ بحواله حديث ابوداؤد مشکواة کتاب العلم ص ۳۵»

صرف د فتحې ورکولو په نيت په تراويحو کې برخه اخيستل

سوال: کوم شخص چې په دې نيت په تراويحو کې برخه اخلي چې که حافظ غلط شو نو تر ور ښودلو وروسته به جلا شم نو په دغه صورت کې دغه سړی مقتدي بلل کيږي او که نه؟ جواب: په تراويحو کې برخه اخيستونکی مقتدي شو او د لمانځه پوره کول پر ده لازم دي حافظ خو به فتحه واخلي هغه ته څه معلومه ده چې دی تر ښودلو وروسته جلا کيږي د امام لمونځ صحيح شو په دې نيت شريکيدل بد دي دغه لمونځ دده په ذمه پوره کول لازم دي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۸۸ بحواله هدايه باب النوافل ج ۱ ص ۱۳۱»

په تراويحو کې د غلطۍ فتحې په ورکولو حافظ پريشانه کول

سوال: ځينې زاړه حافظان نوی حافظ په غلطه فتحه ورکولو پريشانه کوي ددې څه حکم دی؟ جواب: دا کار هم د هغه اغلاطو له جملې څخه دی د کومو چې په حديث شريف کې غندنه شوې چې دا حديث په دې ډول دی «روی ابوداؤد عن معاويه قال ان النبی ﷺ نهی عن الاغلوطات» يعني کوم کارونه چې يو مسلمان په غلطۍ کې اچوی له

هغوى خان ژغورل ضروري دي «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۸ دمشكواة كتاب العلم ص ۳۵ په حواله»

په نيت ترلو فتحه وركړي يا بې او دسه فتحه وركړي

سوال: ځينې حافظان دبل حافظ قرائت له لمانځه دباندې په ناسته اوري كله چې دهغه هيرشي نو په بيړه په صف كې يا صف ته نږدې نيت وتړي هغه وروښيي او بيا سمدستى نيت مات كړى كښيني او ځينې له خداى ﷻ څخه نه ويريدونكي په داسې صورت كې كله داسې هم كوي چې بې اودسه يا پراوبو دقدرت مندلو سره تيمم ووهي نيت وتړي بيا فتحه وركوي په دغه دواړه صورتونو كې دفتحې وركول او اخيستل څه حكم لري ؟ جواب: كه چيرې ترنيت ترلو وروسته فتحه وركړي نو دامام په لمانځه كې هيڅ خلل نه راځي خو پرهغه دنيت ماتولو ګناه شته او قضاء لازميږي او كه بې اودسه فتحه وركړي ياداوبو په شتون كې تيمم ووهى فتحه وركړي او امام فتحه واخلي نودده لمونځ فاسد شو او دمقتديانو لمونځ هم فاسد شو «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۸ دعالمګيري كشوري باب سابع مايفسد الصلاة ج ۱ ص ۹۰ په حواله»

د تراويحو پروخت شاته خبرې كول

سوال: ځينې مقتديان داسې كوي چې كله حافظ په تراويحو كې دوې درې يا زياتې پارې ووايي نو دوى له صفه ليرې له لمانځه دباندې چوپه خوله ناست يا پراته وى او يا ورو ورو خبرې سره كوي خو دخاموشى په حالت كې هم دقران كريم اوريدل هيڅكله ددوى مقصد نه وي دوى ته داوريدو ثواب وركول كيږي او كنه په شريعت

کې د دغه فعل څه حکم دی؟ جواب: ښکاره خبره ده چې داسې وخت خبرې کول ګناه او ثواب ختمونکې دي او چې په خوله کيناستل يا څملاستل که داوريدو نيت يې هم نه وي خود قرائت او ازيې غور ته رسيږي نو داوريدو ثواب ورکول کيږي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۸۹ د درالمختار ج۱ ص ۵۰۹ فصل فی القرائت په حواله»

په تراويحو کې د رکوع انتظار کول

سوال: د تراويحو پر مهال ځينې خلک ناست وی کله چې حافظ رکوع ته ځي نو په رکوع کې ورشامليږي د دې څه حکم دی؟ جواب: داسې کول منع دي «فتاوی رحيميه ج۱ ص ۳۵۴ د فتاوی عالمګيري ج۱ ص ۱۱۹ په حواله»

د سامع د نيستی په مهال قران کريم ته په کتو فتحه ورکول څنګه دي

سوال: د روژې په مياشت کې ډير داسې ځايونه پيدا کيږي چې پر ته له تراويح ورکونکي حافظ کوم بل حافظ چې سامع مقرر شي نه وي که په داسې صورت کې کوم مقتدی چې حافظ نه وي قران کريم خلاص کړ او فتحه يې ورکړه او د لمانځه په لومړي رکعت کې په څه وجه نه وو شامل شوی آيا دا کار جائز دی او کنه؟ جواب: کوم څوک چې د امام سره په لمانځه کې شريک نه وی هغه امام ته په قرائت او نورو کې فتحه نه شي ورکولای که يې فتحه ورکړه او امام واخيسته نو د امام او خلکو لمونځ فاسد شو «کفايت المفتی ج ۳ ص ۴۱۲»

شیعه حافظ فتحه ورکولای شی کنه

سوال: که چیرې په تراویحو کې حافظ غلطیانې کولې او سامع هم غلطیدی او شیعه حافظ موجود وي که هغه نیت داقتداء وکړي فتحه ورکړی نو د امام ابو حنیفه په نزد جائزدی او کنه؟ جواب: که شیعه داسې وی چې نه تبرا کویه اونه د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ له صحابیت څخه منکروی او نه په بی بی عائشه ﷺ پسې افترا کونکی وی نو په دې صورت کې فتحه ورکول جائزدی او دده په ورښودلو د فتحه اخیستونکي او دهغه د مقتدیانو لمونځ هم صحیح دی او که داشیعه غالي وی یعنی لاندې شیان په کې موجودوي تبرا کویه وی د حضرت ابوبکر ﷺ د صحابیت څخه منکر او په بي بي عائشه ﷺ پسې تهمت ویونکی وي نو داسې شیعه چونکه کافردی نو دده په فتحه ورکولو او د امام دده په فتحه اخیستلو د امام او د مقتدیانو د ټولو لمونځ باطلیږي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۴۹ بحواله درمختار فصل فی المحرمات ج ۱ ص ۳۹۸»

درکوع انتظار کول

چې جماعت دریږي یو کس ناست وي کله چې امام رکوع ته ځي نو سمدستی نیت، وتړي اوله امام سره په رکوع کې برخه واخلي داکار مکروه اوله منافقینو سره مشابهت دی «فتاوی محمودیه دوهم ټوک ص ۳۵۴»

څلورم باب

ترویحه

ترویحه ولې کول کیږي

په تراویحو کې نړهرو څلورو رکعتونو وروسته یو څه وخت ناستې ته ترویحه ویل کیږي تراویح د ترویحه جمع ده دد ې اصل معنی د استراحت ده کوم چې له راحت څخه اخیستل شوې چونکه په شلو رکعتونو کې پنځه ترویحې کیږي ځکه دې لمانځه ته تراویح ویل کیږي او وجه د تسمیه یې هم داده چې په لمانځه کې د شریعت له نظره راحت دی درسول الله ﷺ ارشاددی هغه مبارک فرمايي « قرة عيني في الصلاة » یعني زما د سترګو سړوالی په لمانځه کې دی او په یوبل حدیث کې دده مبارک ﷺ ارشاددی دروژاتي لپاره دوې خوشحالي دي یوه دروژ مات پروخت او دوهمه خوشحالي هغه وخت کله چې له خپل رب سره ملاقات کوي په ظاهرله ملاقات څخه مراد تراویح دي په یوه حدیث کې درسول الله ﷺ ارشاددی: ارحنا بالصلاة یا بلال ! یعني دلمانځه په تکبیرویلو موږ ته آرام راورسوه « په هرحال ددې دوو حدیثونو پربنسټ ویل کیدای شي چې د څلورو رکعتونو نوم ترویحه ځکه دد چې له دې څخه راحت او روحاني سکون حاصلیږي د ترویحو په مینځ کې دیوې ترویحې په اندازه کیناستل مستحب دي او که حافظ په دې پوهیدی چې د پنځمې ترویحې او وترو ترمنځ کیناستل مقتدیانو ته ګران تماميږي نو نه دې کښيني په پنځمه ترویحه کې اختیاردی «اشرف الایضاح شرح نورالایضاح ص ۱۲۰»

په تراویحه کې څو مره ناسته په کار ده

سؤال: دتراویحې یعنې ترڅلورور رکعتونووروسته څومره اندازه کیناستل مراددي دتراویحې مرادڅه ده آیاهغه څلوررکعته په کوموکې چې وشوه یاچې په څومره وخت کې چې څلوررکعته لنډ نفل وکړل شي ؟ جواب: بعدکل اربعة بقدرهاڅخه په ظاهره معلومیږي چې هغه ځانګړي رکعتونه چې په څومره وخت کې شوي هغه مراددي «امدادالفتاوی ج۱ ص۴۹۰»

دعالمګیري په ترجمه کې دي چې که لمونځ کونکیو ته ګرانه اودجماعت لږیدواندیښنه وي نوتردې هم لږکیناستل صحیح دي خودمقتدیانودبیږي اوګران تمامیدوله امله درکوع اوسجدې تسبیحات ،سبحانک اللهم اودرودپریښودل یومخ نه دي صحیح خوددعایعني سبحان ذی الملک والملکوت الخ اونوروپریښودل په دې شرط چې دمقتدیانوتلواروي هیڅ پروانلري «ترجمه عالمګیري ص۱۸۵»

په تراویحه کې په لوړاوازدرودویل

سوال:دتراویحودڅلوررکعتونوتراداکیدووروسته په تراویحه کې ځینې حضرات تسبیح سوکه ووایي په سردارعالم تردرود وروسته په لوړاوازدمحمد ﷺ نعره پورته کړي شرعاً په کوم کتاب کې ددې اصل شته اوکنه ؟ جواب:ددې اصل (حقیقت په شریعت کې هیڅ نشته فقهاؤدالیکلي چې دتراویحوپه تراویحه کې یعنې ترڅلوررکعتونووروسته ورته اختیاردی که تسبیح وایي یانفل

کوي يا قران کريم وايي يا چوپ کيني «فتاوى دار العلوم ج ۱ ص ۲۴۶ درد المحتار ج ۱ ص ۶۶۱ مبحث التراويح په حواله»

په ترويحه کې د دعا ثبوت شته کنه

په تراويحو کې چې تر هرو څلورو رکعتونو وروسته کوم ذکر مشهور دی هغه په هيڅ روايت او حديث کې نه موندل کيږي خو علامه شامي د قهستاني او نورو په حواله را نقل کړی دی چې تر ترويحه وروسته دې دا ذکرو کړل شي: سبحان ذالملک والملکوت سبحان ذی العزة والعظمة والهيبة والقدرة والکبرياء والجبروت سبحان الملک الحی الذی لاينام ولايموت سبوح قدوس ربنا ورب الملائکة والروح اللهم اجرنا من النار يا مجير يا مجير يا مجير «شامی ج ۱ ص ۶۶۱»

تر هرو څلورو رکعتونو وروسته دعا غوښتل

سوال: په تراويحو کې تر هرو څلورو رکعتونو د حافظ او مقتديانو په ګډه دعا غوښتل رواج دي آيا دا سنت طريقه ده؟ حافظ صاحب په زوره دعا کوي بل څوک هيڅ نشي ويلای نو آيا په ترويحه کې صرف دعا کولای شي؟ جواب: د دعا غوښتلو دا دستور له سنت سره اړخ نه لګوي دا هسې دود او رواج دی شريعت مقدسه چې د کوم شي اجازه کړې په هغه کې لاسوهنه بې ګټې ده اوله نورو کړنو د مثال په ډول له تلاوت، تسبيح، نفلو او نورو څخه د منع کولو مترادف ده څکه نو بيان شوې طريقه د ترک وړ ده که د چاړه غواړي ويې دې وايي خو په داسې ډول چې بل چا ته حرج او تکليف نه وي دی اختيار لري چو په خوله کيني يا کلمه، تلاوت، درود شريف وايي يا نفل لمونځ وکړي خو په

جماعت سره مکروه دي یادا تسبیح سبحان ذی الملک الخ ووایي «فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۲۵۲ بحواله شامي مع درمختار ج ۱ ص ۶۶۱»

پــه هره ترویحه کې پــه لاس پورته کولو دعا غوښتل

سوال: دتراویحو پــه هره ترویحه کې تر تسبیح لااله الاالله وروسته دامام اومقتدیانو پــه لاس پورتــه کولو دعا غوښتل یاصرف دمقتدیانو په لاس پورته کولو دعا غوښتل جائزدي او کنه؟ که چیرته حافظ په ترویحه کې دعا په دې فکرکوي چې ددې ثبوت نشته خوله ده څخه دمقتدیانو فرمائش دی چې دعا هرومرو غواړي دا څه پروالري او کنه؟ که حافظ دمقتدیانو وینا ونه مني نو مقتدیان خوابدي کیږي نو پــه دې صورت کې حافظ تــه څــه کــول پــه کار دي؟ جواب: دتراویحو په هره یوه ترویحه کې تسبیح لااله الاالله او نوراو دمأثوره دعاویل منقول دي او پــه لاس پورتــه کولو دعا غوښتل صرف دشلو رکعتونو پر ختمیدو معمول ده نو همداسې کــول پــه کــار دی حافظ ته په دې صورت کې دمقتدیانو وینا منل ضروري نه دی او نه مقتدیانو ته پــه کار دي چې خپل امام تــه داسې حکم وکړي ځکــه چې امام متبوع وی نه تابع لکه چې دمشکواة دحدیث مفهوم دی امام ددې لپاره وي چې په هغه پسې اقتدا وکړل شي «فتاوی دارالعلوم ج ۱ ص ۲۷۹ بحواله مشکواة لومړی فصل ص ۱۰۱» پــه فتاوی رحیمیه کې راغلي چې دامام او مقتدي په اجتماعي او ټولنیزه ډول دعا کول ضروري ګڼل اوپردعانه کونکي نیوکه او اعتراض کول صحیح نه دي هو که انفرادي یوازې یوازې دعا وکړي نو منع نه ده «فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۴۷»

په ترويحه کې نصيحت کول

سوال: په عامه توګه په مسجدونو کې د تراويح ترهرو څلورو رکعتونو وروسته تسبيح ويل کيږي خو په يوه مسجد کې د دې په خلاف په ترويحه کې وعظ او نصيحت کيږي آيا دا دواړه کاره روا دي او کنه؟

جواب: ترهرو څلورو رکعتونو وروسته مستحب دا دي چې تسبيح، لااله الا الله، درود شريف اونور وو وايي که ضروري نصيحت کله وشي چې ورته ارتياوي نوڅه پروانه نلري خو دد دې التزام چې په هره ترويحه کې نصيحت هرو مرو وشي دا بسه نه ده لکه چې په ردالمختار کې راغلي چې په چوپه خوله دې کښيني ياد کلمه وو ايي يادتلاوت وکړي ياددرود شريف وو ايي يا ديوا ځې نفلي لمونځ وکړي «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۴ بحث صلاة التراويح ج ۱ ص ۲۲۱ بحواله ردالمحتار»

په ترويحه کې دغه کلمات ويل څنګه دي

سوال: زمونږ په مسجد کې د تراويح ترپيل مخکې يو سړی په لوړآوازدا کلمات وايي: التراويح سنتة رحمكم الله لااله الا الله والله اكبر ولله الحمد تردې وروسته تراويح شروع کيږي تردوه رکعته وروسته دغه تسبيح وايي: ياكريمُ المعْروفُ ياقديْمُ الاحْسَانِ ،احْسِنْ اِلينا ربّنا باِحْسَانكَ القديْم ياالله ياالله يا الله فضْلٌ منَ الله ونعْمَةٌ ومَغفِرةٌ ورَحْمَةٌ لااله الاالله والله اكبر الله اكبرُ ولله الحَمْدُ ترڅلوررکعته وروسته البَدْرُ مُحَمّدٌ المصطفى ﷺ لااله الاالله والله اكبرالله اكبرولله الحمد ترويلووروسته ياكريم المعروف الخ وايي او په دوهمه ترويحه کې خليفةُ رَسُولِ اللهِ بالتحْقِيق

امیر المؤمنین سَیِّدُنا اَبُوبَکرٍ الصِّدِّیقُ ﷺ لااله الاالله الخ وايي
او بیا په دریمه ترویحه کې مُزَیِّنُ المَسجِد وَالمُنبَرِ وَالمِحرَاب
امیرُالمُؤمِنِینَ سَیِّدُنا عُمَرَبنُ الخَطاب ﷺ لااله الاالله الخ وايي او په
څلورمه ترویحه کې جَامِعُ القُرآن کامِلُ الحَیَاءِ وَالایمَان
امیرُالمُؤمِنِینَ سیدنا عثمان بنُ عفان ﷺ لااله الاالله الخ او په پنځمه
ترویحه کې اَسَدُ اللهِ الغَالِبُ مَظهَرُ العَجَائبِ وَالغَرائِبِ اِمَامَ المَشَارِقِ
وَالمَغَارِبِ اَمِیرُالمُؤمِنِینَ سَیِّدُنَا عَلی بنُ اَبی طَالِبٍ ﷺ لااله الاالله الخ
وايي او سُبحَانَ المَلِکِ القُدُّوسِ الخ هم يو سړی وايي او دا ټول او راد
په لوړ او از ويل کيږي چې له امله يې نور خلک تسبيح او نور هيڅ نشي
ويلای او له وترو مخکې الوترواجب رَحِمَکُمُ اللهُ لااله الاالله الخ وايي
آيا د غو ټولو کلماتو ويل په حديث ثابت دي او د دوی د ويلو څه حکم
دی؟ جواب: دا ټولې خبرې د سنت سره اړخ نه لګوي يوا ځې يو رسم
او رواج دی څکه د ترک وړ دي پر دوو رکعتونو ترويحه نشته
اما تر څلورو رکعتونو وروسته ترويحه شته او په دومره اندازه
کښيناستل لمونځ کونکو ته ګران دي او په دې کې په اجتماعي
او ټولنيزه ول دعا او ذکر نشته يوازې يوازې چې خلک څه غواړي هغه
دې وايي که تلاوت کوي يا نفل کوي يا په ذکر مشغول شي
يا درود شريف وايي يا چوپه خوله ناست وی ټول جائز دي ديوه شي
ټول پابند ګرځول د شريعت دور کړي آزادی او خپلو اکی په خلاف دي
«فتاوی رحيميه ج ۴ ص ۳۹۱»

په ترويحه کې تسبيح بايد په زوره وويل شي او که سوکه

سوال: دتراويحو ترهرو څلوررکعتونوورووسته چې کوم تسبيحات ويل کيږي يعنی سبحان ذی الملک الخ دغه امام او مقتديان په زوروواېي که کراراوکه دامام او مقتديانو په حکم کې څه توپير شته؟

جواب: بيان شوي تسبيحات سوکه ويل غوره دي په زوره ويل يې نه دي په کارامام يې بايد هم کراروواېي او مقتديان يې هم بايد کراروواېي لکه چې دمشکواة په حديث کې راغلي يا ايُّهَاالنَّاسُ اربَعُوْعَلٰی اَنْفُسِکُمْ فانَّکُمْ لَاتَدْعُوْنَ اَصَمَّ وَلَاغَائِبًا الحديث، خلکو په خپلو ځانونو نرمي کولو څخه کاروا خلئ (دعاپه زوره مه غواړئ) ځکه چې تاسو کوم کوڼ يا غائب نه رابولئ «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۲۳ بحواله مشکواة شريف ص ۲۰۱ باب ثواب التسبيح فصل اول،

پنځم باب

تراويح له کوم وخت څخه شروع کيږي او ترکومه وخته صحيح کيږي او څه وخت روا دي؟

کوم وخت چې درمضان مياشت وليدل شي له هماغه شپې څخه تراويح پيل کيږي کوم وخت چې داختر مياشت وليدل شي نو پرې نه بنودل شي تول مياشت تراويح کول سنت دي که څه هم په تراويحو کې قران کريم ترمياشت مخکې ختم کړي مثلاً په پنځلس شلو ورځو کې تول قران کريم وويل شي نو په پاتې ورځو کې دتراويحو کول سنت مؤکد دي دځينو خلکو خيال وي چې ژر به په کوم مسجد کې په اته لس ورځې کې قران کريم واورو بيا به رخصت شو دا په يادولرئ چې دادوه بيل بيل سنتونه دي دتول قران کريم

تراویحو کې ویل یا اوریدل یو مستقل سنت دی او د ټولې روژې د میاشتې تراویح ځان ته یو جلا سنت دی نو په ختم کولو سره یو سنت عملي شو دوهم سنت پاتې شو کوم خلکو ته چې د سفر او نورو له کبله په رمضان کې یو ځای تراویح کول مشکل وي نو هغوی ته مناسب دي چې لومړی قران کریم چې په څو ورځو کې چیری ختمیږي هلته واوري تر څو قران کریم نیمګړی نه وي بیا چې چیرې وخت بند اکړي او موقع وي هلته د تراویح کوي په دې صورت کې به قران کریم هم نیمګړی نشي او په خیال کارکې به هم ورته حرج نه وي د تراویحو ختم د لماخستن تر لمانځه وروسته بیل کیږي او د سهار تر سپیده ووري وي که د لماخستن تر لمانځه مخکې تراویح وکړل شي نو د به تراویحو کې نه شمیرل کیږي «مظاهر حق نوی ترتیب ۱۴ و فضائل رمضان مولانا زکریا رحمه الله ص ۲»

په تراویحو کې له یوه ختم څخه کوم سنت مراد دی

سوال په تراویحو کې یو ختم کول فقهاؤ سنت لیکلي لندې څخه مقصد کوم سنت دی مؤکد او که غیر مؤکد؟ جواب: صحیح مذهب او اصح قول دا دی چې په تراویحو کې یو ځل قران کریم ختمول مؤکد سنت دي د قوم د کهالت او سستۍ له امله دې دا نه پریښودل کیږي او د دوه ختمونو په کولو کې فضیلت دی او دری ختمه کول افضل دی او چیرې چې فقهاؤ یو ختم سنت لیکلی دی له هغه څخه ظاهرا سنت مؤکد مراد دی څینې فقهاؤ لیکلي که د کوم ځای خلک دومره سست زړه ماتي او ناشوقه وي چې د پوره قران د اوریدو تاب نه لري نو دومره دووایې چې مسجد و نه له خلکو خالي نشي که داسې لویدلی حالت نه

وي نوتريوه ختم دې کم نه کوي څکه چې همدغه سنت دی «فتاوی رحيميه ج ۴ ص ۴۰۲ بحواله بحرالرائق ج۱ ص۷۱»

په میاشت کې يو ختم کول سنت دي

په میاشت کې یو ځل په ترتیب سره دقران کریم په تراویحو کې ویل سنت مؤکد دي خود خلکو دکهالی او سستی په وجه د دې ترک نه دی په کار اماکه دا اندیښنه وه چې که ټول قران کریم وویل شي نو خلک به لمانځه ته نه راځي او جماعت به مات شي یا به دوی ډیر ناخوښ وي نو غوره دا ده چې څومره اندازه خلکو ته ګران نه تمامیږي هغومره دې وویل شي اونوردله الم ترکیف څخه ترپایه لس سورتونه وویل شي « مظاهرحق جدید ترتیب ۱۴»

له رسول الله ﷺ څخه دشلو رکعتونو ثبوت

سوال: رسول الله ﷺ دروژې مبارکې په میاشت کې څو رکعته تراویح کړي دي ؟ جواب: پرشل رکعته تراویح اجماع او په احادیثو ثابتې دي نوشل رکعته کول په کاردي رسول الله ﷺ هم شل رکعته کړې دي په مصنف ابن ابی شیبه طبراني او بیهقي کې دا احادیث موجود دي «عن ابن عباس ﷺ ان النبی ﷺ یصلي فی رمضان عشرین رکعة سوی الوتر » ترجمه: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چې رسول الله ﷺ له وتروپرته شل رکعته تراویح کولې «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۷۲ بحواله ردالمحتار ج۱ ص۷۲۰ مبحث التراویح

تراویح له نبي کریم ﷺ څخه ثابتې دي

سوال:له رسول الله ﷺ څخه دتراویحو کول ثابت دي او کنه ؟ جواب: نبی کریم ﷺ درې شپې تراویح کړې دي بیا صحابه کرامو ﷺ تر ده مبارک وروسته وربانـدې مواظبت او همیشتوب کـړی دی څکـه نوتراویح پـه جماعـت شوې «فتاوی دار العلوم ج ۴ ص ۲۵۳ بحث صلاة التراویح»

تراویح په جماعت سنت دي کنه

سوال:آیاتراویح پـه جماعت سره پـه مسجد کې کول ضروري دی ؟ آیاپه کورکښې یې کولای شو کنه ؟ جواب:تراویح پـه مسجد کې پـه جماعـت کـول سـنت کفایـه دي یعنـي کـه پـه مـسجد کې دتراویحو جماعـت ونـه شـي نـو محلې والا او کلیـوال ګنهګـار یږي اودسنت پرینښودونکي هم ګرځي که ځینو پـه مسجد کې پـه جماعت اداکړې او ځینو پـه کـور کې نو د سـنت د تـرک ګنـاه وربانـدې نـشته خو د جماعت او د مسجد له فضیلت بې برخې کیږي «فتاوی رحیمیـه ج ۱ ص ۳۵۳ بحواله صغیری ص ۲۰۵»

بیله شرعی عذره تراویح پرینښودل څنګه دي

سوال:بیله عذره قصدا تراویح پرینښودل او داویـل چې رسول الله ﷺ په خپله پرینښي دي څکه یې مونږ هم پرېږدو دا جائزدي او کنه ؟ جواب تـراویح سـنت مؤکـد دی بیلـه عـذره ددې پریـښودونکی عاصـی او ګنهګاردی له راشده خلفاءو لو صحابه ﷺ او سلفو صالحینو څخه ددې پابندي ثابته ده رسول الله ﷺ په خپله فرمایلي دي چې زما خیال دی چې فرض نشي همدغه یو شی دي چې له وجهې یې رسول الله ﷺ

ورباندې هميشتوب نه دی کړی په حقيقت کې د ده مبارک دا فرمايل په خپله د دوی د اهتمام څرګند دليل دی ديو شخص د اعذر کول چې رسول الله ﷺ تراويح پريښې دي زه يې هم پرېږدم قطعاً د قبول ور نه دی او پرنا خبر تيابنـاء دی «فتـاوی دارالعلـوم ج ۴ ص ۲۸۱ خلاصـه ردالمحتار مبحث التراويح ج ۱ ص ۷۵۹»

د تراويحو د پريښودونکي حکم

سوال: کوم خلک چې تراويح نه کوي د هغوی حکم څه دی ؟ جواب: تراويح د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد مؤکد سنت دي او جماعت هم په تراويحـو کې سـنت دی د دې پريـښودونکی خطا کار او ګنهګـار دی «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۵ بحواله ردالمحتـار مبحث التـراويح ج ۱ ص ۶۶۰»

تراويح د روژې تابع نه دي

سوال: زيد وايي چې کوم خلک د شرعي عذرله امله روژې نه نيسي هغوی بـه تـراويح هرومرو کـوي دوی تـه ضـرور ثواب ورکـول کيږي بکر وايي معذور سړی چې روژه و نه نيسی هغه به تـراويح هم نه کوي بلکه څوک چې روژه و نه نيسي د هغه تراويح کول عذاب دي په دوی دواړو کې د چا وينا صحيح ده ؟ جواب: د زيد وينا صحيح ده بکر غلط وايي د تراويحو لپاره روژه شرط نه ده «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۷۲ بحواله ردالمحتار ج ۱ ص ۷۵۹ باب النوافل مبحث فی التراويح»
تراويح د روژې تابع نه دي. کوم خلک چې په کوم وجه روژه نه نيسي د هغوی لپاره هم تراويح کول سنت دي که يې و نه کړي نو د سنت د ترک په وجه ګنهګار يږي «مظاهر حق جديد ترتيب ۱۴»

دتراويح کونکي اوروژه نه نيونکي حکم

سوال: څوک چې مانبام تراويح وکړي خوسهار روژه ونه نيسي دهغه په اړه شرعي حکم څه دی؟ جواب: که کوم عذروي مثلاً ناروغي ياسفر نوروژه نه نيول مباح اوصحيح دي هيڅ ګناه ورباندې نشته اوبيله عذره درمضان روژه نه نيول کبيره ګناه ده چې بدله يې دټول عمرپه روژه هم نشي کيدلای «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۸۲ بحواله ردالمحتار ج ۱ ص ۲۲۱ مشکواة ص ۱۷۷»

دوظيفې په وجه دوترو جماعت پريښودل

سوال: يوسړی دماخستن دسنتواووترو ترمنځ ديوې وظيفې عادي دی په رمضان کې خوترپه جماعت کيږي نو وظيفه څنګه ويل په کارده که وظيفه وايي نودوولس رکعته تراويح څنې تيريږي اواته مونلای شي آياآته رکعته تراويح وکړي دوترو په جماعت کې شريک شي که دوترو جماعت پريږدي اوکه وظيفه دروژې په مياشت کې پريږدي؟ جواب: دوظيفې په وجه دوترو جماعت پريښودل نه دي په کاراوتراويح شل رکعته کول په کاردي وظيفه که وايي نوترو ترو وروسته ياکوم بل وخت يې دې ووايي لنډه داچې دوظيفې له امله کوم واجب اوسنت نه پريښودل کيږي بلکه وظيفه بايد پريږدي يادوخت وربدل کړي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۸۲ بحواله ردالمحتار ص ۲۲۰».

دتراويحو پروخت که خوب غالبه وی نو...

سوال: که دتراويحو پروخت خوب غالب وی پرمخ داوبوا چولو سره سره خوب ورځي نو دلمانځه په پريښودلو کورته تلای شي اوکنه؟

جواب: هو ننه ... ي ... ... پرمها
لمونځ کول مکروه او منعه دي دخوب ترپوره کیدو وروسته دې پاتې
تراویح دسهار ترسپیدو مخکې وکړي «فتاوی رحیمیه ج۱ ص ۵۵ بحواله صغیري ص ۲۱۱»
اودعالمګیري په ترجمه کې دي چې که دخوب غلبه وه نو په جماعت سره تراویح کول مکروه دي بلکه جلا په ښه بیداری یې دې وکړي
ځکه چې له خوب سره په لمونځ کولو کې سستی او غفلت راځي اوپه
قران کې غوراوفکر کول ورځینې پاتیږي «ترجمه هندیه فتاوی عالمګیري ج۱ ص ۱۹۰ کتاب الصلاة»

مقتدی که په ناسته کې ویده شي نو څه حکم لري

یوه سړی تراویح له امام سره پیل کړې کله چې امام صاحب قعده وکړه نودی ویده شو په دغه وخت کې امام صاحب سلام وګرځاوه دوه رکعته یې نورو کړل اوداالتحیات لپاره کیناستی نو دغه وخت داسړی راویښ شو که ده ته دامعلومه شوه چې امام دوه رکعته نور کړي دي نوسلام دې وګرځوي اوبیادنیت وتړي له امام سره دې په تشهد کې برخه واخلي کله چې امام سلام وګرځوي نوولاړ دې شي دوه رکعته دژرو کړي چې سلام وګرځوي بیادې له امام سره په دریم دوه رکعتیز کې شریک شي «ترجمه هندیه فتاوی عالمګیري ج۱ ص ۱۹۰ کتاب الصلاة»

په تحریمه کې دمقتدي غلطي

ځینې مقتدیان کله ناکله داسې غلطی هم کوي چې په هغه سره لمونځ نه کیږي مثلا دامام ترتکبیرتحریمه یعنی الله اکبر ویلو مخکې

مقتدی الله اکبر وايي يا د امام د الله له لفظ ختمولو مخکې دی د الله لفظ ختم کړي په دې دواړو صورتونو کې د لمانځه شروع صحيح نه شوه دغه مقتديانو ته په کار دي چې دوی دې دوهم ځل بيا الله اکبر ووايي په امام پسې دې نيت وتړي «مسائل سجده سهوه ص ۷۴ بحواله صغيري ص ۱۴۳»

زياتره مقتديان ليدل کيږي چې کله امام رکوع ته ولاړ شي نوله هغه سره په رکوع کې د شريکيدو لپاره له نيغ او سيده دريدو پرته الله اکبر وايي رکوع ته ځي چې په دې ډول د دوی د الله اکبر او از رکوع ته په رسيدو پای ته رسيږي د ارنګه په لمانځه کې برخه اخيستل صحيح نه دي له تکبير تحريمه څخه ترفار غيدو ولاړه فرض ده يعنی چې په سيده ولاړه کې د الله اکبر او از ختم شی تر دې وروسته رکوع ته ټيټيدل په کار دي که دولاړې پرمهال تکبير تحريمه ختم نه شي نو دده په لمانځه کې شامليدل صحيح نه دي «کفايت المفتی ج ۳ ص ۳۹۱»

د تراويحو نيت

د تراويحو د لمانځه د نيت هماغه طريقه ده کومه چې د نورو لمونځونو ده او د دې نيت په دې طريقه دی چې زه دې دوه رکعته تراويحو نيت کوم کوم چې د رسول الله ﷺ سنت دي الله اکبر وواياست نيت وتړئ «مظاهر حق جديد ترتيب ۱۴»

د تکبير تحريمه پرمهال د لاسونو نيولو طريقه

سوال: د تکبير تحريمه په وخت کې دواړه لاسونه تر غوږو پورته کړي يا سملاسي لاسونه وتړي او که يو وار لاسونه پريږدي بيا يې وتړي صحيح کومه طريقه ده ؟ جواب: تر تکبير تحريمه وروسته او په

وتروکې ترقنوت مخکې دغه رنګه د اختر د لمانځه په لومړي رکعت کې له دریم تکبیر سره دې لاسونه پورته کړي بیا یې دو تړي دلاسونو ایله کولو او بیا تړلو طریقه ثابته نه ده «فتاوی رحیمیه ج ۳ ص ۳۷»

بیله ثناء قرائت پیل کول

سوال: علماء ددین او مفتیان د شرعې متین په لاندې مسئله کې چې حافظ صاحب په رمضان المبارک کې په تراویحو کې ترتکبیر تحریمه سمدستي وروسته بیله ثناء ویلو سورة فاتحه شروع کړي څه فرمایي ؟ جواب: دثناء نه ویلو عادت جوړول خو بیو ناوړه حرکت دی خو په لمانځه کوم کراهیت نه راځي ځکه چې دثناء ویل صرف مستحب دي او د مستحب په ترک په لمانځه کې کوم قباحت نه راځي «فقط والله اعلم لیکونکی نظامدین ددار العلوم دیوبند مفتی ۲۲ / ۱۲ / ۱۴۰۲ هج

په تراویحو کې د شلو رکعتونو په یو ځل نیت کول

سوال: دتراویحو دشلو رکعتونو لپاره په شروع کې په یو ځل نیت کول کفایت کوي که به له هردوه رکعتونو سره جلا نیت کوي ؟ جواب دتراویحو لپاره په پیل کې د شلو رکعتونو نیت کول کفایت کوي پر هر دوه رکعته نیت کول شرط نه دي مګر غوره دي «فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۵۴»

دوه دوه رکعته تراویح کول

سوال: تراویح دوه دوه رکعته کول په کار دي که څلور څلور ؟ جواب: په تراویحو کې پر دوه دوه رکعته سلام ګرځول بهتر دي تراویح که څه

هم سنت مؤکد دي څو څلور رکعته په یوه سلام کول سنت مؤکد نه دي ددې په خلاف دلماسپښین سنت څلور رکعته په یوه سلام کول سنت موکد دي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۲۷ بحواله ردالمحتار مبحث التراویح ص ۷۲۰»

په تراویحو کې د سنت قرائت اندازه

سوال: دروژې په لومړۍ شپه حافظ تراویح ورکولو ته چمتو شو یوه مقتدي انکار وکړ چې مونږ قران کریم نه اورو امام او نورو مقتدیانو ورته وویل چې که یې ته نه اورې نو مونږ خو یې اورو دا شخص په داسې حال کې چې په تن روغ او توان لرونکی دی بیا هم ټینګار کوي چې په لنډو سورتونو باید تراویح وکړو په دې صورت کې شرعاً څه حکم دی ؟ جواب: فقهاؤ لیکلي چې افضل په دې زمانه کې دومره قران ویل په کار دي چې مقتدیانو ته دتراویح کول ګران نه شي نو ددې شخص وینا هم پرهمدغه محمول ده چې د مقتدیانو ته حال سره سم تراویح کول په کار دي ده مطلب له قران څخه انکار نه بلکه دده مطلب دا دی چې په تراویحو کې قران کریم مه ختموئ بلکه په لنډو سورتونو تراویح وکړئ په دې کې کوم قباحت نشته «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۲۱ بحواله ردالمحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراویح ج ۱ ص ۲۲۲»

آیا په تراویحو کې اوږده سورتونه ویل په کار دي که لنډ

سوال: په تراویحو کې ټول قران کریم افضل دی که له سورت فیل څخه ویل غوره دي ؟ ځواب: ددرالمختار مبحث التراویح لومړی ټوک ص ۲۲۲ لنډیزداسې دی چې یو ځل په تراویحو کې دقران کریم

ختم سنت دی او دنوم ... عمل دی
او همدغه معمول دی «امداد الفتاوی ج ۱ ص ۳۰۰»

په تراویحو کې د شلو رکعتونو عقیده لرونکي کمبود او زیادت

سوال: که کوم شخص د شلو رکعتونو تراویحو د سنت والي اعتقاد لري خو کله یو ولس کله د یارلس او کله دیو ځلویښت رکعتونو نیت کوي نو آیا ګنهګار برېږي؟ جواب: شل رکعته تراویح کول سنت مؤکد دي ددې په خلاف کونکي د احنافو په نزد د سنتو پرېښودونکی دی او د سنت په خلاف کول بد دي؟ که څه هم بیان شوې شمېره په احادیثو کې راغلې خو د احنافو په نزد پر ټولو احادیثو په پوره بصیرت سره له غور کولو وروسته همدغه شل رکعته راجح بلل شوي او د حضرت عمر فاروق ﷺ له تحریک څخه پر همدې د صحابه کرامو اجماع شوې ده «فتاوی دار العلوم ج ۴ ص ۲۹۷ بحواله رد المحتار ج ۱ ص ۶۲

په تراویحو او نورو لمونځو کې امام باید قرائت په څومره اندازه په زوره ووایي

سوال: په تراویحو او نورو جهري لمونځونو کې امام باید په څومره اندازه په زوره قرائت ووایي؟ جواب: افضل او غوره داده چې امام په جهري لمونځو کې بیله تکلیفه دومره په زوره ووایي چې مقتدیان قرائت اورېدلای شی له دې څخه زیات په تکلف ویل مکروه او منعه دي لکه چې الله ﷻ فرمایي: ولاتجهر بصلاتک الایة او ته په زوره

والي مه کوه په لمانځه خپل کې او مه سو کوالی کوه او خوښه کړه دمينځ لاره.
مفسرين فرمايي چې په لمانځه کې په درميانه او از قرائت کول په کاردي له دې څخه پرزړه اغيز کيږي نه يې ددومره په زوره وايي چې قاري او سامع دواړه تکليف وي چې په دې سره درزه په حضور کې خلل راشي «خلاصة التفاسير ج ۳ ص ۲۷ تفسير فتح المنان ج ۵ ص ۹۲» فقهاء کرام په زوره ويلو کې دوې خبرې ضروري بولي لومړی داچې ويونکی پر خپل ځان دعادت په خلاف زوررانه ولي داسې کول مکروه دي دوهم داچې نوروته تکليف نه وي مثلاً د تهجد پروخت څوک ويده دي ياځه خلک په خپل کاربوخت دي تاسو له هغوی سره نژدې ودريږئ په دومره لوړ او از قرائت پيل کړئ چې دهغوی په کارکې خلل راشي نوداهم مکروه دی تردغودوه خبرو روسته دريمه خبره داده چې دجماعت دکمښت اوزياتوب په لحاظ سا تلو سره قرائت وويل شي مثلاً دمقتديانو درې صفه وي تاسو په دومره لوړ اواز وواياست چې ترد ريم صف پورې او از ورسيږی ياپې تردې په زوره وواياست چې تربهره آواز ورسي دفقيه ابو جعفر رحمه الله قول داسې دی چې څومره په لوړ او از وويل شي بهتره دی خو په دې شرط چې ويونکي ته به ستړيانه وي او څوک په تکليف نشي خودنورو فقهاؤد او ينا ده او راجح هم همدغه ده چې د اړتيا په اندازه دې آواز او چت کړي يعني صرف دومره دې او از لوړ کړي چې تردريم صف پورې ورسيږي اماکه صفونه زيات وي نو تردې يې هم لوړولای شي په دې شرط چې پر ځان زيات زوررانه ولي «فتاوی رحيميه ج ۱

ص ۲۵۱ بحواله ... واجب الصلاة درمختار ص ۴۹۷ مجمع الانهر ص ۱۰۳ ج ۱ عالمگیری ج ۱ ص ۷۲ «

یوازې په تراویحو کې قرائت څنګه ووایي

سوال: نارینه تراویح په جماعت سره وکړي که جلا جلا؟ که یوازې یې وکړي نو قرائت به په لوړ اواز وایي اوکه په ټیټ؟ جواب: نارینه دې په جماعت سره تراویح کوي که له کوم ځا څخه جماعت تېر شي او یوازې تراویح کوي نو که یې سوکه وایي اوکه په زوره دواړه صورتونه جائز دي خو په زوره ویل اولی او غوره دي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۹۹ بحواله ردمحتار ج ۱ ص ۵۵۲ باب التراویح»

آیا تراویح دا رنګه هم کیدای شي

سوال: تراویح دا رنګه کول مثلاً په لومړي رکعت کې سورة التکاثر او په دوهم رکعت کې سورة اخلاص یا په اول کې سورة العصر او په دوهم کې سورة اخلاص څنګه دي؟ جواب: تراویح دا رنګه هم صحیح کیږي خو دالازم بلل او ډیره پابندي کول نه دي په کار بلکې په ترتیب سره دسورتونو ... دي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۱

داسې

لومړی وتر کول په کاردي که تراويح

سوال: تراويح تروتر وله مخه کول په کاردي که وروسته ؟يوسړی لومړی وترکوي وروسته تراويح کوي شرعي حکم څه دی ؟ جواب: په تراويحو کې مشروع طريقه داده چې دلماخستن ترلمانځه وروسته اوله وترو مخکې لومړی تراويح وکړي اوترهغه وروسته بياوترو کړي خو که تراويح تروترو وروسته وکړي داهم صحيح دی لـه درمختارڅخه همداسې معلومېږي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۸۴ بحواله ردالمحتارج۱ ص ۷۵۹»

دوه رکعته سنت مخکې کول په کاردي که تراويح

سوال: چې کلـه پـه روژه مبارکـه کـښې تـراويح پيـل شـي نوترفرضووروسته چې کوم دوه سنتونه دي هغه بايدوکړي بياپه تراويحو کې برخه واخلي اوکه له تراويحووروسته سنت اداکړي ؟ جواب: ترفرض اوسنتو کولووروسته بايدپه تراويحو کې شريک شي پـه فتاوی شـامي کـې راغلـي دي وقتهابعدصـلاة العـشاء يعنـی دتراويحووخت دماخستن ترلمانځه وروسته دی «فتاوی دارالعلوم ج۴ ص ۳۰۰ بحواله شامي ج۱ ص ۷۵۹»

... خلکو چې فرض تيرشي نوجماعت بايدوکړي اوکه څنګه

ـه څوکسان دفرض لمانځه له کيدو وروسته راشي جمع شوې راويح شروع دي نوراتلونکی کسان بايدفرض پـه جماعت وکړي رکه يوازې يوازې فرض اداکړي بياپه تراويحو کې شريک شي ؟ همدارازوت ... ـاعت وکړي اوکه يوازې ؟ جواب: داخلک دجلاجلا

فرض لمونځ وکړي دامام سره دې دتراویحو په جماعت کې شریک
شي اوورته دې له امام سره په جماعت اداکړي که څه هم دوی فرض
لمونځ په جماعت ونه موندی په درمختارکې داسې راغلي چې فرض
یوازې کونکی تراویح په جماعت سره کولای شي ځکه چې
ددواړوحکم برابردی لکه چې تراویح په جماعت سره نه کونکی
وتر په جماعت سره کولای شي همدارنګه فرض یوازې کونکی هم
وتر په جماعت سره کولای شي «امدادالفتاوی ج ۱ ص ۳۴۸ بحاشیه
استاذی حضرت مولانامفتی سعیداحمدصاحب پالنپوري»

دتراویحو تیرشوي رکعتونه کله راګرځول په کاردي

سوال: یوسړی مسجدته هغه وخت داخل شو کله چې دلماخوستن
فرض شوي وودی په تراویحو کې تردوو یاڅلورورکعتونوورو سته
شریک شواوس تیرې شوې تراویح څرنګه راوګرزوني ؟آیاوتر په
جماعت سره اداکړي اوکه ترتیروشویو تراویحو وروسته وتروکړي ؟
ځواب که په مینځ کې یې موقع وموندله نودامام دترویحې په وخت
کې دې تیرشوي رکعتونه راوګرزوي اوکنه نو چې کله وتر په جماعت
سره اداکړي ترهغه وروسته دې تیرې شوې تراویح راوګرزوي په
درمختارکې راغلي چې دتراویحووخت دلماخستن ترلمانځه
وروسته اودسهارترسپیدوپورې دی «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۲۰
بحواله ردالمحتارمبحث التراویح ج ۱ ص ۷۵۹»
اووترمخکې اووروسته دواړه رنګه کولای شي «فتاوی دارالعلوم ج
۴ ص: ۲۲۰ بحواله ردالمحتار مبحث التراویح»

په تراویحو کې پاته شوي ایتونه به چیرې راګرزوي

سوال: زمونږ په مسجدونو کې حافظان په عامه توګه له مسائلو ناخبروي هغوی په تراویحو کې قران کریم وایي او د سهوې په وجه په مینځ کې دوه درې آیتونه ورځینې پاته شي یا زبر، زیر او پیښ ځینې غلط شي نو په دوهم رکعت کې دغه پاته شوې آیتونه بیا وایي خو په کومه دوه رکعتیز کې چې ایاتونه ورځینې پاتې شوي وي هغه نه راګرځوي د پوښتنې ورخبره داده چې د آیت په پاتید و د معنی په سبب لمونځ فاسد یږي نو د لمانځه راګرزول ضروري دي او کنه ؟ که د معنی په بدلون د نه خبرید و له امله راګرزول ضروري نه دي ؟ جواب: که د قرائت غلطي په کوم دوه رکعتیز کې پرداسې موقع راغله چې د لمانځه فاسدولو باعث وي نو د دغو دوو رکعتو راګرزول ضروري دي او که داسې غلطي وه چې لمونځ فاسدونکي نه وه نو د لمانځه راګرزولو ته اړتیا نشته بلکه لمونځ صحیح کیږي په مینځ کې د آیتونو په پاتید و یا د زبر، زیر او پیښ په غلطي کولو کې هم همدغه حکم دی مثلاً د څو آیتونو په مینځ کې د پاتید و په وجه د معنی بدلون رانغلی نو لمونځ صحیح شو صرف د قران ختمولو لپاره په نورو دوه رکعتیزو کې د دغو آیتونو راګرزونه کفایت کوي «فتاوی دار العلوم ج ۴ ص ۲۹۸ د عالمګیري مصری ج ۱ ص ۱۰۱ په حواله»

پاته شوی آیتونه په راتلونکي ورځ ویل څنګه دي

سوال: په تراویحو کې سهواً له حافظ صاحب څخه د ځینو آیتونو پاتیدل او د وهمه یادریمه ورځ دغه ایتونه په متفرق ډول یو په بل پسې ویل جائزدي او کنه ؟ او د پوره ختم ثواب به سره له

کراهیته وي که بې له کراهیته ؟ جواب: صرف دقران دختم لپاره که په نورودوه رکعتیزو کې دغه دوه آیتونه راوګرزول شي نوکافي دي دپوره ختم ثواب ورکول کیږي اوکله چې په هیره داسې وشول نوپه دې کې هیڅ ګناه نشته «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۹۴ دعالمګیري مصري ج۱ ص۱۰۱ په حواله»

له تراویحو سره تړلې یو ځای دیرش مسئلې

۱ دتراویحو جماعت دلماخوستن دجماعت تابع دی ځکه نو دلماخستن ترلمانځه مخکې جائزنه دي اوپه کوم مسجدکې چې دلماخستن لمونځ نه وي شوی هلته تراویح هم په جماعت سره کول صحیح نه دي «کبیري ص ۳۹۱»

۲ مسئله: یوه سړي دامام یامقتدي په حیث تراویح وکړې اوس په همدغه شپه دده لپاره دامام په حیث تراویح کول صحیح نه دي خوکه په بل مسجدکې دتراویحو جماعت کیدی نو هلته دنفلو په نیت شریکیدل بیله کراهیته جائزدي «کبیري ص ۳۸۹»

۳ دوه رکعته په یوه سلام کول افضل دي اوڅلورهم څه پروانلري اته رکعته هم په یوه سلام مکروه نه دي «خوپرهره ترویحه به داستراحت دجلسې فضیلت نشي حاصل» البته تردې زیات خلاف اولی اومکروه دی «کبیري»

۴ مسئله: یوسړی مسجدته داسې وخت راورسید چې جماعت شروع شوی وو نوده ته په کاردي چې لومړی فرض اوسنتونه وکړي تردې وروسته په تراویحوکې برخه واخلي اوپاتې شوې تراویح دې دووترویحوپه مینځ کې پوره کوي که موقع نه وه نوترو ترو وروسته

يې دې وکړي داسې دې نه کوي چې دوترو ياتراويحو جماعت پرېږدي يوازې يې کوي «کبيري»
۵ مسئله: په يوه امام پسې فرض په بل پسې تراويح اووتر کول هم جائزدي ۶ مسئله: که وروسته معلومه شوه چې په کومه وجه دلمانځ خستن لمونځ نه شوصحيح مثلاً دامام اودس نه وويا کوم رکن څينې پاتې شونوله فرضوسره دتراويحو راګرځول هم په کاردي که څه هم دلته هغه وجه موجوده نه وي «کبيري»
۷ مسئله: درمضان دشپې دقيام ياتراويحو، يادوخت دسنتويادامام دلمانځه په نيت تراويح اداکيږي «خانيه»
۸ مسئله: که امام دوهمه يادريمه شفعه (دوه رکعته) کوي اوکوم مقتدی په ده پسې دلومړي شفعې نيت وکړي نوپه دې کې څه حرج نشته «خانيه»
۹ مسئله: که چيرې ورپه يادشوه چې تيره شپه دتراويحو کوم دوه رکعته پاتې شوي يافاسدشوي نودهغه په جماعت سره دتراويحو په نيت راګرزول مکروه دي ۱۰ مسئله: که چيرې تروترو کولو وروسته ورپه يادشوه چې دوه رکعته پاتې شول نوهغه هم په جماعت سره کول په کاردي ۱۱ مسئله: که وروسته ورپه يادشول چې يو کرت يو رکعت شوی شفعه نه ده پوره شوې يعنی تراويح ۱۹ رکعته شوې نودوه رکعته دې نوروکړي يعنی يوازې فاسده شفعه دې راوګرزوي ترهغه وروسته ټولې تراويح نه راګرزول کيږی ۱۲ مسئله: کله چې فاسدشفعه راګرزول کيږي نوپه هغه کې چې څومره قران کريم ويل شوی وي دې هغه هم راګرزول په کاردي ترڅوټول قران په لمانځه کې

ختم شي ۱۳ مسئله: که تراتلس رکعته کولو وروسته ورپه یاد شول
چې دتراویحو دوه رکعته پاتـه دي نو دوتروپردوهم رکعت یې سلام
وګرزولو نو دغه دوه رکعته په تراویحو کې نه شمیرل کیږي
۱۴ مسئله: که امام پردوه رکعته ناسته نه بلکه پرڅلورر کعته وکړ
نو دااخرني دوه رکعته شمیرل کیږي ۱۵ مسئله: بیله عذره په ناسته
تراویح اداکیږي اماثواب نیم ورکول کیږي ۱۶ مسئله: که امام دکوم
عذرپه وجه په ناسته تراویح ورکوي بیاهم مقتدیانوته په ولاړه کول
مستحب دي ۱۷ مسئله: تراویح شمیرل مکروه دي ځکه چې
دادناشوقي نښه ده ۱۸ مسئله: مستحب داده چې دشپې زیاتره برخه
په تراویحو کې تیره شي ۱۹ مسئله: یو ځل قران کریم ختمول (په
ویلویااوریدلو) سنت دی دوهم ځل فضیلت دی او درې ځلې افضل
دی ځکه نو که په هررکعت کې نژدې لس آیتونه وویل شي نو یو ځل په
هوسایي ختمیږي اومقتدیانوته به هم مشکل نه وي ۲۰ مسئله: کوم
خلک چې حافظان دي دهغوی لپاره فضیلت دادی چې کله له
مسجد څخه راشي نوشل رکعته نورو کړي ترڅو ددوه ځله
ختمولو ثواب ورته حاصل شي ۲۱ مسئله: په هره عشره (لسیزه) کې
یوختم کول افضل دي ۲۲ مسئله: که چیرې مقتدیان دومره ضعیف
او کهاله وي چې یوځل هم ټول قران نشي اوریدلی بلکه ددې په وجه
جماعت پریږدي نو په څومره اوریدو چې دوی راضي وي هغومره دې
وویل شي یادې په الم ترکیف سره تراویح وکړای شي خوپه دې
صورت کې دختم دسنت له ثوابه بې برخې کیږي ۲۳ مسئله: که کوم
آیت پاته شواومخته ترڅه برخې ویلو وروسته ورپه یادشو چې فلانی

آیت پاته شوی دی نوددې ترویلو وروسته پرمخ ویل شوې برخې راګرزول هم مستحب دي ۲۴ مسئله: په کوم پاته شوی سورت ددوو رکعتونو په مینځ کې فصل کول په فرضو کې مکروه دي په تراویحو کې مکروه نه دي ۲۵ مسئله: که مقتدیان ضعیف او کهاله وي چې داوږده لمانځه زغم نه لري نو پردوه دوه رکعتونو ددعا پرېښودل پروانه لري خودردو پرېښودل نه دي په کار ۲۶ مسئله: یوسړی داسې وخت په جماعت کې شریک شو چې امام قرائت پیل کړی وو نوثنا (سبحانک اللهم) ویل نه دي په کار ۲۷ مسئله: مسبوق دې دخپل لمانځه یوازې پوره کولو لپاره ترهغه نه ولاړیږي ترڅو چې دامام دلمانځه دختمولو یقین نه شي «محیط» ځکه چې کله ناکله امام دسجده سهوې لپاره سلام ګرزوي اومسبوق داخیال شي چې دلمانځه ختمیدو سلام دی نو دخپل لمانځه پوره کولو لپاره ولاړشي په داسې صورت کې سمدستي له امام سره بیرته شریکیدل په کاردي ۲۸ مسئله: که چیرې یو سړی داسې وخت راغلی چې امام په رکوع کې وُده سمدستي تکبیرتحریمه وویله په رکوع کې شریک شو خوامام له رکوع سرراپورته کړنو که په سیده ولاړه ده تکبیرتحریمه ویلې وه رکوع ته تللی وواورکوع ته ترتیتیدو له مخه یې الله اکبرویلی وواوملایې په رکوع کې برابره کړې وه تردې وروسته امام له رکوع سرراپورته کړنوبیاخوده رکعت وموندی که څه هم یوځل یې تسبیحات نه وي ویلي اوکه دامام ترسرراپورته کولو مخکې یې په رکوع کې ملا نه وه برابره کړې نورکعت یې نه دی موندلی اوکه په سیده ولاړه کښې یې

تکبير نه وي ختم کړی بلکه د ټيټيدو پروخت يې و وايي او په رکوع کښې يې پوره کړي نو دا شروع کول هم نه صحيح کيږي (محيط) ۲۹ مسئله: که چيرې په رکوع کې له امام سره شريک شوا وصرف يو تکبير يې و وايه بيا هم لمونځ صحيح شو که څه هم له دې تکبير څخه يې د رکوع د تکبير نيت کړی وي د تکبير تحريمه نيت يې نه وي کړی د هغه نيت اعتبار نشته په دې شرط چې تکبير يې په ولاړه ويلی وي په رکوع کې يې نه وي ويلای ۳۰ مسئله: په يوه امام پسې فرض او په بل پسې تراويح او وترکول هم جائز دي «کبيري» مأخوذ از فتاوی محموديه مجموعة فتاوی استاذي مولانا مفتي محمود حسن ګنګوهي ج ۲ ص ۳۵۰ تر ۳۵۷»

شپږم باب

د بسم الله په بيان کې

آيا په تراويحو کې په زوره بسم الله ويل ثابت دي

سوال: آيا له عبدالله بن مسعود ﷜ څخه داسې کوم روايت شته چې بسم الله له هر سورت سره نازله شوې ځکه نو احتياطاً په تراويحو کې بايد په جهر سره وويله شي ؟ که چيرې بسم الله په زوره ونه وايي آيا ګنهګاريږي که څنګه ؟ جواب: په زياتره رواياتو کې راغلي چې رسول الله ﷺ به قرائت له الحمد لله څخه شروع کاوه له دې څخه څرګنديږي چې بسم الله به يې په زوره نه ويله چې همدا ابوحنيفه رحمه الله مذهب دی نو له هر سورت سره په تراويحو کې د بسم الله جهر کول نه دي په کار په ټول قران کريم کې دې د کوم سورت سره

يو ځل په زوره وويل شي (فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۲۲۸ بحواله درمختار ۱ ص ۴۵۷ باب صفة الصلاة)

دبسم الله په زوره ويل په تراويحو کې څنګه دي

سوال: په پيښور او نورو ولسواليو کې په ټول قران کريم کې له يوه سورت سره هم بسم الله الرحمن الرحيم په تراويحو کې په زوره نه وايي دوی وايي چې له رسول الله ﷺ څخه ددې ثبوت نشته او په زوره ويلو سره بسم الله دقران شريف جز کيدل نه لازميږي ؟ حال دادی چې دهندوستان علماء يو ځل جهر کوي او مولانا عبدالحی رحمة الله عليه په فتاوی کې يو ځل په جهر ويل مسنون ليکلي ددې د جهر څه وجه ده ؟ جواب: دبسم الله الرحمن الرحيم يو ځل په زوره ويل ځکه ضروردي چې دادټول قران کريم جزء ده په يو ځای کې هم په جهر نه کولو د سامعينو قران اوريدل نه پوره کيږی همدغه وجه دجهر معلوميږي کنه ظاهراً دقران جزئيت وجهرته لازم نه دی مګر چونکه دټول قران شريف ختم په تراويحو کې مسنون دی ځکه دبسم الله يو ځل په زوره ويلو ته سنت ويل شوي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۲۳ بحواله ردالمحتار ج ۱ ص ۴۵۸ باب صفة الصلاة»

دقرائت د امامانو پيروي په تلاوت کې ده په لمانځه کې نه ده

سوال: يو مولوي صاحب چې حافظ دقران او قاري هم دی هغه په تراويحو کې ترسورت فاتحه وروسته له هريو سورت مخکې بسم الله په زوره وايي دی وايي چې په دې کې نه کوم قباحت شته نه کراهيت دپه زوره ويلو په ثبوت کې دافرمايي چې په تراويحو کې لکه څنګه چې دقران پوره کول دقرائت او ويلو په اعتبار مقصد او سنت مؤکد دی

همدارنګه د قران بشپړول داوريدو په اعتبار د مقتديانو په هکله هم مقصد دی ځکه نو ترڅو چې په تراويحو کې د هر سورت مخته بسم الله ونه ويل شي د مقتديانو په هکله اختلاف نه ايسته کيږي او اختلاف هم دائمه مجتهدينو نه بلکه د قرائت د امامانو دی نو تر فاتحه وروسته د هر سورت مخته په تراويحو کې بسم الله په زوره ويل څنګه دي؟ او د احنافو لپاره بسم الله د خپلو مجتهدينو نه اتباع سو که ويل په کار دي او که د قرائت د امامانو په اتباع په زوره ويل په کار دي؟ جواب له درمختار باب صفة الصلاة ج۱ ص ۴۵۷ څخه معلوميږي چې په لمانځه کې د احنافو په نزد په اتفاق سره بسم الله سو که ويل په کار دي په دې کښې د احنافو په نزد هيڅ اختلاف نشته او مطلقاً هر لمانځه ته شامله ده که فرض لمونځ وي که نفل که تراويح او نور له دې عبارته دا هم څرګنديږي چې د قرائت د امامانو اتباع په تلاوت کې ده په لمانځه کې نه ده پر هم دې مونږ خپل استاذان او د احنافو علماء نيدلي دي «فتاوی دار العلوم ج ۴ ص ۲۲۵»

له سورة اخلاص سره بسم الله ويل

بسم الله د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد د قران کريم يو آيت ده د کوم سورت جزء نه ده دا يو ځل که هر ځای وي ويې دې وايي د قل هو الله خانګړتيا نشته چيرې چې وغواړئ ويې وايا ست لکن داعقيده ساتل چې له قل هو الله پرته له کوم بل سورت سره صحيح نه ده بدعت ګرځي کنه هيڅ پروانه لري «فتاوی رشيديه کامل ص ۲۲۵»

دبسم الله په اړه دمولانا تهانوي رحمه الله فتوی

سوال: په تراويحو کې چې حافظ صاحب قران کريم اوروي نو دی به له هرسورت سره بسم الله په زوره وايي که به يې په کوم يوځای کې وايي ؟ جواب: دسورتونو په مينځ کې کيدو په وجه دبسم الله جزئيت والی خو نه لازميږي خودمذهب په کتابونو کې حرګندونه شته چې بسم الله دمطلق قران جزءده دکوم سورت ياهرسورت جزء نه ده نو ددې تقاضا داده چې يوځای هرومرو په زوره وويل شي کنه دمقتديانو قران به بشپړنه شي دقاري اخفاء په بسم الله کې هم کيږي خکه چې دځينو اجزاؤ دجهراو دځينو سو که ويل جائزدي دقرائت له فن سره خودا مسئله صرف دومره تړون لري وروسته له فقهي سره اړينه ده او په هغه کې دبسم الله اخفاء ده «امدادالفتاوی ج۱ ص ۴۹۵

په تراويحو کې ترهرسورت مخکې بسم الله ويونکی حنفي دخپل مذهب خلاف کوي

په فتاوی رحيميه کې دبسم الله په اړه څرګندونه ده چې له لمانځه دباندې دقران په تلاوت کې دقرائت دامام دمسلک پيروي کيږي او په لمانځه کې دامام اعظم رحمه الله دمسلک اتباع کيږي «فتاوی رحيميه ج ۴ ص ۳۸۵»

له تکبيرتحريمه څخه ترسلام ګرزولو پورې لمونځ دې دامام اعظم رحمه الله له مسلک سره سم وشي او که په بسم الله کې مخالفت وشي دابه مناسب نه وي.

دبسم الله په اړه د امام اعظم رحمه الله مسلک

پردې ټول اهل اسلام اتفاق دي چې په قران کې بسم الله الرحمن الرحيم د سورة نمل جزده او په دې هم اتفاق دی چې له سورة توبه پرته د هر سورت په پيل کې بسم الله ليکل کيږي خو په دې کې د مجتهدينو امامانو اختلاف دی چې بسم الله د سورة فاتحه يا ټول سورتونو جزءده او که نه؟ د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله مذهب دا دی چې له سورة نمل پرته بسم الله د کوم بل سورة جزء نه ده بلکه ځان ته يو آيت دی کوم چې د هر سورت په شروع کې د دوو سورتونو ترمينځ د جلا والي او امتياز ځرګند ولو لپاره نازل شوې د دې احترام او درناوی د قران کريم په رنګه واجب دی د دې ته په نبې او د سه لاس وروړل جائز نه دي «معارف القران ج۱ ص ۱۲»

مسئله: په لمانځه کې تر سورت فاتحه وروسته له سورت پيل کولو څخه مخکې بسم الله ويل نه دي په کار که جهري لمونځ وي او که سري ځکه له رسول الله او له راشده خلفاؤ څخه ثابته نه ده «معارف القران ج۱ ص ۲۰ بحواله شرح منيه»

د خبرې لنډيز

له رواياتو معلوميږي چې بسم الله د قران کريم جزء ده د هر سورت جزء نه ده ځکه په تراويحو کې يو ځل په زوره ويل او د هغه اوريدل ضروري دي او که په زوره بسم الله و نه ويل شي نو د يوه ايت کمی راځي او س دا خبره چې بسم الله په کوم ځای او کوم سورة کې و وايو نو په دې کنبې اختيار دی چيرې چې مو خوښه وي ويې وايا ست ځيني حافظان د قران د ختم په ورځ بسم الله په ځانګړې توګه له سورة اخلاص سره

وایي دبسم الله ویل خوبه صحیح شی خودکوم خاص سورة التزام مه کوئ ترڅو مقتدیان دا (بسم الله) ددې سورة جزء ونه ګڼي غوره داده چې کله له یوه سورة سره کله له بل سورة سره وویل شي داحقررایه داده چې په لومړي ورځ دقران په شروع کې د سورة بقره په پیل کې وویل شي ترڅو په هغه حدیث هم عمل وشي چې هرکارله بسم الله څخه شروع کوي خوداهم ضروري مه بولئ اختیاردئ چېرې چې غواړئ هلته یې ویلای شئ په لمانځه کې خودبسم الله په اړه دامام اعظم رحمه الله پیروي په کارده اوله لمانځه څخه بهرکله چې دقران تلاوت کیږي نو په دې کې دقرائت دامامانو اتباع وي یعني دهرسورة په سرکې دې په زوره وویله شي «مرتب محمدرفعت قاسمي»

اووم باب

سجده سهوه

دسجده سهوې اصول

سجده سهوه په لاندنیو وجهو واجبیږي

۱ دلمانځه له واجباتو څخه کوم واجب په هیره پرېښودل ۲ دکوم واجب له خپله ځایه ځنډول ۳ دیوه رکن په اندازه کوم واجب ځنډول ۴ یو واجب دوه ځله کول ۵ کوم واجب بدلول لکه په جهري لمانځه کې سوکه اوپه سري لمانځه کې په زوره قرائت ویل ۶ دلمانځه له فرضو څخه یو فرض له خپله ځایه ځنډول ۷ کوم فرض له خپله ځایه مخکې کول ۸ کوم فرض مکررول یعنی دوه ځله په هیره اداکول «مسائل سجده سهوه ص ۲۲»

د سجده سهوې کولو طريقه

سوال: په سجده سهوه کې يو اړخ ته سلام ګرزول په کار دي که دواړو لوروته او ترنيمې التحيات ويلو وروسته به سلام اړه وي بيا به سجده سهوه کوي که ترپوره التحيات وروسته او تر سجده سهوې وروسته پوره التحيات ووايي سلام وګرځوي که څنګه؟ جواب: ترپوره التحيات ويلو وروسته به يو اړخ ته سلام ګرزوي چې د سهوې دوې سجدې وکړي بيا به ټول التحيات، درود شريف او نور وايي سلام به ګرځوي «فتاوى دار العلوم ج ۴ ص ۳۹۸ بحواله عالمګيري مصري ج ۱ ص ۱۱۷».

که دواړو لوروته سلام وګرزوي نو څه حکم دی

سوال: يو ازې لمونځ کونکی که د کوم رکن د هيريدو پر مهال د سجده سهوې لپاره پر دواړه طرفه سلام وګرزوي نو څه حکم دی؟ جواب: صرف يوې خواته دې سلام اړوي خو که پر دواړو لورو سلام وګرزوي نو هيڅ پروانه لري بيا دې هم سجده سهوه وکړي «فتاوى دار العلوم ج ۴ ص ۳۸۲ بحواله رد المحتار ج ۱ ص ۲۹۱ باب سجود السهو».

سجده سهوه يې وکړه خو سلام يې ونه ګرځاوى

که کوم چا د سجده سهوې کولو پر مهال پر يو اړخ سلام ونه ګرزاوى مخامخ يې سلام وو ايي سجده سهوه يې وکړه بيا هم سجده سهوه صحيح شوه «مسائل سجده سهوه ص ۲۴۹ بحواله شامي ج ۱ ص ۵۴۲

که يې په سجده سهوه کې يوه سجده وکړه

سوال: امام په لمانځه کې سهوه شو وروسته امام له اصولو سره سم سجده سهوه وکړه خو د سهوې يوه سجده يې وکړه تر التحيات،

درود شريف او دعاويلو وروسته يې سلام وگرزاوى آيا لمونځ صحيح شو كنه ؟ جواب: د سجده سهوې لپاره دوې سجدې واجب دي يوه سجده كفايت نه كوي ځكه نو لمونځ دراگرزولو وړدى «فتاوى رحيميه ج ۳ ص ۳۲ بحواله نور الايضاح ص ۱۱۰ وهدايه ج ۱ ص ۱۳۲».

دواجب په ځنډولو سجده سهوه

سوال: دواجب د ځنډولو له امله په سجده سهوه كې اختلاف دى شرعاً څه حكم دى ؟ جواب: په اصل كې سجده سهوه دواجب په پريښودلو لازميږي خو چونكه دواجب په ځنډولو هم ترک دواجب لازميږي ځكه په ځنډ دواجب سجده سهوه لازميږي «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۳۷۵ بحواله عالمگيرى مصرى ج ۱ ص ۱۱۸ باب سجود السهو»

په ډيرو غلطيانو څو سجده سهوې كيږى

له يو چا څخه په لمانځه كې ډيرې داسې غلطيانې وشوې چې په هره غلطى سجده سهوه واجبيږي نو په دې صورت كې يو ځل سجده سهوه كول د ټولو د جبران لپاره كفايت كوي «مسائل سجده سهوه مخ ۵۰»

په سجده كې د ركوع تسبيح ويل

سوال: په ركوع كې سهواً د سجدې تسبيح ويل يا په سجده كې د ركوع تسبيح ويل په دې سره خو به لمانځه ته څه زيان نه رسيږي ؟ جواب: نه هيڅ زيان نه رسيږي «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۳۸۵ بحواله رد المحتار ج ۱ ص ۴۲۱».

همدارنګه درکوع د تسبیحاتو ویلو په ځای په بسم الله ویلو سجده سهوه نه لازمیږي ځکه چې درکوع تسبیحات واجب نه دی «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۳۹۵»
خو تنزیهي مکروه دي که ورپه یاد شي نو درکوع یا سجدې تسبیحات دې وو ایې تر څو له سنت سره سم شي «مسائل سجده سهوه ۴۲ مخ»

د سجده سهوې په وجوب کې ټول لمونځونه برابر دي

سوال: په تراویحو کې حافظ صاحب پر دوه رکعتونو د ناستې پر ځای ولاړ شو بیا په فتحه ورکولو کښیناستی خو سجده سهوه یې ونکړه د پوښتنې په ځواب کې حافظ صاحب وویل چې تراویح خو سنت دی په دې کې و سجده سهوې کولو یاد لمانځه راګرځولو ته اړتیا نشته نو آیا په تراویحو کې چې له امام څخه داسې غلطی وشي او سجده سهوه ونکړي نو د لمانځه راګرزولو ته ضرورت شته او کنه؟ جواب: د امام داوینا چې تراویح سنت دي په دې کې سجده سهوه کولو ته یا لمانځه راګرزولو ته اړتیا نشته صحیح نه ده لمونځ که فرض وي که واجب، سنت یا نفل وي په ټولو لمونځونو کې د سجده سهوې حکم یورنګه دی اما د اختراو جمعې په لمانځه کې کله چې ډیره زیاته ګڼه ګونه وي او په سجده سهوه کولو کې په مقتدیانو کې د انتشار رامنځته کیدو او د تشویش له امله د لمانځه د خرابیدو خطره وي نو په داسې صورت کې سجده سهوه معافیږي همدارنګه که کوم ځای په تراویحو کې هم خلک ډیروي او په سجده سهوه کولو په خلکو کې د ګډوډۍ او د لمانځه د فساد قوي اندیښنه وي نو سجده

سهوه ساقطيږي او د لمانځه را ګرزولو ته به هم اړتيانه وي «فتاوی رحيميه ج ۳ ص ۲۲ بحواله شامی ج ۱ ص ۷۰۵»

په کومه غلطۍ لمونځ فاسديږي

په غلط ويلو چې کوم لفظ پيدا شي دهغه په اړه امام اعظم رحمه الله او امام محمد رحمه الله دا بحث نه کوي چې هغه لفظ په قران کې شته او که نشته دهغوی په نزد قاعده داده چې په ويلو کې په کومه کلمه کې دزيا توب ياکمښت له امله په دې شرط چې معنی يومخ بدله شي لمونځ فاسد يږي کنه نه فاسد يږي لکه فَمَالَهُمْ لَايُؤْمِنُونَ کې لا پرېږدي ياد «وَعَمِلَ صَالِحاً فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ پر ځای يې وَعَمِلَ صَالِحاً وَكَفَراً فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ ووايي نو لمونځ فاسديږي - او د کومو حروفو ترمنځ چې توپير په مشکل سره کيږي هغه که يو د بل پرځای وويل شي نو لمونځ نه فاسديږي لکه سين ،صاد ،ضاد ،ظ ،ذال او نور او د کومو ترمينځ چې فرق آسان دی هغه که يو د بل پر ځای وويل شي او معنی يومخ بدله شي نو لمونځ فاسديږي لکه دصالحات پرځای طالحات وويل شو نو لمونځ فاسديږي او که چيرې د الفاظو په بدلون معنی يومخ بدله شي نو په لمانځه کې فساد يقيني دی او کنه نه دی لکه دعليم پرځای خبير، حفيظ او نور وويل شي نو لمونځ صحيح دی او د وعدا علينا اناکنا فعلين پرځای په غافلين ويلو لمونځ فاسديږي او که چيرې د دوو جملو الفاظ بدل کړل شي او معنی هم بدله شي نو لمونځ فاسد دی لکه په ان الابرار لفی نعيم وان الفجار لفی جحيم کې د جحيم برځای نعيم او د نعيم پرځای په جحيم ويلو لمونځ فاسديږي او که چيرې معنی نشي بدله لکه لهم فيها زفير و شهيق .. شهيق و زفير ووايي

نو لمونځ صحيح دی «فضائل ايام والشهور مؤلف خليفه مولانا تهانوي رحمة الله عليه ص ۱۴۷ اشرف الايضاح شرح نور الايضاح ص ۱۳۲ وامداد المفتيين ص ۲۸۵»

په لمانځه کې پر کوم ليکل شوي شي د نظر لګيدل

دلمونځ کونکی نظر که په کوم ليک ولګي او په هغه پوه شي نو په دې صورت کې دده لمونځ نه فاسديږي ځکه چې دا دلمونځ کونکي فعل نه دی بلکه بې اختياره دده په فهم کې راغي ځکه چې په عامه توګه پردې نظرلګی او کتونکی په دې پوهيږي له همدې امله علمافرمايي چې دلمونځ کونکي مخ ته دداسې شي نه ايښودل په کار دي ځکه چې په لمانځه کې له شبهاتو ځان ژغورل ضروري دي او له صحيح مذهب سره سم لمونځ صحيح کيږي په خلاف دامام محمد رحمة الله عليه «بحواله اشرف الايضاح شرح نور الايضاح ص ۱۳۷»

يوه سجده کول څنګه دي

سوال: حافظ صاحب په يوه رکعت کې يوه سجده وکړه کښيناستی دوهمه سجده مقتديان څنګه ورپه ياد کړي که مقتدي الله اکبر يا سبحان الله وايي نو حافظ صاحب ولاړيږي ؟ ځواب: دورپه يادولو مطلب داوي چې د سبحان الله او نورو په ويلو امام ته خبرورکول کيږي چې څه کمښت او زياتوب په لمانځه کې راغلی دی هغه به پخپله فکر کوي ورپه ياد وي به يې چې کوم فعل پاته شو نه دا چې خاص هغه فعل ورونبودل شي کوم چې پاته شوی دی ځکه نو دخبرورکولو لپاره د سبحان الله ويل کافي دی که چيرې ده ته ورپه

یادشوه نوسمه ده کنه ترلمانځه وروسته په معلومیدودې لمونځ راوګرزوي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۷۲»

دحافظ یوآیت څوځله ویل

سوال: دتراویحو په لمانځه کې کوم چې سنت مؤکددی که کوم حافظ یوآیت درې څلورځله ووایي نوسجده سهوه ضروري ده او کنه ؟ ځکه چې دارد و په رساله مفتاح الصلاة کې لیکل شوی چې دیوه آیت په دوه ځله ویلوسجده سهوه لازمه ده صحیح څرنګه ده ؟ جواب: څوڅوځله دیوه ایت په ویلوسجده سهوه نه راځي اوپه مفتاح الصلاة کې چې څه لیکل شوی دي په هغه پوه نه شوم شاید هغه وخت وي چې صرف یوآیت څوځله ووایي نورڅه ونه وایي یا یوازې سورة فاتحه ووایي سورت ونه وایي نودواجب په ترک کیدوسره سجده سهوه لازمیږي خوپه تراویحوکې داسې نه کیږي چې نورڅه یې نه وي ویلي په تراویحوکې زیاتره داپېښیږي چې دوروستني آیت په یادنه ورتلوله کبله یوآیت څوځله ویل کیږي په دې کښې دسجدې دلازمیدوهیڅ وجه نشته «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۰۲»

دمتشابه (سره ورته) حکم

سوال: دلمانځه ورکولوپرمهال که دحافظ صاحب هیرشي یادمتشابه په وجه دبل ځای آیتونه ویل پیل کړي بیاورپه یادیدوسره دهیریدوله امله له سره قرائت شروع کړي نولمونځ فاسدیږي او کنه ؟ جواب: په دې صورت کې لمونځ صحیح دی اوسجده سهوه واجب نه ده اوکه په غلطی سره یې سجده سهوه وکړه بیاهم لمونځ صحیح شو

«فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۳۹۳ بحواله ردالمحتار لومړی ټوک ص ۵۲۰ باب الاستخلاف»

د تراویحو په لومړي رکعت کې تر کیناستلو وروسته ولاړیدل

سوال: د تراویحو په لومړي رکعت کې امام دولاړیدو پرځای د کیناستلو اراده وکړه له شاڅخه اشاره ورته وشوه نوسیده ودریدی د دوو رکعتو نو تر پوره کولو وروسته یې سلام وګرزاوی سجده سهوه یې ونه کړه نو لمونځ صحیح شو او که نه ؟ که نه دی صحیح شوی نو ترخبریدو وروسته په جماعت لمونځ وکړو که یو ازې ؟ جواب: په دې صورت کې لمونځ صحیح شو دراګرزولو ضرورت نشته او سجده سهوه لازمه نشوه ځکه چې تر یوه رکعت وروسته که څه اندازه کښیني بیا ولاړ شي نو دا هم فقهاؤ جائز لیکلي چیرته چې بیا یوازې د کیناستلو اراده وکړي او په پوره توګه کیناستلی هم نه وي چې ولاړ شي په دې صورت کې نه سجده سهوه لازمه ده نه د لمانځه دراګرزولو ارتیا شته «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۷۷ بحوال ردالمحتار باب صفة لصلاة ج ۱ ص ۴۳۸»

په لومړي او دریم رکعت کې په څومره اندازه کیناستو سجده سهوه لازمیږي

سوال: که په لومړي یا دریم رکعت کې سهواً کیني بیا ولاړ شي نو په څومره اندازه ځنډ کولو سجده سهوه لازمیږي ؟ جواب: په اوږده ناسته سجده سهوه لازمیږي د التحیات ویلو په اندازه او یا دې نه دې تر دې په لږ ناسته سجده سهوه نه لازمیږي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۷۷ بحواله ردالمحتار ج ۱ ص ۴۳۸ باب صفة الصلاة»

درېې رکعته کول څنګه دي

سوال: حافظ صاحب پر دوهم رکعت کيناستی پر دريم رکعت يې ترناستي کولو وروسته سلام وګرزاوی نو په دې صورت کې تراويح صحيح کيږي او کنه ؟ جواب: په داسې صورت کې دلمانځه راګرزول ضروري دي ځکه درې رکعته نفلونو ته اعتبار نشته او کوم قران کريم چې وويل شو دهغه هم راګرزول ضروري دي «فتاوی رحيميه ج ۴ ص ۴۲۰ بحواله شامي ج ۱ ص ۷۵۲»

دامداد الفتاوی پر حاشيه استاذ محترم ددې مسئلې تشريح ليکلې ده چې که پر دوهم رکعت يې ناسته هيره شوه ولاړشو او په دريم رکعت کې ترناسته کولو وروسته يې سجده سهوه و کړه سلام يې وګرزاوی نو درې سره رکعتونه بې کاره شول لومړی شفعه فاسده شوه دفاسد يدو په وجه په درې سره رکعتونو کې ويل شوی قران کريم راګرزول ضروري دي «حاشيه امداد الفتاوی ج ۱ ص ۴۵۸»

حافظ و دريم رکعت ته ولاړشو

سوال: که چيرې په تراويحو کې په غلطۍ سره حافظ و دريم رکعت ته ولاړشو او په دريم رکعت کې ورپه ياديدو وروسته څلورم رکعت هم اداکړي نو دا څلور رکعته بلل کيږي که دوه ؟ که دوه شميرل کيږي نو په هغه نورو دوو کې چې کوم قران وويل شو دهغه دراګرزولو ضرورت شته او کنه ؟ جواب: د څلورو رکعتونو کولو په صورت چې کوم قران په اخرنی دوو رکعتونو کې وويل شو دهغه دراګرزولو اړتيا نشته «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۵ بحواله عالمګيري ج ۱ ص ۱۱۷»

ددې تفصیل دامداد الفتاوی پر حاشیه استاذ محترم حضرت مولانا مفتی سعید احمد صاحب پالنپوری مد ظله داسې لیکلي دي چې که یې پر دوهم رکعت د تشهد په اندازه ناسته وکړه ولاړ شو او تر څلورو رکعتونو پوري وروسته یې سلام وګرځاوه نو څلور سره رکعته صحیح کیږي ټول په تراویحو کې شمیرل کیږي او سجده سهوې ته اړتیا نشته «حاشیه امداد الفتاوی ج ۱ ص ۴۹۸»

څلور رکعته تراویح چې په کې اوله ناسته ونکړي

سوال: په تراویحو کې امام دریم رکعت ته ولاړ شو دغه له وجهې یې څلور رکعته پوره کړل خو پر دوهم رکعت یې ناسته ونه کړه په داسې صورت کې په سجده سهوه کولو دوه رکعته ګرزي که څلور؟ جواب: په درمختار او شامي کې د تراویحو په بیان کې ددې تشریح راغلې ده چې په داسې صورت کې دوه رکعته تراویح بلل کیږي «فتاوی دار العلوم ج ۱ ص ۲۷۲ بحواله رد المحتار ج ۱ ص ۶۶۰ و ۶۶۱»

په دوهم رکعت کې په هیره ولاړ شو

سوال: که چیرې د تراویحو تر دوهم رکعت وروسته د ناستې پر ځای ولاړ شو وروسته ورپه یاد شو نو څه به کوي؟ جواب: له سجدې څخه مخکې که ورپه یاد شو کښیني دې او سجده سهوه دې وکړي «فتاوی دار العلوم ج ۴ ص ۴۷۵ بحواله رد المحتار باب سجود السهو ج ۱ ص ۲۹۶» ددې مسئلې تشریح دامداد الفتاوی پر حاشیه استاذ محترم مد ظله داډول کړې ده چې که چیرې په تراویحو کې تر دوهم رکعت وروسته یې ناسته هیره شوه ولاړ شو نو تر څو چې د دریم رکعت سجده یې نه وي کړې کښیني به

اوسجده سهوه دې وکړي لمونځ دې پوره کړي او که دد ریم رکعت سجده یې وکړه نو څلورم رکعت دې ورسره یوځای کړي سجده سهوه دې وکړي سلام دې وګرزوي خو دغه څلور رکعتونه صرف دوه شمیرل کیږي او په اوله شفعه کې چې کوم قران وویل شو هغه به راګرزوي ځکه چې لومړۍ شفعه داولې ناستې په پرینبودلو فاسده شوه ځکه . نو په تراویحو کې نه شمیرل کیږي او په دې کې ویل شوی قران راګرزول ضروري کیږي او چونکه تکبیر تحریمه باقي ده ځکه دوهمه شفعه صحیح کیږي او په هغه کې ویل شوی قران هم معتبر دی «حاشیه امداد الفتاوی ج۱ص ۴۹۷»

دتراویحو پر دوهم رکعت دناستې په هیرېدو پر څلورم رکعت دناسته کولو څه حکم دی

سوال: په تراويحو کې ناسته هیره شوه ولاړ شو(بې له ناستې) که څلور رکعته پوره کړي سجده سهوه وکړي نو صرف دوه رکعته ګڼې آیا دغه دوه رکعته په تراویحو کې شمیرل کیږي او کنه ؟ آیا په سنتو او نفلو کې آخري ناسته فرض ده او کنه ؟ په دې صورت کې دفرض په اداکولو کې آیا صرف ځنډ راځي که فرض فوت کیږي ؟ جواب: په نفلو کې تر هر دوه رکعته وروسته ناسته کول ضروري دي ځکه نو په نفلو کې که پر دوه رکعته ناسته ونکړله شوه نو لمونځ فاسدیږي خو څلور رکعته او تر څلورو زیات شپږ، آته ،لس ، دوولس ،څورلس ،شپاړس او اتلس یا شل رکعته که وشي او په مینځ کې ناسته ونه شي نو دسجده سهوې په کولو ځیني فقهاء دوو رکعتو تراویح قائل دي او ددغو ښاغلیو په نزد ناسته پای ته

رانقليږي نوصرف دفرضو په ادا ينه کې ځنډ راځي چې جبران يې په سجده سهوه کيږي تراويح مؤکد سنت په جماعت سره کيږي ځکه دديې درجه فرض اوواجب ته نږدي ده محض نفل نه ده ځکه په تراويحو کې ځيني فقهاء دوو رکعتونو دادايني وينا کوي «فتاوى رحيميه ج ۴ ص ۴۲۱ بحواله شامي ج ۱ ص ۷۵۲ باب الوتر والنوافل»

که ترڅلوررکعته کولوورو سته سجده سهوه ونکړي نو...

سوال: حافظ دتراويحو ددوورکعتونو کولوپرځاى په يوه سلام څلوروکړې حافظ چې دريم رکعت ته ولاړيدى فتحه ورکول شوه خوده وانه خيسته اوپه پايې کې يې سجده سهوه هم ونه کړه په دې صورت کې څورکعته تراويح اداشوې که نه دي صحيح شوې نودقرائت راګرزولوضرورت شته اوکنه ؟ جواب: دريم رکعت ته دولاړيدوپرمهال چې فتحه ورکول کيده نو حافظ صاحب ته کيناستل په کارؤ خوکله چې نه کيناستى اوڅلوررکعتونه يې پوره کړل نوپه سجده سهوه کولوسره سلام ګرزول په کارؤپه دې صورت کې به دوه رکعته تراويح شوې واى اودوه نفل خوچې سجده سهوه يې ونه کړله نوغلطي يې وکړه په دې صورت کې دوه رکعته تراويح شوې خوهغه هم واجب الاعاده دي په وخت کې دننه دننه يې راګرزول په کاردي دوخت تروتلوورو سته ددي قضاء نشته خوپه دغوڅلوررکعتونو کې چې څومره قران ويل شوى دهغه راګرزول ضروري دي که پردوه رکعته يې ناسته وکړه نو څلوررکعته تراويح اداشوې اودقرائت راګرزولوته اړتيانشته «فتاوى رحيميه ج ۲ ص ۴۱۴»

بې له ناستې د څلورو رکعتونو په اړه د مولانا تهانوی رحمة الله عليه رايه

سوال: په تراويحو کې که چيرې د دوو رکعتونو پر ځای امام څلور رکعته وکړي په مينځ کې ناسته ونه کړي او په پای کې سجده سهوه وکړي نو لمونځ صحيح کيږي او که نه ؟ او که صحيح کيږي نو دوه رکعته صحيح کيږي که څلور ؟ او که دوه صحيح کيږي نو اولني دوه که اخرني ؟ او د کوم رکعتونو د قران کريم د راګرزوني ضرورت به وي ؟جواب: له عالمګيري لومړی ټوک ص ۷۵ څخه معلوميږي چې په ناسته نه کولو لومړی شفعه هم نه فاسد يږي خو ټول هم نه شميرل کيږي بلکه چې دواړې شفعې سره يو ځای شي يوه شفعه بلل کيږي او کله چې ټول نه شميرل کيږي نو يوه شفعه به بله کوي - پاته شوه دا خبره چې د کومې شفعې ويل شوی قران کريم معتبر دی او د کومې قران بايد راوګرزول شي نو دا پردې موقوف دی چې دا معلوم شي چې کومه شفعه تراويح ده چې په هغه کې ويل شوی قران معتبر شوی دی او کومه نفل چې په هغه کې ويل شوی قران دا عادې وړدی نو په دې کښې ما ته شک دی له نورو علماؤ څخه د تحقيق وشي زما په فکر که صرف د قران د راګرزولو په هکله د آسانی لپاره دوه هم قول عملي کړل شي کوم چې دوې شفعې معتبرې بولي نو ګنجائش شته نو شفعه خودې يوه بله وکړي اما قران دې نه راګرزوي «امداد الفتاوی ج۱ ص ۴۹۸».

که په تراويحو کې پر دوهم رکعت ناسته هيره شوه ولاړ شو نو تر څو چې دوديم رکعت سجده يې نه وي کړې کښې دې او سجده سهوه دې

وکړي لمونځ دې پوره کړي او که دریم رکعت سجده یې کړې وه نو څلورم رکعت دې ورسره یو ځای کړي تر سجده سهوه کولو وروسته دې سلام وګرزوي خو داڅلور رکعته صرف دوه شمیرل کیږي او په اوله شفعه کې چې څو مره قران ویل شوی دی هغه به راګرزوي ځکه چې لومړی شفعه دناستې پرینبودو په وجه فاسده شوه ځکه نو په تراویحو کې نه شمیرل کیږی او په دې کې د ویل شوي قران اعاده ضروري کیږي البته تحریمه خو پاته ده ځکه دوهمه شفعه صحیح کیږي او په هغه کې ویل شوی قران هم معتبریږي «حاشیه امداد الفتاوی ج۱ ص ۴۹۷ »

په دوهم رکعت کې تر تشهد وروسته ولاړیدل او بیرته کیناستل

سوال: که په دوه رکعته کې تر تشهد یعني التحیات وروسته ولاړشو او بیرته کښیناستی نو بیا التحیاته ووایي سلام و ګرزوي که تر تشهد ویلو وروسته سجده سهوه وکړي او بیا سلام وګرزوي؟ یو داچې تر پوره ولاړیدو وروسته سمدستي کښیني دوهم څه ووایي دریم ترسورت خسولو وروسته کیناستی ددریو سره حالتونو یو حکم دی که بیل بیل؟ جواب: په دري سره صورتونو کې دې کښیني التحیات دې ووایي او سجده سهوه دې وکړي بیا دې التحیات اونوروایي سلام دې وګرزوي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۳۸۳ بحواله ردالمحتار ج۱ ص ۷۰۰ »

که یو سورت شروع کړي بیا هغه پرېږدي بل ووایي

سوال: امام دتراویحو داخرني دوه رکعتیزو په لومړي رکعت کې ترسورة فاتحه وروسته قل اعوذ وویل سمد ستی یې تبت یدا شروع کړه یوه مقتدي دښود لو په توګه قل اعوذ برب الفلق پوره ووایي امام دوهم رکعت هم پوره کړاما سجده سهوه یې ونکړه نو په دې صورت کې لمونځ صحیح کېږي که به دد غود وور کعتونو اعاده ضروري وي اوداچې سجده سهوه ضروري ده او کنه؟ جواب: په دې صورت کې لمونځ صحیح دی او سجده سهوه واجب نه ده لکه چې په ردالمحتار لومړی ټوک ص ۵۱۰ کې ځرګند و نه شته «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۳۷۵»

ځینې حافظان په رکوع او سجده کې قران کریم یادوي

۱ مسئله: دپوښتنې ور مسئله داده چې ځینې کچه حافظان دتراویحو په رکوع، سجده التحیات او نوروکې د تسبیحاتو پر ځای په خپل زړه کې مختنه آیتونه وایي ۲ یا یې په ژبه سوکه وایي ۳ یا خو یې په ژبه نه وایي تسبیحات هم وایي خو زړه او دماغ یې راتلونکو آیتونو ته متوجه وي دد غو دریو سره صورتونو تفصیلي او له دلیل سره شرعي حکم بیان کړئ جواب: درکوع او سجدې په حالت کې قران کریم ویل صحیح نه دي ځکه چې په رکوع او سجده کې له قرائت ویلو څخه په حدیث کې منعه راغلې ده بیا که د التحیات پرځای قران وویل شي نو سجده سهوه کول لازمیږي ځکه چې تشهدویل واجب دي او دهغه په ترک سره سجده سهوه لازمیږي که سجده سهوه ونه کړي نو لمونځ به نیمګړی وي راګرزول یې واجب دي

وقال فی البحرباب السجود السهو یجب سجود السهو بترکه (ای بترک التشهد) ولو قلیلا فی ظاهرالروایة فانه ذکرواحد منظوم فترک بعضه کترک کله «شامي ج۱ ص ۳۱۳) څرنګه چې په رکوع اوسجده کې تسبیحات سنت دي نوددوی په پرینبودولمونځ له تنزیهي کراهیت سره اداکیږي ۳ په دې صورت کې که څه هم لمونځ خوبه اداشي امااسې کول غوره نه دي فقط والله اعلم «حبیب الرحمن خیرابادي عفاالله عنه مفتی دارالعلوم دیوبند ۱۴۰۲/۷/۲».

دضادلفظ باید څرنګه اداشي

سوال:په لمانځه کې دضادلفظ باید څنګه وویل شي ؟ جواب:ضادله خپل مخرج څخه ویل په کاردي که نشي اداکیدای نوهررنګه چې اداشي لمونځ صحیح کیږي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۹۱ باب زلة القاری بحواله ردالمحتار ج۱ص۵۹۱ ».

ضالین په دالین ویلوباندې لمونځ صحیح کیږي کنه

سوال: ضالین په دالین ویلوباندې لمونځ صحیح کیږي اوکنه ؟ جواب:که چیرې ضاد دمفخم دال (ډک دال) په صورت ویلوسره دلمانځه نه صحیح کیدوحکم ورکول شي نودټول عرب قاریانو ،علماؤ اوامامانو څخه به دهیچاهم لمونځ صحیح نه شي اونه به دمقتدیانولمونځ صحیح شي ځکه چې هغوی ټول یې دالین وایي نومعلومه شوه چې دغه حکمورباندې لګول غلط دي اوپه کې حرج دی خوغوره همدغه ده چې په مخرج کې یې داداکولو هڅې کوئ «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۹۲ ».

د ضاد دلفظ په اړه د مولانا رشید احمد ګنګوهي رَحِمَهُ اللهُ فتوی
د، ظ، ض د حروفو په بېلوالي او د مخارجو په بېلوالي کې خو شک نشته او په دې کې هم شک نشته چې قصداً کوم حرف د بل په مخرج کې اداکول سخته بې ادبي ده او زیاتره لمونځ هم ورباندې فاسدېږي خو کوم خلک چې معذور دي او دوی د غه لفظ په مخرج کې نشي اداکولای هغوی دې ترخپله وسه کوښښ کوي د دوی لمونځ هم صحیح دی او ډک دال ښکاره ده چې په خپله کوم حرف نه دی بلکه ضاد دی په خپل مخرج کې په پوره توګه ادا نشو نو کوم خلک چې خالص دال یا خالص خاء قصداً وو ایي په هغوی پسې لمونځ مه کوئ خو کوم خلک چې د ډک دال په اواز کې وايي په هغه پسې لمونځ کوئ کوم څوک چې سره له قدرت درلودلو ضاد د ضاد په مخرج کې نه اداکوي هغه ګنهګار هم دي او که د بل لفظ په بدلون معنی بدله شوه نو لمونځ به هم نشي صحیح او که سره له هڅو او کوښښه ضاد په خپل مخرج کې نشي اداکولای نو داسې سړی معذوردی د ده لمونځ صحیح کېږي او څوک چې په خپله پرویلو قادروي نو په داسې معذور پسې لمونځ کولای شي خو کوم څوک چې قصداً خالص «دیاظ» وايي په هغه پسې لمونځ نه صحیح کېږي «فتاوی رشیدیه کامل ص ۲۷۴ و ۲۸۴»

د ضاد دلفظ په اړه د پاکستان د مفتي اعظم محمد شفیع صاحب رَحِمَهُ اللهُ فتوی

دعوامو لمونځونه خو بیله تفصیل او تنقیح په هر حال صحیح کېږي که ظاء وو ایي او که دال یا زاء، ځکه چې هغوی قادر هم نه دي، او کېږي چې

همدغه يې اصلي حرف اداکړي اودقاريانو اوعلماؤ په لمانځه کې بيان شوی تفصيل شته چې که غلطي قصداً يا په بې پروايي سره وي لمونځ فاسددی اوکه دژبې داوښتو يا تميزنه کولو په وجه وه نو جائزدی «جواهر الفقه ج۱ ص ۳۳۸»

يادونه: خوله جوازاونه فاسديدو څخه دانه ثابتيږي چې سړی دافکروکړي چې دتل لپاره غلط رواشول اوويونکی به ګنهګارهم نه وي بلکه دخپل وس اوقدرت سره سم دصحيح ويلو مشق کول اوکوشش جاري ساتل ضروري دي کنه ګنهګاربه شي که څه هم لمونځ فاسدنه وي لکه چې په عالمګيري لومړي ټوک ص ۴ څلورم باب کې څرګندونه شته «احقرمحمد شفيع الديوبندي غفرله خادم دارالافتاء دارالعلوم ديوبند ۲۰ / ۵ / ۱۳۵۱ هج»

په سلام کې که دعليکم پرځای «عليتم» له خولې ووزي

سوال: که چيرې په السلام عليکم کې دعليکم پرځای عليتم له خولې ووزي نولمونځ صحيح کيږي کنه ؟ جواب: لمونځ صحيح شو «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۵ بحواله ردالمحتار ج۱ ص ۴۱۸ باب صفة الصلاة»

په لمانځه کې د «سلام عليکم» ويلو حکم

سوال: که چيرې امام دالسلام عليکم ورحمة الله پرځای صرف «سلام عليکم ورحمة الله» ووايي نو څه حکم دی ؟ جواب: دادسنت خلاف دی په دې سره لمونځ مکروه کيږي داهغه وخت کله چې امام په تلفظ کې سلام عليکم ووايي کله داسې هم کيږي چې الف خلک وانه وري امام

خوالسلام علیکم ووایې خلک سلام پراوري نود امکروه نه دی «کفایت المفتی ج ۳ ص ۴۳۹»

په سلام کې باید مخ څو مره و ګرزول شي

عن سعدبن ابی وقاص قال کنت اری رسول الله ﷺ یسلم عن یمینه وعن یساره حتی اری بیاض خده «رواه مسلم» ژباړه: له حضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه څخه روایت دی چې ما په خپله رسول الله ﷺ لیدلی ؤ چې دسلام کولو پرمهال به ده مبارک ﷺ ښی او کیڼ اړخ ته مخ مبارک ګرزاوی او مخ مبارک به یې ښي او کیڼ طرفته دومره اړاوی چې مونږ به د هغه دبارخو مبارک سپین والی لیدی «معارف الحدیث ج ۳ ص ۳۱۰»

اتم باب

دتلاوت سجده

دتلاوت دسجدې ثبوت او فضائل

په صحیحین (بخاري او مسلم) کې روایت راځي حضرت ابن عمر رضی الله عنه وایي: رسول ﷺ به دقران کریم تلاوت کاوه کله چې به یې دسجدې سورة ووایه نوده مبارک به سجده کوله او مونږ به هم ورسره سجده کوله تردې چې په مونږ کې به ځینې حضراتو دتندي لګولو ځای نه موندی رسول الله فرمایلي چې ابن ادم چې کله دسجدې آیت وایي اوسجده کوي نو شیطان یو طرفته شي ژاړي او وایي های غضبه ! دآدم اولادې ته دسجدې حکم وشو هغوی سجده وکړه ددوی لپاره جنت دی او ماته دسجدې حکم وشو خوما حکم ونه مانی نو زما لپاره دوزخ دی .

دامت په دې اجماع ده چې په قران کريم کې ځينې ځانګړي ځايونه داسې دي چې دهغوی په ويلو شرعې دسجدې کولو حکم کړی «کتاب الفقه على المذاهب الاربعة ج۱ ص ۷۴۴»

دتلاوت سجده فرض ده که واجب او ددې داداکيدو طريقه څه ده

سوال: دتلاوت سجده فرض او که واجب ده څرنګه بايد اداشي ؟يعني په سجده کې اوله سجدې پيل کولو مخکې ياترسجده وروسته څه څه بايد وويل شي ؟ اوکله چې څوک دقران کريم په تلاوت مشغول وی دسجدې آيت ووايي نودی پرځنګنو شي په ناسته سجده وکړي که جګ شي بيادولاړې څخه سجدې ته ولاړشي ؟ جواب: دتلاوت سجده واجب ده طريقه يې داسې ده چې الله اکبروو ايي سجدې ته لاړشي اودرې ځله يازيات نه زيات ... پنځه يااووه ځله» سبحان ربى الاعلى ووايي بياالله اکبر ووايي پورته شي سجده اداکيږي که په ناسته سجدې ته ولاړی اوترسجدې وروسته بياناست وُبياهم څه پروانلري غوره داده چې جګ شي سجدې ته ولاړشي اوترسجدې وروسته جګ شي «فتاوى دارالعلوم ج۴ص ۴۳۰».

دتلاوت دسجدې نيت

مستحب داده چې کله دسجدې اراده وکړي نوولاړشي سجده وکړي اوترسجده کولووروسته ولاړشي ياکښينی دواړه صورتونه جائزدي کله چې دسجدې اراده وکړي نوپه زړه کې دنيت وکړي يادې په خوله ووايي چې دالله ﷻ لپاره دتلاوت سجده کوم دالله اکبرپه ويلو دې سجده اداکړي «ترجمه عالمګيري ج۱ ص۲۱۷»

دتلاوت دسجدې داداکولو طریقه

داحنافو په نزد دتلاوت دسجدې طریقه یادهغه پیژندنه داده چې سړی په دوه تکبیرونویوه سجده وکړي یوتکبیرخود سجدې لپاره پرځمکه دتندي ایښودلو پرمهال اودوهم ځل له سجدې څخه راپورته کیدوپروخت دتلاوت په سجده کې تشهداوسلام نشته دادواړه تکبیرونه سنت دي څکه نوکه بیله تکبیرویلوتندی پرځمکه باندې کیږدي هم سجده اداکیږي خومکروه ده «کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة ج۱ ص ۷۳۵»

په تراویحوکې دتلاوت دسجدې اعلان کول څنګه دي

سوال: په تراویحوکې دسجدې اعلان کیږي چې په فلاني رکعت کې سجده ده شرعاً ددې څه حکم دی؟ جواب: په خیرالقرون یعني غوره پیړیوکې په عربواوعجموکې دګڼ شمیرناپوهانواونوي مسلمانانوله وجودسره سره له سلفوصالحینو څخه دااعلان ثابت نه دی حال داچې هغوئ داسلامي اعمالوپه تبلیغ کې ډیرپیاوړي اودعبادت دسمون ډیرحریص ؤ اوفقهاؤهم د دې ډول اعلان لارښوونه نه ده کړې که اړتیاوای نوهرومرو به تاکیدورباندې شوی ؤ لکه چې دمسافرامام لپاره په ځانګړي توګه تاکیدفرمایل شوی چې لمونځ کونکیوته دې دخپل مسافروالي خبرورکړي که ترلمانځه مخکې وي که وروسته چې زه مسافریم څکه چې دلته ضرورت دی خودتلاوت په سجده کې په عامه توګه اړتیانه وي که بیله اړتیاداطریقه جاري وه نوداقوی اندیښنه شته چې لکه څنګه چې په ځینې ښارونوکې رواج اوودودی چې دجمعې دلمانځه پروخت

داسې اعلان کیږي الصلاة سنة قبل الجمعة یاداویل کیږي الصلاة رحمکم الله اوداعلان سنت یافعل حسن ګڼل کیږي همدارنګه د تلاوت دسجدې دغه اعلان هم ضروري اوډیر ممکن اوشونی ده چې سنت وګڼل شي حضرت شاه ولی الله رحمه الله یادونه کړې چې دمباح شیانو به ضروري ګڼلو کې له نورو ناورتیاؤپرته ددې خبرې هم احتمال دی چې مباح سنت وبلل شي اونامسنون مسنون بلل ددین تحریف (بدلول) دي خو که زیاته ګڼه ګونه وه لکه په غټه ښارونو کې چې وي چې ترلیرې صفونه ولاړوي او څه صفونه په پورتنیو پوړیزو او منزلونو کې وي او د غلطید وقوي احتمال وي چې خلک به دتلاوت په سجده خبرنشي اودسجدې پرځای به رکوع کول پیل کړي نوپه داسې ځایونو کې «دالضرورات تبیح المحظورات ترقاعده لاندې داعلان اجازه ورکول کیدای شي خو هرځای دغه حکم نه دی «فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۲۴۵ »

که دسجدې آیت دسورت په پای کې راشي

سوال:که په تراویحو کې دسجدې آیت درکوع یاسورت په پای کې راشي نوڅرنګه کول په کاردي ؟ جواب:که درکوع یاسورت پرختمیدو دسجدې آیت راشي نو سجدې داداکیدو دوې طریقې دي یوه داچې سمدستي دتلاوت سجده وکړي ولاړشي بیاپرمخ څوآیتونه ووایي رکوع وکړي دوهمه داچې په رکوع کې دتلاوت دسجدې په نیت کولوسجده اداکیږي خو سمدستي به رکوع کوي دوهم صورت مناسب نه دی ځکه چې یوازې دامام نیت کافي نه دی دمقتدیانو سجده تلاوت به پاتې شي اوترسلام وروسته به یې

اداکوي سمدستی جلا سجده باید وکړي که دسورت په پای کې سجده وي نوکله چې دتلاوت له سجدې راپورته شي ددوهم سورت دوه درې آیتونه دې وو ایي بیادې رکوع وکړي او که درکوع په پای کې سجده وه نوترسجده وروسته دې ددوهمې رکوع څه برخه ولولي دلمانځه رکوع دې وکړي «فتاو دارالعلوم ج ۴ ص ۲۸۷ بحواله ردالمحتار ج ۱ ص ۷۲۳»

په فتاوی محمودیه کې لیکل شوي چې که دسورت په پای کې دسجدې آیت ؤ نوچې سجده وکړي راولاړشي سمدستي دې رکوع نه کوي (په دې فکرچې سورت پای ته ورسید) بلکه باید ددریو آیتونو په اندازه قرائت ووایي رکوع وکړي «فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۵۸»

دتلاوت سجده دلمانځه له سجدې سره اداکیږي او کنه ؟

سوال: که چیرې حافظ په تراویحو کې دتلاوت سجده دلمانځه له سجدې سره اداکړه یعني درې سجدې یې وکړې نولمونځ څنګه شو ؟
جواب: په لمانځه کې چې کله دسجدې آیت تلاوت کړي باید هم هغه وخت سجده وکړي او که یې وځنډوله دلمانځه له سجدې سره یې اداکړه نوسجده سهوه لازمه ده ترسجده سهوې وروسته دلمانځه دراګرزولو ضرورت نشته قصداً دتلاوت سجده ځنډول صحیح نه دي دسجدې ترآیت سمدستی وروسته یازیات نه زیات تردوه آیته وروسته دتلاوت سجده کول ضروري دي که نه ګنهګاربه شي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۷۵ بحواله ردالمحتار ج ۱ ص ۷۲۲ باب سجدة التلاوت»

که دتلاوت دسجدې يوځه برخه ووايي

سوال: دسجدې دآيت دپاى الفاظ يې ونه ويل نو سجده تلاوت واجب ده اوكنه ؟ جواب: كه چيرې هغه كلمه يې ولوسته په كومه كې چې دسجدې لفظ دى نود تلاوت سجده واجبيږي «فتاوى دارالعلوم ج ۴ص ۴۲۹ بحواله ردالمحتار ج۱ ص ۷۱۵ باب سجود التلاوت»

په ركوع اوسجده كې دتلاوت دسجدې نيت كول څنګه دي

سوال: حافظ صاحب په تراويحو كې دسورة الاعراف دسجدې آيت ولوستى ركوع ته ولاړى سجده تلاوت يې ونكړه ترلمانځه وروسته دپوښتنې په جواب كې حافظ صاحب وويل چې كه په ركوع ياسجده كې دتلاوت دسجدې نيت وكړل شي نود تلاوت سجده اداكيږي آيادا خبره صحيح ده ؟ جواب: په لمانځه كې دتلاوت دسجدې دادا كولو طريقه داهم ده چې دسجدې ترايت ويلو وروسته سمدستي دلمانځه ركوع وكړي (لكه په پوښتل شوي صورت كې چې شوي دي) يادوه درې كوچني آيتونه ووايي دلمانځه ركوع وكړي اوپه هغه كې دتلاوت دسجدې نيت وكړي نود تلاوت سجده اداكيږي كه يې په ركوع كې نيت ونكړ نودلمانځه په سجده كې دتلاوت سجده اداكيږي كه يې دسجدې نيت كړى وي. كنه خو كه امام په ركوع كې دتلاوت دسجد نيت وكړ اومقتديانوونكړى نودهغوى سجده نه اداكيږي څكه نو په داسې صورت كې امام ته په كاردي چې په ركوع كې دې دتلاوت دسجدې نيت نه كوي دلمانځه په سجده كې به دټولودتلاوت سجده اداشي «فتاوى رحيميه ج ۴ص ۳۹۲ بحواله ردمحتار ج۱ص ۷۲۳ و ۷۲۴»

په بيان شوي صورت کې که له امام سره مقتديانو هم په رکوع کې دتلاوت دسجدې نيت کړی وي نودتېولو دتلاوت سجده اداکيږي اوکه مقتديانو نيت نه وي کړی اوامام کړی وي نودمقتديانو دتلاوت سجده نه اداکيږي اوکه امام په رکوع کې نيت نه وي کړی نودلمانځه په سجده کې که څوک نيت وکړي که يې ونه کړي دټولو دتلاوت سجده اداکيږي «په دې شرط چې تردری آيته کم يې ويلي وي»

يادونه: له مسئلې څخه خلک خبرنه وي ځکه غوره داده چې دتلاوت سجده ځان ته اداکړله شي دلمانځه په رکوع کې ياسجده کې په اداکولو خلک په اندېښنو کې مه اچوئ.

مسئله: که عملي کول غواړئ نولومړی مقتديان په مسئله پوه کړئ بياعمل وکړئ.

که مقتدي له امام سره دتلاوت سجده ونکړای شوه نو...

سوال: که چيرې په غلطۍ سره مقتدي دتلاوت سجده ونکړي نولمونځ صحيح کيږي اوکنه؟ جواب: په لمانځه کې چې کومه دتلاوت سجده واجب شي هغه ترلمانځه وروسته نه اداکيږي اوساقطيږي له شامي څخه معلوميږي چې هغه سجده ساقطه شوه اودلمانځه دراګرزولو هم اړتيانشته خوکه قصداً يې پريښې ده نوتوبه دې اوباسي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۵۲ بحواله ردالمحتار ج۱ص ۷۲۲»

دتلاوت دسجدې تراداکولو وروسته بیا په کومه وجه لمونځ راګرزونکي به څه کوي

سوال: حافظ دسجدې آیت ولوستی بیایې سجده ونه کړه او بیا په کومه وجه دلمانځه راګرزولو ارتیا پیښه شوه بیایې هم هغه آیت ووایي نودوهم ځل سجده کول په کاردي که لومړی کافي ده ؟ جواب: بیاسجده کول په کاردي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۲۸ بحواله عالمګیري مصري ج ۱ ص ۱۲۵ باب سجدة التلاوة »

دسجدې ترآیت ویلو به څومره وروسته سجده کوي

سوال: په لمانځه کې دتلاوت سجده وویله شوه سمدستی یې سجده ونکړه تردرې ایته یې وروسته وکړه نواداشوه او کنه ؟ که لمونځ راګرزول غواړي ؟ جواب: په لمانځه کې دسجدې دآیت ترتلاوت وروسته سمدستی سجده واجب ده که تردرې آیته ویلو وروسته وکړل شوه نوقضاشمیرل کیږي اودځنډله امله سجده سهوه واجبیږي که سجده سهوه یې ونکړه نودلمانځه اعاده واجب ده کومه دتلاوت سجده چې په لمانځه کې واجب شوه هغه ترسلام ګرزولو مخکې بلکه ترسلام ګرزولووروسته هم ترڅو چې یې دلمانځه ضد کوم حرکت نه وي کړی سجده کول په کاردي تردې وروسته له استغفاراوتوبې پرته دمعافی کوم بل صورت نشته «فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۳۹۴ »

دسجده تلاوت په اورېدو ځینې مقتدیان سجدې ته ولاړل او ځینې رکوع ته

سوال: امام دسجدې آیت ولوستی اودتلاوت دسجدې پرځای رکوع ته ولاړی کوم مقتدیان چې امام ته نژدې ؤهغوی رکوع ته ولاړل اوکوم چې له امامه لرې ؤ اوهغوی ته دامعلومه وه چې دلته دتلاوت سجده ده هغوی سجدې ته ولاړل کله چې امام سمع الله لمن حمده وویله نوهغه وخت دوی ته معلومه شوه چې امام په رکوع کې ؤله دوئ څخه څه خلک له سجدې څخه کښیناستل بیاله امام سره سجدې ته ولاړل اوس پوښتنه داده چې کوم خلکو دامام ترركوع وروسته رکوع وکړه له امام سره په سجده کې شریک شول دهغوئ لمونځونه صحیح شول اوکنه ؟ جواب: کوم خلک چې له امام سره په رکوع کې شریک نه شول دهغوی دغه رکعت ځینې فوت شو بیاچې کله هغوی رکوع وکړه له امام سره په سجده کې شامل شول نودوی لمونځ صحیح شواوکوم خلک چې بې له رکوع کولو په سجده کې وروسره شریک شول دهغوی یورکعت فوت شوکه چیرې هغوئ دامام ترسلام وروسته خپل رکعت راګرزولی وای نولمونځ صحیح کیدی خو کله چې دوی سلام وګرزاوی نولمونځ صحیح نه شو «کفایت المفتی ج ۴ص ۳۸۷ »

په لمانځه کې دتلاوت دسجدې آیت ویونکې سجده هیره شوه

سوال: په تراویحو کې حافظ صاحب دتلاوت دسجدې آیت ووایي نوسجده څه وخت بایدوکړي ؟ جواب: غوره داده چې هماغه مهال

سجده وکړي کوم وخت چې یې دسجدې آیت ولوست او فقهاؤ لیکلي
چې که وروسته ورپه یادشوه او هغه وخت یې ونکړه نو سجده سهو
لازمه ده خو دځنډیدو ګنجائش هغه وخت دی کله چې په لمانځه کې نه
وي په لمانځه کې به یې سمدستي اداکوي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص
۴۲۴ بحواله ردالمحتار ج ۱ ص ۷۲۳، ۷۵۱»

که دحافظ دسجدې آیت هیرشي

سوال: دحافظ صاحب دسجدې آیت هیرشو مقتدي یاسامع فتحه
ورکړه نو حافظ صاحب دسجدې آیت وو ایو نو یوه سجده دتلاوت به
وي که دوې؟ جواب: دامام دسجدې آیت هیرشو مقتدي فتحه ورکړه
امام دهغه آیت ترویلو وروسته سجده وکړه نو دغه سجده کافي ده په
دې صورت کې دوې سجدې نه واجبیږي «فتاوی رحیمیه ج ۳ ص
۳۹»

دتیرشوي رکعت دادا کولو پر مهال که له امام څخه دسجدې آیت واوري نو ...

سوال: حافظ او مقتدیان ترخلورو رکعتونو وروسته په ترویحه کې
کیناستل زه هغه وخت دتیرشوي رکعت دادا کیدو لپاره ولاړشوم
تراوسه لازما لمونځ پوره شوی نه ؤ چې امام تراویح شروع کړې
او دسجدې آیت یې ولوستی ما هم واوریدی نو پر ما دتلاوت سجده
واجب ده او کنه؟ جواب: په بیان شوي صورت کې دتلاوت سجده
لازمه شوه هو که دامام ترسجده کولو مخکې یا ترسجده کولو وروسته
دهمدې رکعت په پای کې دې په امام پسې نیت وتړی او په لمانځه
کې شریک شوې نو دامام سجده ستاسو لپاره کافي ده جلا سجده

کول نشته «فتاوی رحیمیه ج۱ ص۳۵۱ بحواله عالمګیري ج۱ ص ۱۳۳»

که د سجدې دآیت په اورید و د سجدې پرځای رکوع ته ولاړ ی

سوال: دتراویحو په لمانځه کې حافظ صاحب د سجدې آیت ولوست او سجدې ته ولاړی خو مقتدی رکوع وفهموله رکوع ته ولاړی نو دده لمونځ او سجده اداشول او کنه ؟ جواب: مقتدي ته په کار دي چې رکوع پرېږدي سجدې ته ولاړشي که رکوع يې وکړه بیا سنجدې ته ولاړی نو لمونځ صحیح کیږي او د تلاوت سجده هم اداکیږي «فتاوی رحیمیه ج۱ ص۲۴۴ بحواله شامي درمختار ج ۱ ص ۷۲۷»

په لمانځه کې ترسجده تلاوت وروسته دوهم ځل بیاهغه آیت ویل

سوال: په تراویحو کې حافظ صاحب ترسجده تلاوت اداکولو وروسته ولاړشو دراتلونکي آیت پرځای یې بیادوهم ځل هغه د سجدې آیت ولوستی نو اوس د تلاوت د سجدې دراګرزولو اړتیاشته اوکنه ؟ جواب: په مسئوله صورت کې لومړی سجده کافي ده دراګرزولو ضرورت نشته او سجده سهوه هم نشته «فتاوی رحیمیه ج۱ ص۲۴۴ بحواله عالمګیري ج۱ ص ۱۳۵»

ترسجده تلاوت اداکولو وروسته د حافظ راتلونکی آیت هیرشو

سوال: زید حافظ دی مونږلمونځ کاوه په مینځ کې د سجدې آیت راغلی نو سمدستي یې د تلاوت سجده اداکړه ترسجده وروسته

بیاولاړشو خو پرمخ قران په يادنه ورتلی زید د تلاوت له سجدې کولو پرمهال د ناپوهی یاهیرید وله امله رکوع هم ونکړه آیازید چې د تلاوت له سجدې راپورته شي رکوع وکړي که څه وکړي ؟ جواب: په داسې حالت کې چې په لمانځه کې يې د سجدې آیت تلاوت کړ او پرمخ څه نه ولولي نو په رکوع کې هم د سجدې د نيت په کولو د تلاوت سجده اداکيږي او که ده د تلاوت سجده وکړه نوغوره داده چې ودریږي څو آیتونه ولولي بیا رکوع وکړي او که پورته شي ولاړ شي سمدستي رکوع وکړی نو داهم څه پروانه لري لمونځ صحيح دی «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۲۲ بحواله ردالمحتار ج ۱ ص ۷۲۲ باب سجدة التلاوت»

ترسجده تلاوت وروسته سورة فاتحه دوهم ځل ويل څنګه دي

سوال: په تراويحو کې ترسجده تلاوت کولو وروسته دراتلونکي آیت پرځای که سورة فاتحه ووايي هغه شروع کړي نوسجده سهوه شته اوکنه ؟ څکه سورة فاتحه تکرارشوه؟ جواب: ترسورت شروع کولو مخکې يې که سورة فاتحه مکرره کړه بیاخو سجده سهوه ورباندې راځي څکه چې ترفاتحه وروسته بیله ځنډ یدو سورت پیل کول واجب وو په هغه کې ځنډ راغلی او د واجب په ځنډیدو سجده سهوه لازميږي خو په پوښتل شوي صورت کې کله چې يې ترسورة فاتحه وروسته قرائت پیل کړی وو نو په سورت یعني قرائت شروع کولو کې خو ځنډ نه راغلی ترفاتحه وروسته يې سمدستي شروع کړی د راتلونکي فرض د رکوع دی د هغه اداکیدل ترقرائت وروسته په

کار ده خود قرائت کوم حد معلوم نه دی څومره چې وغواړي قرائت دې ووایي او کوم سورت چې وغواړي هغه دې ولولي تر رکوع مخکې ده ته دلند او اوږد قرائت ویلو اختیار دی په دې کې او په اوږد او څنډ سجده سهوه نه لازمیږي لهذا په دې صورت کې سجده سهوه نشته «فتاوی رحیمیه ج۱ ص ۳۴۸ بحواله شامی ج۱ ص ۴۲۹ وعالمگیري ج۱ ص ۱۲۲»

دوه رکعته یې پوره کړل په نورو دوه رکعتونو کې یې بیا د سجدې آیت تلاوت کړ

سوال: په تراویحو کې حافظ صاحب دوو رکعتونو نیت وتاړی په لومړي یا دوهم رکعت کې یې د سجدې آیت ولوست او سجده یې وکړه دوه رکعته پوره شول بیایې د نورو دوو رکعتونو نیت وکړ او سهواً یې بیاهم هغه د سجدې آیت ولوست خو سجده یې ونکړه تر لمانځه وروسته حافظ وفرمایل چې د لومړي لمانځه د تلاوت سجده د دوهم لمانځه لپاره کافي ده آیا دا صحیح دي ؟ جواب: په دې صورت کې به بله سجده کوي د تکبیر تحریمه په ویلو او د بل لمانځه په شروع کولو حکماً مجلس بدلیږي همدارنګه په مراقی الفلاح کې راغلي چې که یې په لمانځه کې د سجدې آیت تلاوت کړ ،سجده یې وکړه نو د ظاهرروایت سره سم به بله سجده کوي په لمانځه کې یې چې بیایې هم هغه آیت ترسلام ګرزولو وروسته دوهم ځل ولوست کومه سجده کړي وه هغه حکماً باقي نه شوه پاته «فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۴۲۸ بحواله مراقی الفلاح ص ۲۸۲»

که يې په تراويحو کې سجده تلاوت هيره شي

يو سړی په يوه رکعت کې دسجدې آيت ولوست خو په هغه کې سجده کول ورځيني هيرشول نو په دوهم رکعت کې چې کله ورپه يادشي سجده تلاوت دې اداکړي او بيا په پای کې دې سجده سهوه وکړي که کوم شخص په لمانځه کې دسجدې آيت ولولي نو سمدستی سجده کول واجب دي که تردريو کوچنی آيتونو يا يوه اوږده آيت وروسته يې دتلاوت سجده وکړه نوسجده سهوه کول واجب ده او که تردريو آيتونو کم ويلو وروسته يې سجده تلاوت وکړه نو بيا سجده سهوه واجب نه ده «مسائل سجده سهوه ص ۵۴ درمختار برحاشيه شامی ج۱ ص ۷۲۱»

دتلاوت ديوې سجدې کولو پرځای يې دوې سجدې وکړې

سوال: په تراويحو کې حافظ صاحب دسجدې آيت تلاوت کړ ديوې سجدې کولو پرځای يې دوې سجدې وکړې آيا په دې صورت کې ددوو سجدو کولو له امله چې په ولاړه کې ځنډ راغلی سجده سهوه لازميږي او کنه ؟ که لازميږي او ده ونکړه نو آيا ددوو رکعتونو راګرزول واجب دي په جماعت سره يې راوګرزوو که يوازې يوازې ؟ جواب: په تراويحو کې ديوې سجدې دزياتوب په وجه ځنډ راغلی سجده سهوه کول يې غوښتل خو ونه شوه ځکه په وخت کې دننه دراوګرزول شي که چيرته خلک موجود وي کنه يوازې يوازې دادا کړل شي «فتاوی رحيميه ج۴ ص ۳۸۸»

دسورة حج آخري سجده او دهغه حکم

سوال:دسورة حج آخري سجده (۱۸ پاره) دامام شافعي رحمه الله په اند واجب ده دشافعي امام په اقتدا کې حنفي مقتدي دغه سجده اداکړي اوکنه ؟اوکله چې امام حنفي وي اومقتدي شافعي نودمقتدي دغه سجده به څنګه اداکيږي ؟جواب: په شامي کې راغلي چې دشافعي المذهب امام دپيروي له امله دحنفي مقتدی هم دسورة حج اخري سجده اداکړي اوکله چې امام حنفي وي نودغه سجده دې نه کوي اوله مقتديانوڅخه هم داحنافوله قواعدوسره سم دغه سجده ساقطه ده خوکه دشوافعوپه نزديې دلمانځه ترسجده وروسته کول جائزوي هغوی يې کولای شي داحنافوپه نزدخوچې سجده په لمانځه کې لازمه شي اوهغه مهال ونکړله شي نوهغه نشي اداکيدلای «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۲۳ بحوال ردالمحتار ج۱ ص ۷۲۱ باب سجدة التلاوة»

په سورة ص کې دتلاوت دسجدې آيت کوم دی

سوال:په سورة ص (۲۳ پاره) کې دتلاوت سجده پراناب ده که پرحسن ماب ؟ جواب: دمحقق قول په اساس اولی داده چې پرحسن ماب دتلاوت سجده وکړله شي پراناب سجده کول داحتياط پرخلاف دي که چيرې پراناب سجده وکړله شي نو داحتياط خلاف کاروشوخودراګرزولوضرورت نشته «فتاوی رحيميه ج ۴ ص ۳۸۲ ، ۴۱۹ بحواله شامي ج۱ص ۷۱۲»

نهم باب

د تهجد او شبينې په بيان کې

د تهجد د جماعت حکم

سوال: د روژې په مبارکه مياشت کې چې کوم خلک سره له دې چې حنفي المذهب دي د تهجد د لمانځه په جماعت سره اهتمام کوي او د الوى فضيلت گڼي د دې په اړه شرعي حکم څه دى؟ جواب: د تهجد د لمانځه په جماعت سره اهتمام په رمضان او نارمضان کې له رسول الله ﷺ او د ده مبارک له اصحابو ﷺ څخه منقول نه دى د روژې مبارکې په مياشت کې د رسول الله ﷺ معمول د اعتکاف وُ خو له رسول الله ﷺ څخه د اصحابو ﷺ په ملګرى د تهجد لمونځ په جماعت سره ثابت نه دى ځکه نو فقهاؤ ليکلي چې تهجد او نور نفل لمونځونه په جماعت کول مکروه دي خو بې له بلنې له يوه دوه مقتديانو سره مکروه نه دي دا په حديث ثابت دي ځکه نو فقهاؤ ليکلي چې له امام سره په دريو مقتديانو کې اختلاف دى او که څلور مقتديان وي نو په اجماع سره مکروه دى «فتاوى رحيميه ج ۴ ص ۳۲۳ بحواله ردالمحتار مع شامى ج ۱ ص ۶۶۴»

د تهجد جماعت او د شاه صاحب رايه

د بخاري په شرح انوار البارى کې د علامه انور شاه کشميري قدس سره شاګرد مولانا سيد احمد رضا صاحب بجنورى دامت فيوضهم ليکي چې فقهاؤ ليکلي چې د نفلو جماعت مکروه دى پرته له رمضان اوله دې څخه مراد سنت تراويح دي حضرت شاه کشميري صاحب رحمه الله وفرمايل چې د فقهاؤ له دغه عبارت څخه چې کوم چا د رمضان

مطلق نوافل فهمولي دي هغوی غلطي کړې ده ځکه نوتردريوزياتو څخه دتهجد جماعت دروژې په مياشت کې مکروه کيږي «انوارالباري»

په مبسوط سرخسي کې يې ليکلي که نفلونه په جماعت سره مستحب وای نود شپې قيام کونکي تولو تهجد گزارو مجتهدينو به په دې عمل کړی وای هغه لمونځ کوم چې يوازې او په جماعت دواړو طريقو سره کول جائزدي دهغه په جماعت اداکول افضل دي حال دا چې دنفلونو تهجداو نورو په جماعت اداکول نه خود رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کې منقول دي اونه دصحابه کرام ﷺ اونه دتابعينو اونورو په زمانه کې لهذا اقول چې دتراويحو په رنگه تهجداو نورنفلونه دروژې په مياشت کې بيله کراهيته جايزدي داقول دټولو فقهاؤ په خلاف اوباطل دی «مبسوط سرخسيٌ کتاب التراويح فی بحث رکعات التراويح ج ۲ ص ۱۴۴ فتاوی رحيميه ج ۴ ص ۳۲۴»

په روژه کې د تهجد جماعت

سوال: دروژې په مياشت کې دتهجد لمونځ په جماعت سره کول اوپه هغه کې قران شريف اوريدل په کاردي کنه؟ جواب: په تداعي (تردووکسانوزياتوسره) دتهجد لمونځ په جماعت کول مکروه دي رسول الله ﷺ چې دروژې دمياشتې په دريوشپوکې په جماعت کوم لمونځ کړی هغه دتراويحو لمونځ ؤ دعلامه شامي رحمه الله له تحقيق څخه هم همدا څرگنديږي او مولانا رشيد احمد گنگوهی رحمه الله په خپله رساله تراويح کې داتحقيق کړی چې دواړه لمونځونه جلادي اورسول الله ﷺ تهجدتل يوازې کاوه هيڅکله يې هم په تداعی سره جماعت نه

دی فرمایلی (دجماعت لپاره یې چاته بلنه نه ده ورکړې) اوداچې دتهجد په لمانځه کې جماعت نشته همدغه له زیاتره احادیثو ثابتیږي اوحنفی فقهاؤاو علماؤهم همدغه تحقیق فرمایلی.
دروژې مبارکې په میاشت کې په تداعي دوترواوتراویحو جماعت جائز مشروع اومسنون دی نورنفلونه پرته له تراویحو په رمضان کې هم په تداعي سره مکروه دي اودتداعي معنی صاحب ددرمختارداسې بیان کړې یعني څلورمقتدیان په یوه امام پسې لمونځ اداکړي «دتهجد جماعت بې له تداعي جائزاوله تداعي سره تحریمي مکروه دی «فتاوی دارالعلوم ج ۴ص ۲۲۱ ، ۲۲۳ بحواله ردالمحتار باب الوترو النوافل مبحث التراویح ج۱ ص ۲۲۳ »

دروژې په میاشت کې په تهجد کې دوه یا څلور کسه سره یوځای شي نو...

سوال: که څیرې یو سړی په روژه کې تهجد شروع کړي اوله ده سره صرف دوه یاڅلورو ګړي اقتداء وکړي نو څه حکم دی ؟ جواب: دیوه یادوواقتداء بیله کراهیته جائزده اوپه دریو کې اختلاف دی تردې زیات مکروه دي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۲۳ »

دتهجد دجماعت حکم

سوال: تهجدلمونځ په جماعت سره وکړو که یوازې ؟ دکتابونوپه حواله جواب راته ولیکی ؟جواب: که چیرې کله ناکله دوه یادرې کسان کوم چې بیله بلنی اوبیله کوم اهتمام راغونډشي که یې هغوی په جماعت سره وکړي نومکروه نه دی له امام پرته که دوه مقتدیان

وي نو په اتفاق سره بیا مکروه نه دی که درې وی نو اختلاف دی او که
څلور وي نو په اتفاق سره مکروه دی «فتاوی رحیمیه ج۱ص ۱۷۷»

دنفلونو جماعت او ددیوبند اکابر علماء

په دې اړه د سید الفقهاء رئیس المحدثین فقیه النفس حضرت مولانا رشید احمد گنگوهی قدس سره فتوی په فتاوی رشیدیه کې داډول ده دنفلونو جماعت که تهجد وي او که غیر د تهجد وي پرته له تراویحو، کسوف او استسقاء که څلور مقتدیان وي نو داحنافو په نزد تحریمي مکروه دي که په خپله راغونډ شوي وي او که په بلنه راغلي وي او په دریو کې اختلاف دی او په دوو کې کراهیت نشته «فتاوی رشیدیه ص ۲۹۹»

حضرت تهانوی رحمه الله په امداد الفتاوی کې فرمایلي که چیرې مقتدیان یو یادوه وي نو مکروه والی نشته او که څلور وي نو مکروه او که درې وي نو اختلاف دی «امداد الفتاوی ج۱ ص ۳۷۷

حضرت تهانوي رحمه الله دهغه خلکو په رد کې چې دفقهاؤ له ځینو اقوالو څخه دا فهموي چې دا کراهیت دروژې د میاشتې نه په ماسوا کې دی او په روژه کې جائزدی داسې ویلي: چې د فی غیر شهر رمضان له قید څخه صرف دتراویحو نفل ایستل مقصد دي «امداد الفتاوی ج۱ص ۳۲۸ څکه نو معلومه شوه چې دنفلو جماعت په رمضان او نارمضان ټولو کې مکروه دی حضرت شیخ الهند رحمه الله ته دروژې په میاشت کې په نفلونو کې دقران ناوریدلو ډیر زیات شوق ؤ کله چې خلکو په جماعت کې دبرخې اخیستلو خواهش ځرګند کړ اجازه یې ورنکړه او دکور دروازه یې وتړله دننه دحافظ کفایت الله په

اقتداکې يې قران کريم اوريدى بيا چې دخلکو تينګار زيات، شو نو دامعمول يې جوړکړ چې ترفرض لمانځه وروسته به له مسجد بهر راووتى ترڅه وخت آرام کولو وروسته به يې ټوله شپه په تراويحوکې قران کريم اوريدى چې څلويښتو پنځوسو کسانو په کې برخه اخيسته او په کورکې جماعت کيدى ليکن دنفلو جماعت يې منظور نکړ دحضرت علامه انورشاه کشميري رحمه الله همدغه رايه ده په انوار الباري دوهم ټوک ص ۸۸ کې په پوره تفصيل سره څيړنه وجودلري حضرت شيخ المشائخ مولانا خليل احمد صاحب دقران حافظ ؤ او په تهجد کې به يې دقران تلاوت کاوو دوو حافظانو به دده شاته قران کريم اوريدى دحضرت مولانا اسعد الله صاحب وينا ده چې يوه شپه زه سم مقتدى شوم نو حضرت ترلمانځه وروسته زه ترغوږونيولم جلا يې کړم ۱۲ «انوار الباري ج ۲ ص ۸۷»

مولانا مدني ددیوبند داکابرو په خلاف ولې عمل خپل کړ

دحضرت شيخ العرب والعجم مرجع الخلائق حضرت شيخ الاسلام مولانا حسين احمد مدني رحمه الله په جماعت سره دتهجد معمول ددیوبند له ټولو اکابرو جلاؤ سوال دارامنځته کيږي چې حضرت مدني رحمه الله دخپل وخت سترعالم او په تقوى او تصوف کې يې لوړمقام درلود هغوى ددیوبند داکابرو او فقهاؤ په خلاف ولې عمل خپل کړ؟ ددې په ځواب کې دوې خبرې زمونږ په فهم کې راځي: ۱ کوم وبختورو بزرګانو ته چې الله تعالى په علم کې پوره ژورتيا ورکړې دهغوى لپاره په ځينې جزئي مسئلوکې دانفرادي رائې قائمولو حق وي خو هغه عمل دنورو لپاره دحجت ونه وي يوازې دهغه ترذات

پورې محدود وي لکه چې د علامه جمال الدين ابن همام رحمه الله
د تفرداتو په اړه مشهوره ده چې د هغه ځانګړي شاګرد علامه قاسم بن
قطلوبغاء فرمايلي چې زمونږ د استاذ هغه تفردات کوم چې د امت
د اجماع په خلاف دي هغه د عمل قابل نه دي ځکه ځينو ښاغليو ورته
وويل: چې ستاسو د غه عمل (د تهجد جماعت) به خلک سند جوړوي
حضرت مدني رحمه الله ورته وفرمايل: چې زه خويږ په خپله کوم
امانورو ته خونه وايم «انوار الباري شرح بخاري»
۲ يو باب احکام وی او يو باب تربيت وي او په باب تربيت کې د دا سې
خبرو ګنجائش شته کومې چې په ظاهره له باب احکام مخالفې وي
نوزمونږ حسن ظن هم د مولانا مدني رحمه الله په اړه همدغه دی چې
د سالکينو (مريدانو) د تهجد د عادي جوړولو لپاره د تربيت په توګه
يې د تهجد لمونځ په جماعت کاوو او دا عمل د کوم بل چالپاره باعث
د حجت نشي کيدای په هر حال مسئله پر خپل ځای ده چې که
يو مقتدي وي نو جائز په دوو کې هم جواز شته او که چيرې درې
مقتديان وو نو په دې کښې د ځينې فقهاؤ خيال د نه مکروهيت دی
او د ځينو خيال د کراهيت دی «شامي چاپ ماجديه پاکستانی ج۱ ص
۵۲۴»
او که چيرته مقتديان څلور شي نو په اتفاق سره مکروه تحريمی دي
«طحطاوي على مراقي الفلاح ص۲۱۱»

په تهجد کې که څینې خلک دامام اقتداء وکړي نود کراهیت ذمه وار څوک دی

سوال: امام دقران کریم حافظ دی په اعتکاف کې کښینې په اوس وخت په تهجد کې درې سپارې وایي اونوردوه معتکفان یې مقتدیان وي خوکله ناکله نورخلک هم ورسره شریکان شي آیا څه پرواخوبه نه لري ؟ که لري یې نوددې ذمه وارڅوک دی ؟ جواب: که چیرې دامام دصراحتایاکنایتاً یااشارةً اجازې پرته خلک ورشریک شول نوهغوی دکراهیت ذمه واردي خوامام ته په کاردي چې مسئله وروښیي اوله شریکیدویې منعه کړي کنه دکراهیت له ذمه وارۍ څخه دامام اوړې نه سپکیږي په شامی کې راغلي چې دنفل کونکیو یویادوه کسانو اقتداء وکړه بیانورخلک راغلل نوعلامه رحمه الله فرمایي چې دکراهیت ذمه وار وروسته راتلونکي دي «فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۳۲۵ بحواله شامي ج۱ ص ۲۲۴»

شبینه یعني په یوه شپه کې قران ختمول څنګه دي

سوال: دشبینې څه طریقه ده یعني قران کریم په یوه شپه کې باید ختم کړل شي که په دریوشپو کې اوپه څومره رکعتونو کې ختم کړل شي؟ شلو کې که له دې څخه په زیاتو کې ؟ جواب: په اوس زمانه کې د رواجي شبینه له کراهیت اوناوړتیاپاکه نه ده یوه ناوړتیاداده چې دنفلو جماعت کیږي حال داچې که دنفلو په جماعت کې تردوودرې زیات مقتدیان وي نوتحریمي مکروه دي اماپه تراویحو کې صحیح دي په دې شرط چې قران کریم صفاصحیح وویل شي ریاکاري اونوم مقصدنه وي اومقتدیان سست نه وي اوکه څه خلک ناست وي خبرې

کوي دخوزاک ښناک په نظم بوخت وي چې په نتیجه کې تراویح ورځيني فوت شي نو جائزنه دي په اوس زمانه کې به داسې حافظان چیرې وي چې ټول قران صفا او په صحیح ادا ینه په یوه شپه کې ختم کړي له یعملون تعملون پرته هیڅ نه فهمیږي په دې ډول حافظانو ترډریوورځو په کم کې دقران کریم ختمول له کراهیت خلاص نه دي «فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۳۸۷»

شبینه جائزده کنه ؟

سوال: په یوه ورځ دڅو حافظانو په شبینه کې دقران کریم ختمول صحیح دي او کنه ؟ جواب: قران کریم داسې چټک اوپه بیړه ویل چې حروف نه فهمیږي اوپه مخارجو کې ادا ینه نه وي ناجائزدی نو که په شبینه کې داسې بیړه وي نو هغه هم ناجائزده لکه چې په درمختار کې دي... «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۲ بحواله ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۳ غوره داده چې یو یادوه حافظان په ګډه تراویح ورکړي که چیرې جیداو همتي حافظان نه ؤ نو بیا که څو حافظان په ګډه تراویح ورکړي نوداهم صحیح دي تراویح صحیح کیږي «فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۳۸۹».

دنفلو په جماعت کې شبینه کول څنګه دي

سوال: که چیرې دشبینې ختم دنفلو په جماعت کې وشي نو جائزدي اوکنه ؟ جواب: که شبینه یعني ختم دقران دنفلو په جماعت کې وي نودامکروه دي یعني ناجائزدي ځکه چې دنفلو جماعت په تداعي سره مکروه دی اوله مکروه څخه مراد تحریمي مکروه دي کوم چې حراموته نږدې دي نودې ته ناجائزویل صحیح شو اودتداعي

تفسير دادی چې څلور مقتديان وي او په دريو کې اختلاف دی
«فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۸۴ بحواله ردالمحتار ج ۱ ص ۲۲۳»

دشبينې قاعده کليه

سوال: په شبينه کې يو حافظ ختم وکړي او که څو حافظان په ګډه ختم وکړي؟ جواب: که په شبينه کې قران کريم صاف وويل شي، دحافظ مقصد ريانه وي چې فلانې دومره وويل او فلانې دومره وويل، په جماعت کې کهالتيا نه وي، ترارتيازيات درنا کولو تکلف نه وي او مقصد صرف دثواب حاصول وي نو جائزدي او که قرائت دومره په بيړه وايي چې په حروفو هم سړی نه پوهيږي نه په زيرخبرنه په زبر، نه غلطي ته فکراو نه متشابه ته فقط ريااونوم مقصد وي او جماعت هم شيندلی وي يا ترارتيازياته رناوي يا ترتراويحو کولو وروسته دنفلو جماعت کوي نو بيا شکه چې دامکروه دي لقوله تعالى وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا لقوله تعالى اذاقامُوا الى الصّلاة قامُوا كُسالى يُرَاءُونَ النّاسَ لقوله تعالى اِنَّ اللهَ لَايُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ولقول الفقهاء ان جماعة النوافل مكروهة.

شبينه په دريو شرطونو روا ده: ترتيل به نه پاتيږي ۲ په تراويحو کې به يې وايي ۳ دجماعت تر وخت به وروسته والی نه کوي (امدادالفتاوی ج ۱ ب ص ۴۸۷، ۴۸۹)

دشبينې په اړه دمولانارشيداحمد ګنګوهي فتوی

دقران کريم په يوه شپه کې ختمول دصحيح الفاظو ويلو او نورو په صورت کې جائزدي اوله حضرت عثمان رضي الله عنه په يوه شپه کې ختمول ثابت دي او که چيرې قران په ترتيل سره ونه لوستل شي خو الفاظ

صحیح وویل شی نو په دارنګه ویلو ثواب کمیږي او که دشهرت اونوم په نیت یې ووایی نوریا خو په فرضو کې هم منع ده پرتراویحو کې به څه موقوفه وي او که مقتدیانو ته دارنګه کول ګران وي نو نه یې دې کوي «فتاوی رشیدیه کامل ص ۲۹۹»

لسم باب

دختم په ورځ دبیلابیلو رواجونو په بیان کښې

په کومه ورځ ختم وکړو

له صحیح مذهب سره سم دروژې په میاشت کې یوځل ختم کول سنت دي همدارنګه د ۲۷ م په شپه ختم کول مستحب دي «اشرف الایضاح شرح نورالایضاح ص ۱۱۲»

دختم په ورځ درې ځله قل هو الله ویل څنګه دي

سوال:ځینې حافظان دختم په ورځ سورة اخلاص درې ځله وایي ایاداجائزدي ؟ که نه دی جائزنو دکراهیت لامل څه دی دسورت تکرارول که رواج ؟جواب:درې ځله قل هو الله ویل مکروه نه دي خودالازم ګڼل مکروه دي پردې التزام بایدونه شي دغه التزام اوتینګار چې کوم خلکو خپل کړی دا دکراهیت یوځانګړی دلیل دی ځکه عوامودالازم ختم بللی دی لکه له طرز څخه چې څرګندیږي ځکه نومکروه دی نه دا چې دسورة تکرارول فی نفسه مکروه دي دسورة تکرارول فی نفسه که جائزشي او که مکروه خودغه رسم اورواج دترک وړدی «فتاوي دارالعلوم ج ۴ ص ۲۹۰ وحاشیه امدادالفتاوی ج ۱ ص ۲۹۲»

دسورة اخلاص په اړه دمولانا تهانوی رحمة الله علیه فتوی

سوال: په اخرنیو تراویحو کې دسورة اخلاص درې ځله ویل څنګه دي؟ دکراهیت څه لامل دی یعني دمکررویلو په وجه کراهت دی که درواج په وجه؟ جواب: دعالمګیري له روایت څخه معلومیږي چې دسورة او آیت دتکراریو حکم دی او په نفلو کې دآیت مکررویل مکروه والی نه لري په الذی یُصَلِی وَحْدَهُ سره دمقید کیدو څخه څرګندیږي چې په نفلو کې په مکررویلو له کراهت نه راتلو څخه هم هغه نفل مراددي کوم چې یوازې اداکړل شي او دتراویحو لمونځ کوم چې دفرضو په څیر په جماعت سره کیږی هغه دفرضو په حکم دی ځکه نو دفرضو په رنګه په تراویحو کې هم دسورت تکرار مکروه کیږي پرته له دې دغه ډول التزام او تینګار کوم چې خلکو خپل کړی دا هم دکراهت مستقل دلیل دی دلومړي دلیل تقاضا دتنزیهي کراهت دی او ددوهم دتحریمي کراهت ده «امدادالفتاوی ج۱ص ۴۹۴»

له ځینو سورتونو وروسته له قران پرته نور الفاظ ویل څنګه دي

سوال: په تراویحو کې حافظ صاحب دځینو سورتونو په پای کې په لمانځه کې دننه له قران پرته ځیني الفاظ په عربي کې وايي دمثال په ډول دسورة مرسلات تراخري آیت فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُوْنَ وروسته آمَنَّا بِاللهِ وايي په دې لمونځ فاسديږي اوکنه؟ جواب: احناف په دې ډول دعاګانې په لمانځه کې ویل منعه کوي خو که په نفلو کې داسې وکړل شي نولمونځ نه فاسدیږي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۷۸ بحواله ردالمحتار ج۱ ص ۵۰۹ باب صفة الصلاة»

دختم په ورځ نور آیتونه ویل څنګه دي

سوال: دروژې په میاشت کې حافظ صاحب په ۱۹ رکعتو نو کې قران کریم ختموي او په شلم رکعت کې له آلم څخه ترمفلحون پورې یې وایي بیا په همدغه رکعت کې دغه آیتونه انَ رَحْمَةَ اللهِ قَرِیْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِیْن اودَعْوَاهُمْ فِیْهَا سُبْحَنَکَ اللّٰهُمَّ وَتَحِیَتُهُمْ فِیْهَا سَلٰمٌ الخ وایي بیا رکوع ته ځي دا جائزدي که بدعت ؟ جواب: دا خو په ځینې روایاتو کې راغلي دي چې دقران ترختمیدو وروسته له آلم څخه ترمفلحون پورې دې وویل شي او فقهاؤهم ددې اجازه کړې اودایې مستحب بللي دي اوله دې پرته نور آیتونه ویل منقول نه دي ځکه دهغوی پرینبودل مناسب دي دفتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۷۵ پرحاشیه باندې ددرمختارپه حواله یې دغه صورت ته مکروه ویلي اولیکلي یې دي چې پرشلم رکعت دې ترسورة فاتحه وروسته دسورة بقره څه برخه ترمفلحون پورې ووایې ځکه چې درسول الله ﷺ فرمان دی «خَیْرُالنَّاسِ الْحَالُ الْمُرْتَحِلُ اَی الْخَاتِمُ الْمُفْتَتِحُ» په خلکو کې ترټولو غوره هغه دی چې ودریږي بیا مخته روان شي یعنی قران کریم ختم کړي بیایې شروع کړي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۷۵»

دختم په ورځ ترمفلحون پورې ویل څنګه دي

سوال: حضرت مولانا عبدالحی صاحب په تراویحو کې ترمفلحون پورې ختمول جائزلیکلي دي یعني چې کله قران کریم ختم کړي نو په آخري رکعت کې له آلم څخه ترمفلحون پورې یې ووایي او په فتاوی عالمګیري کې هم دختم ترتیب ترمفلحون پورې لیکل شوی صحیح په دې اړه څه دي اوله یوآیت څخه بل آیت نه اوښتل څنګه دي

ځينو خلكو ترمفلحون پورې ويلو ته مكروه ويلې دي ؟ جواب: كوم څه
چې مولانا عبدالحی صاحب په دې لړكې ليكلي دي هم هغه صحيح
دي د احنافو فقهاؤ هم په ختم كې صرف دغه مستحب ليكلي دي چې
د سورة بقره پرلو مړنيو آيتونو يې ختم كړی ځكه چې دا په حديث ثابت
دي له دې پرته له بيلا بيلو ځايو نو څخه ويلو ته يې مكروه ويلي دي
«فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۲۰ بحواله شرح منيه كبيري وردالمحتار
ج ۱ ص ۵۱۰ باب صفة الصلاة»

دختم په ورځ يې بايد څرنګه وو ايو

سوال: په تراويحو كې د قران د ختم پر موقع له
آخرنيو دوو ركعتونو څخه په لومړي ركعت كې سورة فلق او په دوهم
ركعت كې سورة الناس او له آلم څخه ترمفلحون پورې كه فاتحه
ووايي آيا دا ثبوت لري ؟ جواب: په تراويحو كې د قران كريم د ختم
پرمهال په نولسم ركعت كې سورة فاتحه او معوذتين «سورة الفلق
او سورة الناس» ويل او په شلم ركعت كې سورة فاتحه او د سورة بقرې
څه برخه «ترمفلحون پورې» ويل مستحب دي دا په حديث هم ثابت
دي د رسول الله ﷺ ارشاد دی خير الناس الحال المرتحل ای الخاتم
المفتتح «ژباړه: په خلكو كې ترټولو غوره هغه څوك دی چې و د ربړي
بيا مخته روان شي يعني قران كريم ختم كړي بيا يې شروع كړي دا چې
ځينې ځايونه رواج دی چې په شلم ركعت كې درې ځله سورة اخلاص
، سورة الناس او سورة بقره ترمفلحون پورې او نورې دعاګانې وايي
دا په صحيح طريقه ثابت نه دي «فتاوی رحيميه ج ۴ ص ۳۸۴»

د حضرت مولانا مفتي كفايت الله صاحب فتوى

د قران كريم تر ختم وروسته د سورة بقره اولني آيتونه لوستل مسنون دي بيا كه په شلم ركعت كې تر سورة الناس وروسته يې وايي او كه په نولسم ركعت كې تر ناس پورې يې وايي په شلم كې يې له اخرڅخه ووايي – خو په شلم ركعت كې تر الحمد لله او معوذتين ويلو وروسته بيا سورة فاتحه او د آلم آيتونه ويل ندي په كار يعني دالحمد لله تكرار هيڅ معنى نه لري.«كفايت المفتى ج ۳ ص ۳۴۸»

ترسنتو او نفلو وروسته دعا په انفرادي توګه كه په اجتماعي

سوال: ترسنتو او نفلو وروسته دعا كول په كار ده او كنه؟ كه ترسلام ګرزولو وروسته تلل په كار دي كه كوم شخص ترسنتو او نفلو وروسته دعا ونكړي او همدغسې ولاړشي نو د ملامتولو وړ دى كنه؟ جواب: ترفرضو وروسته په دعا كولو بيليدل په كار دي د سنتو او نفلو وروسته په تولنيزه ول د دعا كولو لپاره بايد مقتدي پابند نكړل شي ترفرضو وروسته مثلاً يو سړى كورته ځي هلته سنت كول غواړي نو هغه دولې پابند كړل شي لنډه دا چې څوك داسې وكړي هغه د ملامتيا وړ نه دى ترسنتو او نفلو وروسته هرسړى چې فارغ شي دعا دې كوي ځي دې يا دې ترفرضو وروسته كورته لاړشي هم هلته دې سنت وكړي په دې كې هيڅ تنګي نه ده په كار «فتاوى ذار العلوم ج ۴ ص۲۱۲»

د قران له ختميدو وروسته دعا

سوال: په جماعت سره د قران د ختميدو پرمهال دعا كول مكروه دي ځكه چې دا رنګه دعا كول له رسول الله ﷺ څخه منقول نه دي

آیا اصحیح ده ؟ جواب: صحیح داده چې دقران ترختم وروسته همیشه دتراویحو پر لمانځه وروسته دعا سنت او مستحب ده او په حدیث کې راغلي دي چې دغه وخت دد دعا قبلیدو دی ځکه زمونږ داکابرو او مشائخو تر تراویح او ختم قران وروسته دد دعا معمول دی «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۷۱ بحواله مشکواة ص ۸۸»

له حضرت عرباض بن ساریه رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم بنده چې فرض لمونځ وکړي او تر هغه وروسته له زړه دعا وکړي نو دهغه دعا هم قبلیږي همدارنګه کوم څوک چې قران ختم کړي او دعا وکړي نو دهغه دعا هم قبلیږي «معارف الحدیث ج ۵ ص ۱۳۸»

تر تراویح او وترو وروسته دعا کول څنګه دي

سوال: تر تراویحو وروسته دعا کول جائز دي او کنه ؟ او د روژې په میاشت کې تر وترو وروسته دعا غوښتل ثابت دي او کنه ؟ جواب: دتراویحو پر ختمیدو دعا غوښتل صحیح او مستحب دي او دسلفو او خلفو معمول دی بیا تر وترو وروسته دعا ضروري نه ده یوځل کفایت کوي یعنی دتراویحو تر ختمیدو وروسته «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۵۳»

له سلام وروسته بیله دعا مقتدي تللای شي

سوال: مقتدي باید له امام سره په دعا کې برخه واخلي او که دوخت لحاظ وکړي ؟ جواب: که مقتدي ته کوم ضرورت دی او کوم ضروري کار ورپیښ دی نو تر سلام سمدستي وروسته تلل هیڅ ګناه نه لري ... ته بد ویل نه دي په کار او که پر دعا ختمیدو انتظار وکړي او دامام

سره په دعاکې شریک شي نو دا نه دي او په کښې زیات ثواب دی «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۰۳ بحواله درمختار ج ۱ ص ۴۹۵ باب صفة الصلاة»

تر لمانځه وروسته دعا سوکه وغواړي که په زوره

سوال: دفرض لمانځه تر جماعت وروسته دعا سوکه غوښتل کیږي که په زوره که دسوکه والي حکم دی نو په څومره اندازه او که په زوره غوښتلو حکم دی نو په څومره اندازه په دواړو کې کومه طریقه غوره ده؟ جواب: سوکه دعا کول غوره دي که لمونځ کونکیو ته حرج نه وي نو که کله ناکله یې په زوره وکړي جائز دي همیشه په زوره دعا غوښتل عادت جوړول مکروه دي د دعاګانو له روایتونو هم جهر «په زوروالی» ثابت نه دی «فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۱۸۳»

امام که په زوره دعا کوي نو دځان لپاره دالفاظ نه خاصوي

امام دې د دعا الفاظ له ځان سره نه خاصوي که هغه په زوره دعا کوي لکه ای الله ! پر ما او پر نبي کریم ﷺ رحم وکړه او زما پر ملګرو رحم مه کوه په دې ډول دعا کول خیانت دی په احادیثو کې چې کوم منفرداً الفاظ راغلي دی هغه په دې کښې داخل نه دي ځکه چې په لمانځه کې له امام څخه کومه ګټه رسي په هغه کې مقتدیانو ته هم برخه ورکول کیږي ځکه چې امام د مقتدیانو نمائنده وي او که سوکه دعا کوي نو امام ته اجازه ده چې دځان لپاره خاص دعا وکړي (نورو ته دې د نښیرانه کوي) ځکه چې مقتدیان هم دخپلو ځانو لپاره دعا کوي په دې ډول به په نفس دعا کې ټول شریک شي «معارف مدینه ج ۲ ص ۱۰۰»

آیا دعا د لمانځه جزء ده

سوال: امام دعا سو که وکړي که په زوره او همدا رنګه دعا د لمانځه جزء ده او کنه؟ جواب: دعاء سوکه غوښتل افضل دي که مقصد د دعا تعلیم وي نو په لوړ آواز هم پروانه لري خو په دغه لوړ آواز به د نورو لمونځ کونکیو په لمانځه کې خلل نه وي لمونځ په سلام سره پای ته رسیږي تردې وروسته دعا د لمانځه جزء نه ده «فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۱۷۳»

په دعا کې چیرې کتل په کار دي

د دعا غوښتلو پروخت د آسمان پر لور کتل د دعا هغه ناخوښه صورت ده چې رسول الله ﷺ ورڅخه منعه کړیده ځکه چې دغه صورت د الله ﷻ د ادب او درناوي او د دعا غوښتونکي لپاره ورنه ده کیدلای شي دغه حرکت بې ادبي او سپکاوی وګرځي او د دعا له قبلید و څخه بې برخې شي نو ځکه له دې څخه باید ځان وژغورو «حصن حصین ۲۷

دعا په یقین سره کول په کار ده

له حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ وفرمایل: چې کله له الله ﷻ څخه څه غواړئ او دعا کوئ نو په دې یقین سره یې غواړئ چې هغه به یې ضرور قبلوي یوه شئ او په یاد ساتئ چې الله ﷻ د هغه چا دعا نه قبلوي چې د هغه زړه د دعا په مهال له الله ﷻ څخه غافل او بې پروا وي «معارف الحدیث ج ۵ ص ۱۲۳ بحواله جامع ترمذی وصحیح بخاري ومسلم»

رسول الله ﷺ وفرمایل: زمونږ دعاګانې ترهغو قبلیږي ترڅو له تلوار څخه کار وانه خستل شي تلوار او بیړه داده چې بنده داویل پیل

کړي چې ما دعا کړې وه خو قبوله هم نه شوه «معارف الحديث ج ۵ ص ۱۲۵».

د دعا طريقه

حضرت عبد الله بن عباس رضی الله تعالى عنهما د رسول الله ﷺ فرمان نقلوي چې ده مبارک ﷺ وفرمايل: له الله ﷻ څخه په داسې ډول لاس پورته کولو دعا غواړئ چې د ورغوو مخ مو مخ طرف ته وي لاسونه چپه مه نيسئ او کله چې دعا ختمه کړی نو لاسونه پورته کړئ او پر مخ يې راتير کړئ د رسول الله ﷺ طريقه وه چې کله به ده مبارک ﷺ په لاس ته کولو دعا غوښته نو په پای کې به يې خپل مبارک لاسونه پر خپل مبارک مخ راتيرول «معارف الحديث ج ۵ ص ۱۳۱».

په دعا کې لاسونه تر کومې اندازې پورته کيږي

يوه کس په دعا کې ترسينې پورته لاسونه نيولي وو حضرت ابن عمر ﷺ چې وليد نو بدعت والي فتوی يې ورکړه په دليل کې يې وفرمايل: چې رسول الله ﷺ مې د دعا پر مهال (پرته له کومې ځانګړې موقع) ترسينې لوړ په لاس پورته کولو نه دی ليدلی له دې څخه معلومه شوه کوم کسان چې بې له کومې وجهې لاسونه ترسينې لوړ نيسي دا د سنت خلاف دی «فتاوی رحيميه ج ۱ ص ۳۰۲ بحواله مشکواة شريف ص ۱۹۲».

له دعا وروسته آمين ويل

له حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دی چې يوه شپه مونږ د رسول الله ﷺ سره بهر ته ووتو مونږ د الله ﷻ د يوه نيک بنده سره تير شوو چې په ډير وزاريو او عاجزی يې له الله ﷻ څخه دعا غوښتله رسول الله ﷺ

دده ددعاد الله ﷻ له حضور څخه دغوښتنې اودده دژړاداوريدولپاره
ودريد بيارسول الله ﷺ مونږته وفرمايل: كه دده دعاپه صحيح ډول
ختمه كړه اوتاپه يې سمه ورباندې ووهله نوكوم څه چې ده غوښتل
دهغه پريكړه يې ورباندې وكړه له مونږ څخه يوه پوښتنه وكړه چې اې
دالله رسوله ! دصحيح ختمولواوتاپه ورباندې لګولو څه طريقه ده
؟رسول الله ﷺ وفرمايل: په پاى كې دې په آمين ويلودعاختمه كړي
نو كه چيرې ده داسې وكړل نوبس په الله ﷻ يې فيصله وكړه «معارف
الحديث ج ۵ ص ۱۳۳»

له دعاوروسته پرمخ لاسونه تيرول څنګه دي

سوال:تردعاختمولووروسته لاسونه پرمخ تيروي پرمخ
دلاسونوتيرولو څه لامل دى ؟ جواب:ددعاپه پاى كې پرمخ لاسونه
راتيرول صحيح اوثابت دي اودبركت حاصلولولپاره دافعل كول
كيږي «فتاوى رشيديه كامل ص ۲۱۰»

دروژې په مياشت كې مسجدښائسته كول

سوال:دروژې مباركې په مياشت كې ترارتيازيات څراغونه ډيوې
اوړڼاوې كيږي اوداكاريولوى ثواب ګڼل كيږى ددې حكم څه دى؟
جواب:دروژې په مياشت كې په تراويحوكې هميشه لمونځ كونكي
زيات وي كه دهغوى دراحت اوهوسايي لپاره دارتياسره سم په
رڼاكې څه زياتوب وكړل شي نوجائزاومستحب دي هوصرف
دمسجدښائسته كولولپاره ترحدزياته رڼاكول ناجائزاوكلك منعه
دي چې په دې كښې له اسراف سره سره ددېوالي
(دهندوانودوداورواج) سره مشابهت دى اودمجوسيانو

(داور عبادت کونکیو) د شعار څرګندونه او تائید لازمیږي او مسجد د تماشي ځای ګرځي د شرعي په خلاف کارونو سره د مسجد ښکلانه زیاتیږي بلکه سپکاوی یې راځي د مسجد زینت او ښایست دده په پاک ساتلو، خوشبویه کولو همدارنګه د لمونځ کونکیو په زیاتوب، په ښو جامو اغوستلو، په خوشبویي لګولو، په خشوع او عاجزی سره لمونځ کولو او په ادب سره کیناستلو کې دی «فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۲۰»

د قران کریم د ختم په ورځ حافظ ته امیل ورپه غاړه کول

سوال: زمونږ په مسجد کې چې په کومه شپه تراویح ختمیږي په هغه شپه د حافظ د عزت او درناوي لپاره حافظ ته د ګلونو امیل ورپه غاړه کوي دا کار څنګه دی ؟ آیا ددې ثبوت په کوم کتاب کې شته ؟ زه حافظ یم او سږکال ما تراویح ورکړې او اعتکاف مې هم وکړ زما دا خوښه نه ده آیا زه ورته ووایم چې دا میل په غاړه کول سره زما اعتکاف فاسدیږي دداسې دروغو په ویلو سره د امیل له په غاړه کولو څخه انکار کولای شم او کنه ؟ جواب: د قران د ختم په شپه حافظ ته د ګلونو غاړګۍ ورپه غاړه کول بد رواج او د پرېښودلو وړ دی او په دې کښې اسراف هم دی که د حافظ درناوی او عزت مقصد وي نو هغه ته عربي دستمال یا شال ولې نه ورپه سر کوي ؟ تا سو چې امیل په غاړه کول نه غواړئ د دروغو ویلو اجازه نشته بلکه صفا دې ورته ووېل شي چې زما دا رواج خوښ نه دی او دا د شریعت په خلاف دی «فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۴۲۲»

د تراويحو پر ختميدو شيريني ويشل

سوال: په روژه کې د تراويحو پر ختميدو شريني ويشل څنګه دي ؟؟ آيا شريني صرف ديو کس له طرفه په کارده ؟ او شريني په مسجد کې د ننه ويشلای شي ؟ جواب: شريني ويشل ضروري نه دي خلکو ضروري ګڼلې ده او په ډېره په پابندی سره داعمل ترسره کيږي خلک پر چنده ورکولو مجبوره کيږي په مسجدونو کې د ماشومانو غونډه غال مغال او د نورولانجو رامخته کيدو له امله دغه رواج ختمول غوره دي که د تراويحو امام او يا کوم بل څوک د قرآن د ختم په خوشحالي کې کله ناکله شريني وويشي او د مسجد د رناوی په پام کې ونيول شي چې د مسجد فرش پليت نشي وچ شی وي او د مسجد بې حرمتي لازمه نه شي نو صحيح دي غوره داده چې پر دروازه وويشل شي «فتاوی رحيميه ج ۴ ص ۳۸۹»

يوولسم باب

د لماخوستن د لمانځه مسئلې

که چا د لماخوستن لمونځ بې اودسه وکړ

که چا د لماخستن لمونځ بې اودسه کړی ؤ او تراويح او وتريې په اوداسه وکړل نو له لماخستن سره د تراويح راوګرزوي او وتر دې نه راګرزوي ځکه چې تراويح د امام اعظم رحمه الله په نزد د لماخستن تابع دی او وتر په خپل وخت کې د لماخستن تابع نه دي او د لماخستن د لمانځه پر هغه مخته کول د ترتيب په وجه واجب دي او د هيريدو په عذر ترتيب ساقطيږي نو که په هيرولو وتر د لماخستن تر لمانځه مخکې وکړي صحيح کيږي او تراويح که د لماخستن تر لمانځه

مخکې وکړي نو نه صحیح کیږي ځکه چې دتراویحو وخت دلماخستن دلمانځه تر اداکولو وروسته دی نو کوم یې چې ترلماخستن مخکې وکړې هغه ته اعتبار نشته «ترجمه فتاوی عالمگیري ج۱ ص ۱۸۵»

آیادلماخستن فرض بې اودسه اووترپه اوداسه کونکی به سنت راګرزوي

سوال: که په هیره یې دلماخستن فرض بې اودسه سنت اووتریې په اوداسه وکړل اوپه وخت کې دننه ورپه یادشول نوله فرضوسره باید سنت راوګرزوي اووتردې نه راګرزوي دادامام صاحب مذهب دی اودصاحبینو(امام ابویوسف اوامام محمدصاحب) په نزدبه وترهم راګرزوي ددې وجه څه ده ؟ جواب:دامسئله په وخت کې دننه ده دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدد سنتودراګرزولواووترونه راګرزولووجه داده چې دلماخستن فرض ونه شول نوله فرضوسره به سنتونه هم راګرزوي ځکه چې سنت دفرضوتابع دي اووترچونکه مستقل اوځان ته واجب دي اوهغه په اوداسه اداشول ځکه دهغه راګرزولوته اړتیانشته اوصاحبین خووترهم سنت بولي ځکه نوله فرضوسره دوترودراګرزولوحکم کوي دمسئلې صورت په دې ډول دی چې ترلمانځه وروسته په وخت کې دننه ورپه یادشي اوکه چیرې تروخت تیریدو وروسته ورپه یادشول نوصرف دلماخستن فرض دې اداکړي «فتاوی دارالعلوم ج۴ ص ۷۴ بحواله هدایه باب قضاء الفوائت ج۱ ص ۱۳۹»

بيله ارتيا فتحه ورکول

سوال: امام ترديم رکعت وروسته څلورم رکعت ته ولاړشو يوه مقتدي په دې فکر چې څلورر کعته پوره شول د امام د کښينولو لپاره سبحان الله وويله خود امام يقين وځکه هغه د مقتدي فتحې ته توجه ونکړه او څلورم رکعت يې وکړ لمونځ يې پوره کړی په دې صورت کې دد غه بې ضرورته فتحه ورکونکي مقتدي لمونځ صحيح شو او کنه ؟ جواب په پوښتل شوي صورت کې سبحان الله ويل امام ته دښودلو په وجه ده او له كلام الناس څخه نه ده ځکه نو د امام او مقتدي دواړو لمونځونه صحيح شول «امداد الفتاوی ج۱ ص ۴۵۲ »

دلماخستن دلمانځه تر اداکولو وروسته د نفلو په نيت په جماعت کې برخه اخيستل

سوال: که چا دلماخستن لمونځ ادا کړ بيا چې يې کله جماعت وليد په کې شريک شو اوس به دی سنت او وتر را گرزوي او کنه ؟ جواب: سنت او وتر دې نه کوي هغه خو مخکې ادا کړي او دا دنفلو په حکم دي «فتاوی دار العلوم ج ۴ص ۳۲۰ »

دلماخستن دلمانځه يو رکعت نيونکی به پاته لمونځ څنگه پوره کوي

سوال: د دريو رکعتونو تر بشپړيدو وروسته يو سړی په امام پسې په لمانځه کې شريک شو داکس به د امام تر سلام وروسته پاته لمونځ څرنگه پوره کوي ؟يعني په کوم کوم رکعت کې به له سورة فاتحه سره سورة يو ځای کوي او په کوم رکعت کې به ناسته کوي ؟ جواب: دامام

ترسلام اړولووروسته دې ولاړشي ثنا(سبحانک اللهم الخ) دې
ووايي بيادې تراعوذبالله بسم الله ويلووروسته سورة فاتحه اوسورة
ووايي ركوع اوسجده دې وکړي ناسته دې وکړي په دوهم ركعت کې
دې هم سورة فاتحه اوسورة ووايي خوتردې ركعت وروسته به ناسته
نه کوي اوپه دريم ركعت کې به يوازې سورة فاتحه ووايي اوبيابه
دعادت سره سم اخري ناسته وکړي لمونځ به پوره کړي «فتاوی
رحيميه ج ۴ص ۳۴۴»

ددريو ركعتو په کولو دسجده سهوه کونکي لمونځ څنګه شو

سوال:امام دلماخستن په لمانځه کې پردريم ركعت سهوا کيناستی
په دې فکرچې څلورم ركعت دی خودده سمدستی يقين شو چې درې
ركعته وشول ده التحياته پوره کړه سجده سهوه يې وکړه اوپرهمدغه
دريوركعتونويې سلام وګرزاوی لمونځ وشواوکنه ؟که چاچپل
لمونځ راوګرزاوی نوبنه شول اوکنه ؟ جواب:۱ په دې حالت کې لمونځ
صحيح نه شو۲ دلمانځه راګرزول په ټولوضروري دي چاچې يوازې
راوګرزاوی دهغه لمونځ صحيح شو «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۱
بحواله ردالمحتارج ۱ ص ۲۹۳ باب سجودالسهووباب الامامة»

دلماخستن پردريم ركعت په هيره کيناستل

سوال:امام سهوا دلماخستن پردريم ركعت کيناستی دمقتدي په
الحمدلله ويلوسمدستي ولاړشواوپه ناسته کې دشک په وجه
اودالحمدلله ويلوپه وجه ده څه نه ؤويلي وروسته يې سجده سهوه
ونکړه لمونځ وشواوکنه ؟ جواب:که چيرې ناسته ډيره لږوه اوترډيره

نه کیناستی نو سجده سهوه واجب نه شوه لمونځ صحیح شو «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۱۴»

د لماخستن پر دریم رکعت ترسلام ګرزولو وروسته یو رکعت ورسره بل یو ځای کول

سوال: امام دریم رکعته وکړل سهوا یې سلام وګرزاوی او مخ پر قبله ناست ؤ مقتدیانو یاد ونه وکړه چې دري رکعته وشول ددې په اوریدو امام الله اکبروو ایی ولاړشو څلورم رکعت یې وکړ او په پای کې یې سجده سهوه وکړه سلام یې وګرزاوی آیا دامام او مقتدیانو لمونځ صحیح شو او کنه؟ جواب: که چیرې امام هیڅ نه ؤ ویلي نو دهغه لمونځ وشو او مقتدیانو که چاڅه خبره نه وه کړې دهغوی لمونځ هم وشو او کومو مقتدیانو چې خبرې وکړې دهغوی لمونځ صحیح نه شو هغوی دې خپل لمونځ راوګرځوي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۱۰ ددرالمختار ج ۱ ص ۷۹۱ په حواله»

که چیرې امام په هیره پر لومړي یا دریم رکعت کیناستی له شاکوم مقتدي فتحه ورکړه یا په خپله ورپه یادشول نو امام باید چې دولاړیدو پر مهال تکبیر وو ایي «مسائل سجده سهوه ص ۷۱ د کبیري ص ۳۱۳ په حواله»

څوک چې په پنځم رکعت کې شامل شي دهغه لمونځ وشو او کنه

سوال: امام پنځم رکعت ته ولاړشو او شپږ رکعته یې پوره کړل سجده سهوه یې وکړه سلام یې وګرزاوی په پنځم رکعت کې یو سړی ورسره شریک شو نو دهغه لمونځ صحیح شو او کنه؟ جواب: امام که چیرې

پر څلورم رکعت د تشهد په اندازه کيناستی بيا سهوا ولاړ شواو د پنځم رکعت سجده يې وکړه نو شپږم رکعت دې بل ورسره يوځای کړي او سجده سهوه دې وکړي دده فرض پوره شول که کوم کس په پنځم يا شپږم رکعت کې دده امام مقتدی شونو دهغه لمونځ نه صحيح کيږي ځکه چې د امام دغه دوه رکعته نفل دي «فتاوی دارالعلوم ج ۲ص ۴۱۱ بحواله ردالمحتار ج۱ص ۷۰۱ باب سجود السهو»

د لماخستن پنځه رکعته کولو حکم

سوال: د لماخستن په لمانځه کې پر څلورم رکعت د امام د اخيال شو چې درې رکعته شوي دي ځکه ولاړ شو ځينې مقتديان کيناستل امام ته يې د کيناستو اشاره وکړه خو امام پرې باک ونه کړ بلکه پنځم رکعت يې پوره کړ سجده سهوه يې وکړه او لمونځ يې ختم کړ په دې صورت کې د امام صاحب لمونځ صحيح شو او کنه او کوم مقتديان چې د آخري ناستې په نيت لومړی کيناستلي وو او د پنځم رکعت په رکوع کې شامل شول د هغوی لمونځ څنګه شو صحي شو او کنه؟

جواب: امام صاحب چې کله پر څلورم رکعت نه کيناستی او پنځم رکعت ته ولاړ شو بيا يې چې د پنځم رکعت سجده وکړه کيناستی نو آخري ناستې پاتيدوله امله د امام لمونځ صحيح نه شو او کله چې د امام لمونځ صحيح نه شو نو په مقتديانو کې د هيچا لمونځ هم نه شو صحيح نه د مسبوق او نه مدرک «فتاوی دارالعلوم ج ۴ص ۴۰۵ بحواله هدايه باب سجود السهو ج۱ ص ۱۴۲»

امام په هیره په دوهم رکعت سلام وګرزاوی

سوال: امام پراوله ناسته په هیره سلام وګرزاوی نواوس پاتې لمونځ کولای شي او کنه ؟اوپه دواړه سلامو لمونځ صحیح کیږي او کنه؟ جواب: په هیره دواړولوروته په سلام ګرزولو لمونځ نه فاسدیږي پاتې رکعتونه دې وکړي په پای کې دې سجده سهوه وکړي لمونځ صحیح کیږي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۱۲ دردالمختار ج۱ ص ۵۷۵ په حواله»

دلماخوستن په لمانځه کې که قرائت سوکه ووایې نو څه حکم یې دی

سوال: امام صاحب په جهري لمانځه کې سوکه قرائت ووې وروسته په داسې وخت کې ورپه یادشول چې دالمونځ خو جهري دی چې ده څه قرائت ویلی ؤ بیرته یې له سره قرائت شروع کړ نو آیا دده لمونځ صحیح شو او کنه ؟ که چیرته سجده سهوه هم ونه کړي لمونځ یې څه حکم لري ؟ جواب: لمونځ وشود راګرزولو اړتیایي نشته خو که یې ددریو آیتونو په اندازه کراوویلی ؤ نو سجده سهوه لازمه ده او کنه نه ده لازمه او دسجده سهوې دلزوم په صورت کښې یې که سجده سهوه ونه کړه دلمانځه اعاده واجب ده «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۰۸»

دلماخستن په اخرنیو رکعتونو کې په جهر کولو سجده سهوه

سوال: که چیرې ملاامام دلماخستن په اخري رکعتونو کې په زوره قرائت ووایې نو سجده سهوه واجب ده او کنه ؟ جواب: په دې صورت کې سجده سهوه لازمیږي لکه چې په شامي کې لیکل شوی چې دلماخستن په اخري دوو رکتونو کې که څه هم قرائت واجب نه دی

خو که قرائت ووايي نو سو که ويل يې لازم دي «فتاوی دار العلوم ج ۴ ص ۳۸۹ بحواله رد المحتار ج ۱ ص ۴۹۷ فصل في القرائت»

دلماخستن په قضاء کې به قرائت څنګه وايي

سوال: دلماخستن لمانځه په قضا اوړلو کې قرائت په زوره ويلای شي او کنه ؟جواب: که په همدغه وختو کې قضا اوړي نو په زوره قرائت ويلای شي او که په ورځ کې قضا اوړي نو نه يې شي ويلای «داحکم د منفرد ليکل شوی» فتاوی دار العلوم ج ۴ ص ۳۴۵ بحواله در مختار ج ۱ ص ۴۹۷ فصل في القرائت»

دلماخستن د لمانځه په اوله ناسته کې سهواً ولاړ شو بيرته کيناستې

سوال: په درې رکعتيز يا څلور رکعتيز فرض يا واجب لمانځه کې که اوله ناسته سهواً پاتې شي ترسيده دريد وو روسته ولاړه کوم چې فرض ده هغه پريښود ل او ناسته کول کوم چې واجب ده لمونځ فاسد وي او کنه ؟ جواب: چې اوله ناسته پريږدي يا جګ دريدو ته نږدې شي بيا د التحيات ويلو لپاره کيني په دې سره فرض پريښودل او د واجب پر لور تلل نه لازميږي خو د فرض و په ادا ينه کې ځنډ راځي چې د هغه جبران په سجده سهوه سره کيږي ځکه نو راجع او حق داده چې لمونځ فاسد نه شو سجده سهوه کول غواړي خو داسې کول قصداً مناسب نه دي که يې و کړي ګنهګار يږي «فتاوی دار العلوم ج ۱ ص ۱۵۹ بحواله در مختار مع شامی ج ۱ ص ۲۹۷ و فتح القدير ج ۱ ص ۴۴۵»

دلماخستن يوازې لمونځ كونكى كه په جماعت كې شريک شي نو آياد جماعت څلور ركعته په تراويحو كې حسابيږي

سوال: په روژه كې يوه ناروغه سړي دلماخستن لمونځ كوروكړ بيايې څه توان وموندى مسجدته راغلى جماعت ولاړؤ دى دتراويحو په نيت دلماخستن په جماعت كې شريک شو نو دغه څلور ركعته په تراويحو كې حسابيږي او كنه؟؟ همدارنګه د جماعت لمونځ په قضاء كې حساب كيدلاى شي ؟ كه يې دقضاپه نيت برخه په كې واخيسته نوصحيح ده او كنه ؟ جواب: صحيح خبره داده چې په تراويحو كې نه حسابيږي ځكه چې دتراويحو درجه كه څه هم ترفرضو ټيټه ده خوهغه يو ځانګړې اومستقل سنت مؤكد دي دهغه د ځانګړتياپاملرنه ضروري ده ؟؟ په پوښتل شوي صورت كې قضاصحيح نه ده ځكه چې دامام لمونځ دوخت اداء ده اومقتدي لمونځ قضاء ده دواړو لمونځونه په صفت كې سره يونه دي «فتاوى رحيميه ج ۳ ص ۸۴ بحواله قاضى خان ج۱ ص ۱۱۱ وشامى ج۱ ص ۵۵۲ ودرمختارج۱ ص ۵۴۲ ونورالايضاح ص ۸۱»

که مقتدي په امام پسې التحيات پوره کړي نو څه حکم دی

امام سلام وګرزوى مقتدي ته په كارده چې التحياته پوره كړي سلام وګرزوي كه چيرې دروداودعاپاته وي نو دهغه پاتيدل هيڅ پروانه لري دامام سره دې يوځاى سلام وګرزوي اوكه چيرې امام دريم ركعت ته ولاړشونودچاالتحيات چې پاته وى هغه بايدالتحيات پوره كړي بياولاړشي اوكه بې له التحيات پوره كولوولاړشوهم لمونځ صحيح كيږي «مسائل سجده سهوه ص ۲۹»

مسبوق که په پاتې رکعت کې سهوه شي

سوال: مسبوق يعني له چاڅخه چې څه رکعتونه تيرشوي وي که هغه په پاتې رکعتونو کې خطاشي نوسجده سهوه به کوي اوکنه؟ جواب: بايد سجده سهوه وکړي «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۳۹۵ بحواله ردالمحتار ج۱ ص ۵۵۷ باب الامامت»

که مسبوق له امام سره سلام وګرزوي

سوال: له چاڅخه چې څه رکعتونه تيرشوي وي هغه که سهواً له امام سره سلام وګرزوي نوسجده سهوه لازميږي اوکنه؟ جواب: ترامام که لږهم وروسته سلام وګرزوي نوپرمسبوق سجده لازميږي په شامي کې راځي چې له امام سره بالکل برابراويوځاى سلام ګرزول مشکل شاذاونادردي ځکه په عامه توګه دسجده سهوې دوجوب حکم کيږي «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۳۹۹ بحواله ردالمحتار ج۱ ص ۵۲۰»

که په هيره له امام مخکې يا بالکل له امام سره سره سلام وګرزوي نوپرهغه سجده سهوه لازمه نه ده خوچونکه په حقيقي معنى له امام سره برابريدل مشکل دي ځکه دسجده سهوې دوجوب حکم کيږي «پورته بيان شوې حواله»

دوولسم باب

دوتروثبوت اومسئلې

دوترو فضائل اومسائل

عنْ خارجة بن حذافة قال خرج علينا رسول الله ﷺ قال ان الله امدكُمْ بِصَلاةٍ خيرٌلكمْ مِنْ حُمُرِالنَعَمِ الوِترُجَعَلهُ اللهُ لكُمْ فِيْمَابيْنَ صَلاةِ

العشاء الى ان يطلع الفجرُ «رواه ترمذي وابوداؤد» له حضرت خارجة بن حذافة ؓ څخه روايت دى چې يوه ورځ رسول الله ﷺ له کوره بهر تشريف راوړ مونږ ته يې په خطاب کې وفرمايل: الله ﷻ يو بل لمونځ تاسو ته اضافه کړ هغه ستاسو لپاره ترسرو اوښانو هم غوره دى (کوم چې تاسو د دنيا ترټولو ګران مال ګڼئ) هغه لمونځ وتر دي الله تعالى دغه لمونځ ستاسو لپاره دلماخستن له لمانځه څخه وروسته دسهار دسپيدو تر راختو مقرر کړى ده يعني هغه ددې پراخ وخت په هره برخه کې اداکولاى شئ «معارف الحديث ج ۳ ص ۳۲۷ بحواله جامع الترمذى وسنن ابوداود»

عن بريدة قال سَمِعْتُ رَسُوْلَ الله ﷺ يَقُوْلُ الوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا الوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا الوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا «رواه ابوداؤد» له حضرت بريد اسلمي ؓ څخه روايت دى چې ما له رسول الله ﷺ څخه په خپله واوريدل رسول الله ﷺ وفرمايل: وتر لمونځ حق دى څوک چې وتر نه اداکوي له مونږ څخه نه دى وتر حق دي څوک چې وتر نه اداکوي هغه له موږ څخه نه دى وتر حق دي څوک چې وتر نه اداکوي هغه له مونږ څخه نه دى «دا خبره رسول الله ﷺ درې ځله تکرار کړه» سنن ابوداؤد»

تشريح: ښکاره ده چې د وتروپه اړه دسختى او ويرونې دا آخرني الفاظ دي له دا ډول حديثونو څخه امام ابو حنيفه ؒ دا فهمولې چې وتر يوازې سنت نه بلکه واجب دي يعني ددې درجه تر فرضو ټيټه او له مؤکد سنتونو زياته ده «معارف الحديث ج ۳ ص ۳۲۸»

دتروو جوب او طريقه

وتر واجب او دري رکعته په يوه سلام سره دي او دوتر و په هر رکعت کې سورة فاتحه او سورة ويل کيږي دوتر و پر دوهم رکعت کښيني او صرف التحيات وو اياست او دريم رکعت ته تړولا ړيدو وروسته سبحانک اللهم مه وا ياست کله چې په دريم رکعت کې د سورة له ويلو فارغ شوئ نو دواړه لاسونه د غوږو په برابري پورته کړئ او تر رکعو مخکې دعاء قنوت (اللهم انا الخ) وو اياست بيا رکوع وکړئ لمونځ پوره کړئ «نور الايضاح ص ۹۳».

دوتر و لمونځ د ماښام په شير دري رکعته دی په دې کښې اوله ناسته واجب ده ځکه نو که دوتر و په لمانځه کې اوله ناسته پاتې شوه نو سجده سهوه واجبيږي «مسائل سجده سهوه مخ ۷۹ بحواله شامي ج ۱ ص ۷۲۳».

دوترو امامت

سوال: آيا دوترو امام د فرض لمانځه له امامه پرته بل څوک کيدای شي

؟ جواب: دوترو امام د فرض لمانځه له امام پرته بل څوک کيدلای شي «فتاوی دار العلوم ج ۴ ص ۱۵۸» دا چې مشهوره ده چې کوم شخص فرض لمونځ ورکړی هماغه به وتر وروکوي که چيرې کوم بل څوک وترورکړي نو جائزنه ده دا غلطه ده بل څوک وتر ورکولای شي دا صحيح ده «فتاوی رشيديه کامل ص ۳۲۸».

که دامام مذهب په رکوع کې د قنوت دعا ويل وي نو مقتدي به څه کوي

که چيرې وتر په داسې امام پسې کوي چې تر رکوع وروسته په ولاړه دعاقنوت وايي او د مقتدی دامذهب نه وي نو مقتدی دې په دې کې دامام متابعت او پيروي وکړي «ترجمه فتاوی عالمګيري ج ۱ ص ۱۷۸

که ټول خلک د روژې په مياشت کې تراويح پريږدي نو وتر به څنګه کوي

سوال: د روژې په مياشت کې که د لماخستن لمونځ په جماعت سره وکړي او ټولو خلکو تراويح يو مخ پريښودې نو په دې صورت کې وتر په جماعت جائزدي او کنه ؟ جواب: د درمختار لومړي ټوک ۴۷۱ ص عبارت څخه معلوميږي چې د خلکو دغه ډله دې وتر هم جلاجلا وکړي «امداد الفتاوی ج ۱ ص ۴۵۷ »

که فرض په جماعت ونشي نو آيا وتر په جماعت کولای شي

سوال: يوه سړي فرض يوازې وکړل او د تراويحو ټول يا زيات رکعتونه يې له امام سره وکړل يا يې يو مخ ونکړل په درې سره صورتونو کې دوتروپه جماعت کې برخه اخستلای شي او کنه ؟ جواب: په درې سره صورتونو کې دوتروپه جماعت کې برخه اخيستلای شي تراويح له امام سره ټولې ياځينې نه کولو په صورت هم دوتروپه جماعت کې شريکيدو جوازپه درمختار کې بيان شوی ځکه چې وترڅان ته لمونځ دی نه دلماخستن دلمانځه تابع دی او نه د تراويحو «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۵۵ »

که امام صرف فرض ورکړي او حافظ تراويح او وتر

سوال: ملا امام که د لمانځستن فرض او وتر ورکړي يا صرف فرض ورکړي او حافظ صاحب تراويح او وتر ورکړي نو څه حکم دی؟ جواب: دا پروانه لري حضرت عمر ﷺ به فرض لمونځ او وتر ورکول او حضرت ابي بن کعب ﷺ به تراويح ورکولې همدارنګه که امام صرف فرض ورکړي او حافظ صاحب تراويح او وتر ورکړي نو دا هم څه پروانه لري «فتاوی رحيميه ج ۴ ص ۳۹۴ د عالمګيري ج ۱ ص ۷۴ په حواله»

له روژې وروسته وتر په جماعت څنګه دي

سوال: د روژې مبارکې له مياشتې پرته که وتر په جماعت وشي نو تحريمي مکروه دي او که تنزيهي په دې کښې د تداعي او ناتداعي (بلنې او نابلنې) توپير شته او کنه؟ جواب: اتفاقاً که کله داسې وشي نو تنزيهي مکروه دي او که هميشه توب او پابندي پرې وشي نو تحريمي مکروه دي که په تداعي سره وي او که بيله تداعي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۲۳ بحواله رد المحتار ج ۱ ص ۶۶۳ باب الوتر والنوافل» د روژې له مياشتې پرته که اتفاقاً په سرې پسې يو يا دوه کسان و دريږي نو کراهت نشته خو که سم د خلکو په رابللو جماعت وکړي يا اتفاقاً تر دوو زيات مقتديان شول نو مکروه دي «اشرف الاضاح شرح نور الايضاح ص ۱۴۷»

په روژه کې وتر په جماعت افضل دي

د روژې مبارکې په مياشت کې وتر په جماعت کول افضل دي پر دې د ټولو مسلمانانو اجماع ده او له هغه پرته په جماعت افضل نه دي ځکه چې هغه يو ډول نفل دي او له تراويحو پرته د نفلو جماعت نشته

بلکه مکروه دي ځکه نو احتیاط په جماعت نه کولو کې دی ځو که چیرې دیوه یادوو کسانو په نفلو کې جماعت وي نو هیڅ پروانه لري «اشرف الایضاح شرح نور الایضاح ص ۱۴۷»

تهجد کونکي له فرضو سره وتر کولای شي کنه

سوال: کوم خلک چې تهجد کونکي دي هغوی د تهجد پروخت وتر اداکوي که وترمخکې دلماخستن له لمانځه سره وکړي نو داځه پروا لري او کنه ؟ زیاتره خلک وایي چې تروتروورورسته ترسهاره پورې هیڅ یو لمونځ نه کیږي ؟ جواب: په دې کښې هیڅ حرج نشته کوم خلک چې تهجد کونکي دي هغوی دې هم وتردلماخستن له لمانځه وروسته وکړي بلکه زیات احتیاط په دې کښې دی بیاکه چیرې راپورته شي نود تهجد لمونځ دې وکړي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۲۰ بحواله ردالمحتار ج ۱ ص ۳۴۲ کتاب الصلاة»

داخبره غلطه ده. چې تروتروورورسته بیانفلونه نه کوي په روژه کې دې وترپه جماعت سره وشي ځکه چې د جماعت فضیلت زیات مهم شان لرونکی دی دوخت له فضیلت څخه «امداد الفتاوی ج ۱ ص ۴۵۵»

که څه تراویح پاتې شوې نو لومړی به تراویح پوره کوي او که وتر

سوال: د تراویحو ترڅلورورکعتونو کیدو وروسته یو سړی راغلی فرض یې وکړل له امام سره په تراویحو کې شریک شو کله چې د امام تراویح پوره شي نو دغه سړی به له امام سره وتر کوي او که به خپل پاتې تراویح پوره کوی ؟ جواب: په عالمګیري کې راغلي چې دغه

شخص دې دوترو په جماعت کې برخه واخلي وروسته دې خپلې تراويح پوره کړي «امدادالفتاوی ج۱ ص ۴۹۲»

د وتروله کولو وروسته معلومه شوه چې دتراويحو دوو رکعتونو راګرزول واجب دي

سوال: په روژه کې ترشلو رکعتونو تراويحو او وتروکولو وروسته معلومه شوه چې دوه رکعتونه دغلطی له امله راګرزول واجب دي هغه دوه رکعته راوګرزول شول په دې فکر چې وترترشلو رکعتونو تراويحو وروسته اداکيږي لهذا نو دوترولمونځ صحيح او معتبرنه شوځکه يې نوبيادوهم ځل وترپه جماعت سره اداکړل نو دالمونځ صحيح شواوکنه ؟ جواب: مخکې کړي وتريې صحيح اومعتبرؤدراګرزولو ارتياپې نه وه چې راويې ګرزول نوداصحيح ونه شو له نورالايضاح څخه معلوميږي چې وترترتراويحو مخکې کول هم صحيح دي اووروسته کول هم صحيح دي ځکه نو دتراويحوله شلورکعتونو مخکې کړي وترمعتبراوصحيح دي «فتاوی رحيميه ج ۱ ص ۱۵۷»

دوترونيت

سوال: دوتروپه نيت کې واجب الليل يعنې دشپې واجب ويل څنګه دي ؟ جواب: دوتروپه نيت کې داويل په کاردي چې نيت کوم زه دوترودلمانځه اوکه چيرې واجب الليل هم وويل شي نوهيڅ پروانه لري «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۲۰ بحواله ردالمحتار ج۱ ص ۳۸۹ باب شروط الصلاة» دحنفي لپاره دوتروپه نيت کې دواجب لفظ ويل

مناسب دي خو ضروري نه دي البته داتعین ضروري دی چې داوتردي «حاشیه امدادالفتاوی ج۱ ص ۴۵۷»

وتروته باید واجب وویل شي اوکنه

سوال: دوترو داداکولو پر مهال وتروته واجب ویل په کاردي اوکنه خیني مولیان منعه کوي یعني وایي چې واجب ویل نه دي په کار؟ جواب: وتروته واجب ویل په کاردي وترد امام اعظم په نزد واجب دي لهذادوترو دادایني پر مهال دواجب لفظ ویل هیڅ پروانه لري اوکه نه وویل شي نوهم وترادا کیږي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۷۳ بحواله ردالمحتار ج۱ ص ۳۸۸ باب شروط الصلاة»

دسنتو په نیت وترکول

سوال: ترتراویحو وروسته چې کله وتروته ولاړ شو نو یوه سړي په هیره دسنتو نیت وکړی وتریې اداکړل خودقنوت ددعا ویلو پر وخت دده ورته خیال شو په دې صورت کې وترصحیح شول اوکنه؟ جواب: دده وترصحیح شول «فتاوی دارالعلو م ج ۴ ص ۱۵۲ بحواله ردالمحتار ج ۱ ص ۳۸۷، ۳۸۸ باب شروط الصلاة»

دتراویحو په ګنلو په وتروکې اقتدا کول

سوال: دامام ترو تروپیل کولو وروسته یوه سړي دتراویحو په ګنلو رپسې اقتداوکړه اوس دده وترصحیح کیږي اوکنه؟ جواب: په مسئوله صورت کې دې دامام له سلام اړولو وروسته څلورم رکعت ورسره یوځای کړي لمونځ دې پوره کړي دغه څلور رکعتونه به نفل شي اووتربه دده په ذمه باقي وي هغه اداکول غواړي «فتاوی رحیمیه ج۱ ص ۲۵۳»

په وتر کونکي پسې تراویح کونکي

سوال: حافظ صاحب په غلطی سره له ۱۲ رکعتونو وروسته دوترو نیت وتاړی مقتدیان دتراویحو په نیت ورسره شریک ؤ له سلام وروسته مقتدیانو وویل: چې د حافظ صاحب څلور رکعته هیرشول هغه پاتې څلور رکعته تراویح ورکړې پوښتنه داده چې وترصحیح شول او کنه؟ حافظ صاحب وایي چې وتراحتیاطا راورګرزوئ په دې صورت کې دمخکنیو وترو اعتبارنه ؤدوهم ځل حافظ صاحب وترورکړل؟ جواب په پوښتل شوي صورت کې دحافظ دوترو مخکنی لمونځ معتبردی مګرمقتدیانو نه لومړنی دوترولمونځ معتبردی او نه دوهم ځکه چې لومړی ځل دوترودلمانځه نیت نه ؤ او په دوهم ځل که څه هم دوترونیت ؤخو په داسې چاپسې یې اقتدا کړې وه چې هغه وترکړي وو ځکه داهم معتبرنه دی «فتاوی رحیمیه ج۱ ص ۳۴۲»

په وتروکې له رکوع مخکې دلاسونو پورته کولو او دعاقنوت ثبوت

سوال: دلته یو څه کسان غیرمقلد دي هغوی دوترور کعتونه خودرې کوی اماقنوت تررکوع ورسته وایي په دوی کې یو دلږعلم څښتن دی هغه وایي که په حدیث داثابت شي چې رسول الله ﷺ له رکوع مخکې لاسونه پورته کول بیایې قنوت ویله نو مونږ یې منلوته چمتو یو خو په حدیث داثابت نه دي تاسو ددې دثبوت په اړه یو حدیث راته ولیکئ؟

جواب: اخرج ابونعیم فی الحلیة عن عطاء بن مسلم حدثنا علاء بن المسیب عن حبیب بن ابی ثابت عن ابن عباس قال اوتر النبی ﷺ بثلث قنت فیها قبل الرکوع ۲ عن ابن عمر أن النبی ﷺ کان یوتر بثلث رکعات

ويجعل القنوت قبل الركوع ۳ وقدروى عن ابن عمركان اذافرغ من القرائة كبّر وفى الذخيرة رفع يديه حذاء اذنيه وهو مروى عن ابن مسعود وابن عمروابن عباس وابى عبيدة واسحق وقد تقدم «كبرى شرح منيه» له دغوروايا توڅخه ثرګند شوه چې وتردې ركعته دي او دعاءقنوت تر ركوع مخكې ده اوله حضرت عبدالله بن مسعود، عبدالله بن عمر، عبدالله بن عباس ﷺ اونوروڅخه دقنوت دتكبيرپروخت لاسونه پورته كول ثابت شول اوښكاره ده چې دغوستروا صحابو ﷺ له ركوع څخه مخكې په قنوت اوله تكبيرسره دلاسوپورته كولو په حال كې رسول الله ﷺ ليدلى ځكه نودادليل كافي دى اوكه لامذهبيان دانه مني نوهغوى ته دوايه چې كوم مذهب دعبدالله بن مسعود، عبدالله بن عمر، اوعبدالله بن عباس ﷺ اونورواصحابوؤهم هغه زمونږ مذهب دى په كوم دليل چې دغوحضراتودقنوت دتكبيرويلوپرمهال لاسونه پورته كول هم هغه زمونږ دليل دى «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۱۵۷ باب مسائل نمازونو كبيري شرح منيه غنية المستملى باب الوترص ۳۹۲»

په اللهم اناكې دملحق حاء ته زورور كړوكه زير

سوال: په دعاقنوت كې چې كوم دملحق لفظ دى دهغه پرحاء زوردى كه زير؟ جواب: په دعاقنوت كې دملحق پرحاء زوراوزيردواړه ويل شوي دي اودواړه جائزهم دي كه څه هم مشهورزيردى اوزيرغوره هم دى «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۱۵۳، ۱۲۳ بحواله ردالمحتارج ۱ ص ۲۲۴ باب الوتروالنوافل»

له سورة فاتحې وروسته دعاقنوت ویل

که یو چادوتروپه دریم رکعت کې له سورة فاتحه ویلو وروسته دعاقنوت وویله سورة ورسره یوځای کول یې هیرشول بیارکوع ته په رسیدو ورپه یادشونو ولاړشو سورة یې وواییې بیایې دعاءقنوت وویله بیادوهم ځل رکوع ته ولاړی نوپه پای کې دې سجده سهوه وکړي که یې ترالحمد لله وروسته قنوت وویله رکوع یې وکړه اوسورة یې پرېښود په رکوع کې ورپه یادشونوسردې راپورته کړي سورة دې وواییې اوقنوت اورکوع دې راوګرزوي اوسجده سهوه دې وکړي اوکه چیرې یې الحمد لله پرېښې وه نودالحمد لله سره دې سورة اوقنوت هم راوګرزوي اورکوع دې هم دوهم ځل وکړي اوکه دوهم ځل رکوع ونکړي بیاهم روادي «ترجمه فتاوی عالمګیري ج۱ ص ۱۷۲»

دوتروپه دریم رکعت کې یې تکبیرویل هیرشو

که کوم شخص دوتروپه دریم رکعت کې دتکبیرویلوپرځای رکوع ته لاړی بیاورپه یادشونوبیرته راپورته شواوالله اکبریې وواییه دعاقنوت یې وویله نووروسته دې دوهم ځل رکوع نه کوي اولمونځ دې پوره کړي اوکه چیرې ددعاقنوت لپاره نه راوګرزي بیاهم لمونځ صحیح دی په دواړوصورتونوکې سجده سهوه کول واجب دي «مسائل سنجده سهوه ص ۷۲ بحواله درمختاربرحاشیه شامي ج۱ ص۶۲۷»

دعاقنوت په حدیث ثابت ده اوکنه

سوال: یوکس وایي چې دعاقنوت په حدیث ثابت نه ده رسول الله ﷺ په وترو کې دعاقنوت نه ده ویلې داقول صحیح دی که غلط ؟ جواب:

ددې سرې ويناغلط ده مروجه دعاقنوت دترمذي په حديث ثابت ده اوپه وتروکې دعاقنوت ويل په احاديثوکې راغلي ده «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۲۲»

سره له دې چې دعاقنوت يې په يادوي بله دعاويل

سوال: که چيرته يې دعاقنوت په يادوي نوآيابله دعامثلاً لکه ربناالخ ويلای شي اوکنه؟ جواب: که يې دعاقنوت په يادوي نوربناآتنااونورنشي ويلای خاص دعاقنوت ويل په کارده «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۲۲ بحواله ردالمحتار ج ۱ ص ۲۲۴ باب الوتروالنوافل»

که دچادعاقنوت په يادنه وي نوبه څه وايي

سوال: دکوم چاچې دعاقنوت يادنه وي دهغه لپاره دقنوت پرځای سورة اخلاص ويل جائزدي اوکنه؟ اولمونځ صحيح کيږي اوکنه؟ جواب: په شامی کې راغلي دي چې دچادعاقنوت زده نه وي هغه دې ربناآتنافی الدنياحسنة الخ وايي اوفقه ابوالليث فرمايي چې اللهم اغفرلي دې درې ځله ووايي ځينوعلماؤ فرمايلي چې يارب دې درې ځله ووايي اوڅرنګه چې داځای ددعادی ځکه سورة اخلاص ددې پرځای نه دريږي خولمونځ صحيح کيږي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۲۴ بحواله ردالمحتارج ۱ ص ۲۲۴ باب الوتروالنوافل»

که له رکوع مخکې يې دعاقنوت وويله نورکوع به نه راګرزوي

امام ته په رکوع کې وريادشول چې قنوت مې نه ده ويلې نوبايد قيامه ونکړي اوکه ودريدی اوقنوت يې ووايه نودرکوع راګرزول نه دي په

کاراو که ده رکوع هم راوګرزوله او مقتدیانو په مخکنی رکوع کې د ده پیروي نه وه کړې په دوهمه رکوع کې یې متابعت وکړیایې په لومړي رکوع کې اتباع کړي وه او په دوهمه کې یې ونکړه نو دهغوی لمونځ نه فاسدیږي «ترجمه فتاوی عالمګیري ج۱ ص ۱۷۷»

بیله تکبیرویلو د قنوت لوستلو څه حکم دی

سوال: ملاامام دوترو په دریم رکعت کې بیله الله اکبرویلو او بیله لاس پورته کولو دعاقنوت ویل پیل کړل یوه مقتدي په الله اکبرویلو فتحه ورکړه ځکه نو ده الله اکبروو ایو او لاسونه یې پورته کړل بیایې قنوت وویله او دلمانځه په پای کې یې سجده سهوه وکړه نو په لمانځه کې کوم تاوان پیښ شو او کنه ؟ جواب: لمونځ صحیح شو لکه چې په قرائت کې بیله اړتیا په فتحه ورکولو لمونځ صحیح کیږي که څه هم ملاامام فتحه واخلي او څرنګه چې سجده سهوه واجبونکي کوم کاروجود نه موند ځکه سجده سهوه نه واجبیږي «امداد الفتاوی ج۱ ص۴۵۱» قنوت ته راپورته کیدل نه دي په کارپه سجده سهوه سره جبران کیږي «فتاوی دار العلوم ج۴ ص ۱۷۱»

که په اول یادوهم رکعت کې قنوت ووایي

که یې په هیره په لومړي یادوهم رکعت کې دعاقنوت وویله نو دې ته هیڅ اعتبار نشته په دریم رکعت کې بیاوایل په کار ده او سجده سهوه به هم کوي همدارنګه که چاته شک شو چې دادوهم رکعت دی که دریم نو هغه ته په کاردي چې همدغه رکعت کې دعاقنوت ووایي او دالتحیات لپاره کښیني بیاتردې وروسته دوه رکعته وکړي په هغه کې دې دوهم ځل دعاقنوت ووایي «بهشتي زیور حصه دوهم ص ۲۸۰

بحواله طحطاوي ص ۱۲۲ ومسائل سجده سهوه ص ۵۹ بحواله عالمګیري ج۱ ص ۷۸»

دامام دوترواوله ناسته هیره شوه

سوال: امام دوترو پردوهم رکعت کې دناستې پرځای دریم رکعت ته ولاړشو دمقتدیانو په فتحه ورکولو بیرته کینستی اوس یې په پای کې سجده سهوه وکړه نوآیاوترصحیح شول اوکنه؟ جواب: دامام دوترواوله ناسته هیره شوه نواوس بایدنه وای کیناستلی صرف په سجده سهوه وترصحیح کیدل چې تردرید وروسته کیناستی دایې غلطی وکړه خولمونځ فاسدنه شواوس چې یې سجده سهوه وکړه نولمونځ صحیح دی دراګرزولوضرورت نشته «فتاوی رحیمیه ج۱ ص ۳۴۲»

دواجبواوسنتوپه اوله ناسته کې درودویل

سوال: دواجبواوسنتولمونځونوپه اوله ناسته کې ترالتحیات وروسته درودشریف اونورویل سجده سهوه واجبوي اوکنه؟ اوهمدارنګه که دواجبواوسنتواوله ناسته هیره شي ولاړشي نوددریم رکعت له سجدې کولومخکې کښیني اوکنه؟ جواب: دواجب لمانځه مثلاً وتروهم هغه حکم دی کوم چې دفرض لمانځه دی نودواجبوپه اوله ناسته کې که ترالتحیات وروسته درودا اونورو ویل شي نوسجده سهوه لازمیږي اودمؤکدسنتوپه اړه دوه قوله دي خوزیات احتیاط دسجده سهوې دوجوب دی اوداولې ناستې دپریښودوهم هغه حکمونه دي کوم چې دفرضودي څرنګه چې داولې ناستې په پریښودلوکې داحکم دی چې که ناستي ته زیات نږدې ؤ

نو کښيني دي او که ولاړه ته زيات نږدې وُ نو نه دې کښيني او په پاى کې دې سجده سهوه وکړي «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۳۴۹ بحواله ردالمحتار باب صفة الصلاة ج ۱ ص ۴۷۲ و ۲۹۷ باب سجود السهو»

که امام بيله قنوت ويلو رکوع ته لاړى په مقتديانو کې ځينو رکوع وکړه ځينو ونه کړه نو څه حکم دى

سوال: امام د وترو په دريم رکعت کې بيله قنوت ويلو رکوع وکړه مقتديانو فتحه ورکړه بيا هم امام په رکوع کې ؤ او د شک له امله رکوع ډيره وځنډيده وروسته امام سجده سهوه وکړه ځينو مقتديانو نه رکوع وکړه او نه يې دعاقنوت وويله او ځينو رکوع وکړه نو په دې صورت کې د چا لمونځ صحيح شوا او که د ټولو لمونځ فاسد شو نو د دې څه حکم دى ؟ جواب: په دې صورت کې د امام لمونځ صحيح شوا و چا چې له امام سره يا د امام له رکوع کولو وروسته رکوع وکړه د هغوئ لمونځ وشو د راګرزولو ضرورت نشته خو کومو مقتديانو چې يو مخ رکوع ونکړه د هغوئ لمونځ د فرض پاتيدو له امله صحيح نه شو راګرزول يې ضروري دي د قنوت لپاره له رکوع څخه وقيام ته د راتلو اړتيا نشته په هيره د دعاقنوت په پاتيدو په سجده سهوه سره جبيره کيږي او په هيره د دعاقنوت پاتيدو څلور صورتونه دي ۱ په رکوع کې يې دعاقنوت وو ايو ۲ يا يې رکوع پريښوده ولاړشوا و دعاقنوت يې وويله دوهم ځل يې رکوع وکړه ۳ يا يې دوهم ځل رکوع ونکړه ۴ دعاقنوت يې نه په رکوع کې وويله نه يې له رکوع وروسته په ولاړه کې په دې څلورو صورتونو کې که يې سجده سهوه

وکړه نولمونځ صحيح کيږي «فتاوی رحيميه ج ۴ ص ۳۹۷ بحواله عالمګيري ج۱ ص ۷۱ درمختارمع شامی ج۱ ص ۲۲۷»

که امام دعاقنوت پريږدي رکوع ته لاړشي نومقتدي به څه کوي

که چيرې امام دعاقنوت پريښودی رکوع ته لاړی نومقتديانوته په کارده چې که دوی دعاقنوت ووايي له امام سره په رکوع کې شريکيدای شي نوبايد دعاقنوت ووايي په رکوع کې ورسره شريک شي اوکه چيرې ددعاقنوت په ويلو له امام سره په رکوع کې نشي شريکيدای نوهغه دې هم قنوت پريږدي رکوع ته دې لاړشي اوکه امام رکوع وکړه دعاقنوت ورياده شوه اوده په ولاړه دعاقنوت وويله نواوس ده ته دوهم ځل درکوع کولو اړتيانشته اوکه يې دوهم ځل رکوع وکړه اويوسړی راغلی په دغه رکوع کې ورسره شريک شونوهغه ددغه رکعت موندونکی نه بلل کيږي اوپه پورتنيوبيان شويوهرصورت کې سجدسهوه کول واجب دي «مسائل سجده سهوه ص۸۱»

که مقتديانولادعاقنوت ختمه کړې نه وي امام رکوع ته ولاړشي

سوال: دوتروپه جماعت کې امام دعاقنوت ختمه کړه رکوع ته لاړی خومقتديانولانه وه ختمه کړې نوآيادوی به دامام داتباع په غرض بيله قنوته رکوع ته ځي؟ جواب: که لږپاتې ده چې دهغه په پوره کولوله امام سره په رکوع کې شريکيدلای شي نوپوره يې دې کړي رکوع دې وکړي کنه پرې يې دې ږدي که يې دقنوت څه برخه ويلې وه

اوځه پاتې وه نو په دې صورت کې به اوس د امام اتباع کوي ځکه چې دقنوت مقصد دعاده او دعا لږوي که ډیره دواړه ته شامله ده د امام اتباع واجب ده او دواجب ترپرېښودلو مستحب پرېښودل غوره دي ځکه مستحب دې پرېږدي او دامام اتباع دې وکړي همدارنګه که لاتراوسه يې دعاقنوت پيل کړي هم نه وه چې امام رکوع ته لاړی نو که مقتدي ته د رکوع تيريدو ويره وه نو قنوت دې پرېږدي د امام په اتباع کولو دې رکوع وکړي «فتاوی دار العلوم ج ۴ ص ۱۵۴ بحواله عالمګيري ج ۱ ص ۱۰۴ اشرف لايضاح شرح نور الايضاح ص ۱۱۰»

که دوتروپه دوهم يادريم رکعت کې شريک شي نو قنوت به کله وايي

سوال: په روژه کې د وترو د جماعت په دريم رکعت کې شامل شو پاتې دوو رکعتونو کې به دعاقنوت ويل کيږي او کنه؟ جواب: په روژه کې دوترو په جماعت کې که څوک په دريم رکعت کې شريک شو نو که يې دريم رکعت پوره و نيولی نو د امام سره دې دعاقنوت ووايي وروسته ويلو ته ضرورت نشته همدارنګه که د دريم رکعت په رکوع کې ورشريک شو بيا وروسته ويلو ته اړتيا نشته «ترجمه عالمګيري ج ۱ ص ۱۷۸» له امام سره يې دريم رکعت ونيوی نو اوس په دريم رکعت کې د امام په اتباع کولو دی دعاقنوت ولولي ګوا که دی په دريم رکعت کې دی او کله چې دی خپل پاتې شوي رکعتونه راګرزوي نو دعاقنوت دې نه وايي پردې اجماع ده «اشرف الايضاح شرح نور الايضاح ص ۱۵۱»

نیم سورت لوستل نیم پریښودل څنګه دي

سوال: دوترو په لومړي رکعت کې اذازلزلت سورة ولولي په دوهم کې نیم والعادیات اوپه دریم کې نیم القارعة ووایی نوآیا په دې صورت کې لمانځه ته څه زیان رسیږي اوکنه ؟ جواب: داسې کول ښه نه دي پوره پوره (کوچنی) سورة په هررکعت کې ویل افضل اوغوره دي خوپه هرصورة لمونځ په دې صورة هم وشو «فتاوی دارالعلوم ج۴ ص ۱۷۱ بحواله ردالمحتار فصل فی القرائت ج۱ ص ۵۰۵»

په وترو کې دکوم سورة ویل سنّت دي ؟

سوال: دوترو په رکعتونو کې کوم کوم سورتونه ویل سنت دي ؟ جواب دوترو په لومړي رکعت کې سورة اعلی سبح اسم ربک الاعلی په دوهم رکعت کې کافرون اوپه دریم کې سورة اخلاص ویل مسنون اومستحب دي له رسول الله ﷺ څخه همدارنګه ویل ثابت دي خودا مبارک ﷺ پردې همیشتوب نه دی کړی څکه نوهمیشتوب کول زیاتوب دی دوترو په درې سره رکعتونو کې نور سورتونه ویل هم مسنون دي لکه په لومړي رکعت کې اذازلزلت الارض په دوهم رکعت کې انااعطینک الکوثر اوپه دریم کې قل هوالله ، اودترمذي له روایته داهم معلومیږي چې په لومړي رکعت کې الهکم التکاثر یاانا انزلناه یااذازلزلت الارض په دوهم رکعت کې والعصر یااذاجاء یاانااعطینک په دریم کې قل یاایهاالکافرون یاتبت یدا یاقل هوالله «فتاوی رحیمیه ج۴ ص ۳۹۷ بحواله شامی ج۱ ص ۵۰۸ و ۲۲۳»

سورتونه معلومول

حضرت شاه ولی الله رحمه الله په خپل کتاب حجة الله البالغة کې لیکي: چې رسول الله ﷺ په ځینو لمونځونو کې د ځینو مصلحتونو او ګټو په خاطر د ځینې ځانګړو سورتونو ویل خوښ کړي خو په قطعي توګه نه هغه تعیین کړی او نه یې نورو ته تاکید فرمایلی چې داسې دې کوي نو په دې اړه که څوک د هغه ﷺ اتباع کوي (په همغه لمونځونو کې هم همغه سورتونه زیاتره ووایي) نو ښه دې او که څوک داسې نه کوي پر هغه چا هم هیڅ ملامتیا او حرج نشته رسول الله ﷺ له جمعې او اخترونو پرته په نورو ټولو لمونځونو کې د سورتونو تعیین نه دی کړی په فرضي لمونځونو کې له کوچنیو او غټو سورتونو څخه کوم داسې سورت نشته چې ده مبارک ﷺ به نه وي ویلی او د نفلو په یوه رکعت کې دوه سورتونه هم رسول الله ﷺ ویل خو په فرضي لمونځونو کې نه ، د رسول الله لومړی رکعت به تر دوهم اوږدوو «معارف الحدیث ج ۳ ص ۲۲۱»

تر وترو وروسته د سبحان الملک القدوس د نه ویونکي څه حکم دی

سوال: یو کس له وترو وروسته په لوړ اواز سبحان الملک القدوس درې ځله نه وایي آیا د سنت پیروي کونکی بلل کیږي او کنه ؟
جواب: له وترو وروسته په لوړ او از درې ځله سبحان الملک القدوس ویل مستحب دي او په ځینې روایاتو کې دریم ځل په زوره ویل راغلي نو له دې څخه دریم ځل سبحان الملک القدوس په زوره ویل ثابتیږي په هر حال داسې کول مستحب او غوره دي او پرنه ویونکي طعن

او ملامتي ويل نه دي په کار ځکه مستحب کار که څوک ونکړي نو هيڅ ملامتيا ورباندې نشته خو د سنت د اتباع غوښتنه داده چې لکه څنګه چې رسول الله کړي دي هغسې يې دې وکړي يعنې که درې سره واره وي يا يو ځل په اخري کې وي سبحان الملک القدوس دې په لوړ اواز ووايي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۷۴ بحواله مشکوة باب الوتر ص ۱۱۲»

سبحان الملک القدوس څه وخت ووايي

سوال: د وترو له سلام وروسته چې کوم سبحان الملک القدوس درې ځله راغلي دي دا چې سجده وکړي ويل کيږي او که په ناسته کې ويل کيږي او د احنافو په نزد جائز دي او کنه؟ جواب: د وترو سلام چې وګرځوي نو دې کښيني ويې دې وايي او د احنافو په نزد هم جائز او مستحب دي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۵۷ بحواله مشکواة باب الوتر فصل ثاني ص ۱۱۲»

ديارلسم باب

سنتونه او نفلونه څه شی دي

له وترو وروسته د نفلو ثبوت او طريقه

په شپه او ورځ کې پنځه لمونځونه خو فرض دي او هغوی ګواکه د اسلام مهم رکن او د ايمان جزء دي له هغوی پرته د هغوی مخ او شاته او په نورو وختونو کې هم د څه رکعتونو کولو تاکيد هڅونه او تعليم رسول الله ﷺ کړی دی بيا له هغوئ څخه د کوم په اړه چې رسول الله ﷺ د تاکيد الفاظ کارولي دي يا د نورو هڅولو سره سره ده مبارک ﷺ په ډير اهتمام سره عمل هم پرې کړی هغوی ته په عام عرف کې سنت ويل

کيږي او له دغو نه ماسيوا ته نفلونه چې اصلي معنی يې «زوائد» دي او په احاديثو کې له فرضي لمونځونو پرته نورو ټولو ته نوافل ويل شوي دي بيا چې د کوموسنتونو يا نفلونو ترفرضو کولو مخکې تعليم شوی په ښکاره د هغوئ ځانګړی حکمت او مصلحت دادی چې فرض لمونځ کوم چې د الله ستردربار ته په ځانګړي توګه حاضري وروړل دي «په همدې وجه هغه په ټولنيز ډول په مسجد کې اداکيږي» په دې له مشغوليدو مخکې لومړی په انفرادي توګه په دوه يا څلورر کعته کولو زړه له هغه دربارسره آشنا کړل شي او له ملائکو سره يو نږديکت او مناسبت پيدا کړل شي او د کوموسنتونو او نفلونو چې ترفرضو وروسته کولو تعليم ورکول شوی د هغوی حکمت او ګټه په ظاهره دا معلوميږي چې په فرضي لمونځ کې چې کومه نيګړتيا راغلې وي د هغه جبيره به په وروستنيو سنتونو او نفلونو وشي د دې تائيد د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه له حديث څخه کيږي هغه فرمايي ماله رسول الله څخه واوريدل چې د قيامت په ورځ به د بنده له اعمالو څخه تر ټولو مخکې د لمانځه حساب کيږي او د هغه د لمانځه ته به کيږي که چيرې هغه سم وختی نو بنده به کامياب او بريالی شي او که چيرې هغه سم و نه ختی نو بنده به نامراد شی بيا که دده په فرضو کې کومه نيمګړتيا وه نو الله تعالیٰ ﷻ به وفرمايي چې وګورئ آيا زما د بنده د اعمالو په ذخيره کې له فرضو پرته څه نکيانې (سنتونه يا نفلونه) شته تر څو په هغوئ دده د فرضو کمښت او نيمګړتيا پوره شي بيا به د لمانځه د نورو اعمالو حساب هم دا رنګه کيږي

دسنتو انفلو دګڼې او ارزښت لپاره يو وازې همدغه حديث کافي دى
«معارف الحديث ج ۳ ص ۳۷۴ بحواله جامع ترمذي ونسائى»

له وترو ورسته دنفلو ثبوت

عن ام سلمة ﷺ ان النبى ﷺ كان يصلي بعد الوتر ركعتين. ژباړه: له حضرت ام سلة ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ به له وترو وروسته دوه رکعته نور کول.

ددې حديث روايت ابن ماجه هم کړى په هغه کې دا زيات توب هم شتون لري چې ده مبارک ﷺ به تر وترو وروسته دوه رکعته لنډ لنډ کول له دې پرته له بي بى عائشه ﷺ او ابو امامه رضى الله عنهما څخه هم روايت دى د همدغو احاديثو په اساس ځينې علماء له وترو وروسته په ناسته دوه رکعته کول افضل بولي خو نور شاغلي فرمايي چې په دې اړه دعامو امتيانو قياس پر رسول الله ﷺ نشي کيداى په صحيح مسلم کې له حضرت عبد الله بن عمر رضى الله تعالى عنهما روايت دى چې هغه يو ځل رسول الله په ناسته لمونځ کونکى وليدنو پوښتنه يې ځينې وکړه چې ماته خو چاستاسو په حواله ويلي ؤ چې په ناستې لمونځ دولاړې دلمانځه نيمئ ثواب لري او تاسو يې په ناسته کوئ رسول الله ﷺ وفرمايل: هو ! مسئله هم هغه ده (يعني د ناستې دلمانځه ثواب په مقابل نيم وي) خو په دې اړه زه ستاسو په رنګه نه ... ﷺ معامله جلا ده يعنى ماته په ناسته لمونځ کول هم ... راکول کيږي ددې حديث په بنسټ زياتره علماء او يناکوي ... وورو ... غودوو رکعتونو لپاره کوم جلا اصول نشته

بلکه هم هغه عام اصول او قاعده ده چې په ناسته کولو ثواب دولاړې کولو په مقابل کې نیم دی «معارف الحدیث ج ۳ ص ۳۳۵»

آیا له وترو وروسته نفل صحیح دي

سوال: ځیني خلک وایي چې له وترو وروسته هیڅ یوه سجده نشته او کوم نفل چې له وترو وروسته کیږي د هغوی کول جائزنه دي دا خبره ترکومه سمه ده ؟ جواب: له وترو وروسته نفلونه کول جائزدي لکه چې ځینو اصحابو ﷺ چې دلماخستن له لمانځه وروسته وتر کول او دشپې په اخرنی برخه کې به یې تهجد کول نو معلومه شوه چې له وترو وروسته نفل منعه نه دي اورسول الله ﷺ هم له وترو وروسته دوه رکعته نفل کړي دي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۲۰»

نفل ترڅه وخته پورې وي

سوال: له فرضو وروسته چې کوم نفل دي هغه له فرضو وروسته سمدستي کؤ یا چې ترڅو وخت پاتې وي کولای یې شو؟ جواب: ترڅو چې دهغه لمانځه وخت وي ددغو نفلونو وخت هم ترهغووي خو ورسره متصل (پیوسته) کول غوره دي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۰۷ بحواله درمختار ج ۱ ص ۴۹۴ باب صفة الصلاة»

له تراویحو وروسته د نفلو د جماعت څه حکم دی

سوال: آیا دري کسان له تراویحو وروسته د نفلو په جماعت کولو ثواب حاصلولای شي ؟ که نفلي لمونځ په جماعت سره له تراویحو وروسته مطلقاً صحیح نه دی اداکونکي که په شمیردرې وي یا که زیات ؟ جواب: پرته له تراویحو د نفلو جماعت سنت اومستحب نه دی بلکه په ځینو صورتونو کې مکروه او ځینو کې مباح

دی ځکه په دې کې د جماعت فضيلت او ثواب نه حاصليږي ځکه دره
درې مقتديان وي نو د جماعت اجازه شته خو د جماعت نه کول بيا هم
ښه دي ځکه نو مطلقاً د نفلو جماعت بايد و نشي له درمختار څخه
معلوميږي چې له تراويحو پرته دې نور کوم نفل په جماعت نه کيږي
«فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۲۹ بحواله ردالمحتار باب الوتر
والنوافل ج۱ ص ۷۲۳»

کوم ځای چې نفل وکړي له هغه ځای جلا نفل کول څنګه دي

سوال: په احاديثو له فرضو وروسته په مسجد کې د نفلو او سنتو لپاره
ځای بدلول ثابت دي او کنه؟ او د نفلو لپاره د غه ځای بدلول په
مسجد کې مسنون دي که په کور کې هم؟ جواب: د شامی
او درمختار له عبارت څخه معلوميږي چې د احنافو په نزد د سنتو او هم
د نفلو لپاره ځای بدلول (مخته شاته کيدل) مستحب دي او د شامي له
عبارت څخه معلوميږي چې يوازې په کور کې لمونځ کونکي لپاره هم
د نفلو او سنتو لپاره ځای بدلول غوره دي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص
۲۳۰ بحواله ردالمحتار ج۱ ص ۴۹۵ باب صفة الصلاة»

دوه نفله هميشه کوي که کله ناکله يې پريږدي

سوال: په ماسپښين، ماښام او لماخستن کې له دوو رکعتو سنتو
وروسته دوه رکعته نفل کول آيا دا دوه رکعته بايد هميشه وکړل شي
که کله ناکله پريښودل شي؟ جواب: په نفلو کې اختيار دی که
وغواړې پريښودلای يې هم شې او د نفلو په نيت هميشتوب هم پرې
کولای شې په دې کښې دا انديښنه نشته چې ګواکي په هميشتوب به
فرض وګڼل شي خو بيا هم کله ناکله يې پريښودل غوره دي «فتاوی

دارالعلوم ج ۴ ص ۲۴۰ بحواله ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص ۲۳۵»

آیانفل لمونځ په شروع کولو واجبیږي

سوال: یو چانفل لمونځ شروع کړکله یې چې یورکعت پوره کاوه ورته معلومه شوه چې جامې یې پلیتې دي لمونځ یې ترک کړآیاددې لمانځه راګرزول واجب دي ؟ جواب: مسئله داده چې نفل په شروع کولو واجبیږي نو که چانفلي لمونځ له شروع کولوروسته په یو سبب باندې ترک کړنو په هغه دلمانځه راګرزول ضروري دي دفقهې په کتابونوکې همداسې لیکل شوي دي خو په درمختارکې راغلي دي چې که چیرې شروع له سره صحیح نه وي نوراګرزول واجب نه دي خکه چې دلمونځ کونکي جامې له سره پلیتې وې لهذا ددې لمانځه راګرزول نه واجبیږي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۳۵ بحواله ردالمحتار ج۱ ص ۷۴۵ باب الوتر النوافل»

سنت او نفل په کورکې کول افضل دي که په مسجد کې

سوال: سنتونه او نفلونه په خپلو خپلو کورونوکې باید اداشي اوکه په مسجد کې ؟ جواب: په احادیثوکې چې دسنتو او نفلو په کورکې کولو څه فضیلت راغلی ده هغه مشهور او معروف دی او فقهاؤهم له تراویحو پرته نوررونفلونو او سنتونو ته په کورکې کول افضل ویلي دي او ددیوبند له اکابرو مثلاً دحضرت محدث فقیه مولانارشید احمد ګنګوهی رحمه الله عمل هم پرهمدې لیدل شوی له درمختار څخه معلومیږي چې دسنتو او نفلو لپاره کورافضل دی خوکه په لاره یا کورکې داویره وه چې زړه به خفه شي او خشوع به

حاصله نشي يابه دبې ضرورته خبرو له امله ثواب ته تاوان ورسيږي نو په داسې صورت کې په مسجد کې کول غوره دي که په مسجد کې په کولو دخشوع اواخلاص زياتوالى راځي اويا کورته په تلو دځنډيدو اونوروويره وي نوبيا په مسجد کې کول افضل دى ځکه چې دخشوع اوعاجزى لحاظ زيات دى کوم ځاى چې دا حاصليږي هغه افضل دى «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۲۲۷ وج ۴ ص ۲۱۱ بحواله ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص ۷۳۸»

له وترو وروسته نفل په ناسته کول په کاردي که په ولاړه

سوال: له وترو وروسته دوه رکعته نفل په ناسته وکړو که په ولاړه له رسول الله ﷺ څخه څرنګه ثابت دي ؟ جواب: نفل په ناسته کول يا په ولاړه دواړه رنګه صحيح دي خوپه ولاړه کولو کې يې دناسته په نسبت دوه چنده ثواب دى اورسول الله ﷺ په ناسته کړي خو هغه ته په ناسته کولو کې هم پوره ثواب ورکول کيده ليکن نوروته په ناسته کولو کې نيم ثواب ورکول کيږي دا خبره له احاديثو څخه ثابته ده «فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۳۳۱ بحواله ردالمحتار ج۱ ص ۷۵۳ باب الوتر والنوافل»

په ناسته دکولو جواز په هغه صورت کې دى چې په ناسته کولو کې کوم داسې التزام نه وي چې ور څخه کتونکيو ته په ناسته کولو څخه دسنت والي يا واجب والي ګمان پيدا شي لکه چې په ځينو ځايونو کې له ماسپښين او ماښام څخه وروسته په خلکو کې دوه رکعته په ناسته کول رواج شوي دي دهغو سيمو عوام دغه نفل په

ناسته کول شرعاً لازم کني په داسې سیمو کې په ناسته کول بې له شکه مکروه دي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۱۲»

د حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمه الله رایه

د دارالعلوم دیوبند له تهداب ایښوونکی حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمه الله څخه نقل دی چې که نفل په دې نیت په ناسته وکړي چې له رسول الله څخه همداسې منقول دي نو عجبه نه ده چې انشاالله په دې نیت به په ثواب کې کوم کمی رانشي «امداد الفتاوی ج ۱ ص ۴۷۵»

د معذور رعایت

دولاړې دتوان درلودلو سره نفل لمونځ په ناسته کول جائز دي خو د دې ثواب به دولاړې دلمانځه دثواب په مقابل کې نیم وي مگر دعذر له امله یعني معذور ته په ناسته هم د ولاړه لمونځ کونکي په شان ثواب ورکول کیږي په ناسته کولو صحیح *طریقه* داده چې لکه څنګه چې دالتحیات ویلو لپاره سړی کښیني همدارنګه دې کیني او په ولاړه نفل شروع کول وروسته بیرته په ناسته پوره کول بې له څه کراهته جائز دي «نورالایضاح ص ۹۷»

دنبی اکرم ﷺ نفل په ناسته کول دامت دتعلیم لپاره دي

سوال: له وترو وروسته دوه رکعته نفل په ولاړه کول په کار دي که په ناسته؟ درسول الله ﷺ عمل څه ؤ؟ ده مبارک په ولاړه کول که په ناسته؟ جواب: له وترو وروسته دوه رکعته نفل په ولاړه کول افضل دي درسول الله ﷺ ارشاد دی چې په ناسته نفل کونکي لپاره نیم ثواب دی او له رسول الله ﷺ څخه دواړه ډوله ثابت دي خو رسول الله ﷺ ته په

ناسته کولو کې هم پوره ثواب ورکول کیدی دا دهغه مبارک ﷺ ځانګړتیاوه ځکه چې په دې کښې دامت لپاره دا تعلیم ؤ چې دریدل فرض نه دي او امت ته تعلیم ورکول له واجباتو څخه دي نو درسول الله ﷺ په ناسته نفل کولو کې هم دواجب ادا ینه ده دکوموچې ثواب له نفلو زیات دی البته له ځینې بزرګانو څخه منقول دي چې که دسنتو اتباع کونکي له وترو وروسته دوه رکعته کله ناکله په دې نیت په ناسته وکړي چې رسول الله ﷺ په ناسته کول زه یې هم دهغه په پیروي سره په ناسته کوم نو عجبه نه ده چې ده ته دده دنیت سره سم پوره ثواب ورکول شي خوله حدیث شریف څخه ثابتیږي چې په ولاړه کونکی دپوره او په ناسته کونکی دنیمي ثواب حقداردی «فتاوی رحیمیه ج ۳ ص ۲۵»

نفل نن هم په ناسته کولای شې

سوال: په کتاب کې مې داسې مسئله ولیده چې له وترو وروسته نفل په ناسته کول سنت دي ځکه چې درسول الله ﷺ همدغه طریقه وه آیادا مسئله صحیح ده؟ جواب: حامداً و مصلیاً رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي: چې په ولاړه کونکي ته دوه چنده ثواب ورکول کیږي او په ناسته کونکي ته نیم ثواب ورکول کیږي بیا رسول الله ﷺ ولیدل شو چې په ناسته نفل کوي نو پوښتنه ورځینې وشوه ده مبارک ﷺ وفرمایل: ماته هغومره ثواب راکول کیږي څه کمبود نه په کې راځي، له وترو وروسته دوه رکعته نفل له رسول الله ﷺ څخه په ناسته کول ثابت دي عام معمول یې دا ؤ چې دتهجد دپراوږدلمونځ به یې په ولاړه کاوه چې پښې مبارکې به یې وپړسیدې له دې وروسته

د سهار سپيدو ته نږدې به يې وتر کول بيا به يې په ناسته دوه رکعته نفل کول او س هم که کوم شخص د غه طريقه غوره کړي چې اوږد تهجد وکړي تر پنځه شپږ پارو ويلو وروسته وتر وکړي او سترې شي وروسته دوه رکعته نفل په ناسته وکړي نو په دې کې زياته اتباع ده «فتاوى محموديه ج ۲ ص ۱۷۵ بحواله ابوداؤد شريف ج ۱ ص ۱۳۷

په فتاوى محموديه کې راغلى دي چې بيله عذره په ناسته نفل کول صحيح دي خو په ولاړه کولو کې ثواب زيات دى له وترو وروسته دوه رکعته نفل کول په حديث او فقه ثابت دي که څوک يې وکړي ثواب به مومي که نه يې وکړي نو گنهگار نه دى پر هغه اعتراض او نيوکه کول نه دي په کار هڅول يې صحيح دي «فتاوى محموديه ج ۲ ص ۱۲۸ بحواله طحطاوي على مراقى الفلاح ص ۳۲۷ »

په ناسته لمونځ کونکى به چيرې گوري

سوال: په ناسته د نفلي لمونځ کولو پر مهال د سجدې پر ځاى نظر ساتل غوره دي که سينې او غيږې ته ؟ جواب: حامداً ومصلياً سينې او غيږې ته کتل مناسب دي «فتاوى محموديه ج ۲ ص ۱۵۷ بحواله شامي ج ۱ ص ۳۲۱ »

ضميمه

تراويح شل رکعته هم سنت دي

د شلو رکعتو پر مؤکد سنتوالي اجماع شوې ده او د اجماع مخالفت ناروادى او د غه اجماع د د غو احاديثو د منسوخيدو نښه ده او که په اجماع کې شبه ده ځکه چې ځينې علماؤ صرف اته رکعته مؤکد سنت ليکلي دي نو ځواب دا دى چې اجماع له دې قول څخه مخکې منعقده

شوې نو داجماع په مقابل کې شاذ قول ته اعتبار نشته کله چې تاکید ثابت شو نو ددې په ترک به عتاب او ترټنه راځي.

یوه کس دډیلي له نوي مجتهدینو څخه داته ۸ رکعته تراویحو واوریدل مولاناشیخ محمدصاحب رحمه الله ته راغلی او شکمن وو چې آیا اته رکعته دي که شل نوي مجتهدین ځان ته په حدیث عمل کونکي وايي لیکن صاحبه ! په حدیث کښې خوشل هم راغلي دي په هغه دوی ولې عمل ونکړترڅوېې په ضمن کې په اتوهم عمل شوی وای خبره داده چې نفس ته هوسایي خو په اتو کې ده شل ولې وکړي ؟ اصل خبره داده چې دوی ته څه نفس ووايي هغه کوي شاذاوضعیف حدیث هم خپلوي همدارنګه دوی هم دتراویحو له ټولو احادیثو څخه صرف داتورکعتو حدیث خوښ کړحال دادی چې دوولس هم راغلي اودوترو له ټولو احادیثو څخه یې دیوه رکعت حدیث خوښ کړحال دادی چې درې رکعته هم راغلي پنځه هم راغلي اووه هم راغلي خیرهغه بې چاره خوددوی په دوکه کولو شکمن شوی ؤ نو له مولانا څخه یې پوښتنه وکړه مولاناورته وفرمایل: چې ورور واوره که دمال له محکمې څخه خبرراشي چې مالیه داخله کړئ تانه معلومه نوي چې څومره ده تاله یوه مشرڅخه وپوښتل چې پرماڅومره مالیه ده هغه وویل :اتلس روپۍ بیادله بل مشرڅخه پوښتنه وکړه هغه وویل شل روپۍ نو اوس ته راته ووایه چې ته به محکمې ته څورو پۍ وړې هغه وویل شل که دومره وي نوله بل څخه تنه نه وي او که کمې وي نورو پۍ به راپاتې شي او که ماکمې اوهلته یې زیاتې غوښتې نوله چابه یې اخلم مولاناورته وویل

ښه ځان پوه کړه که هلته دشلور رکعتونو غوښتنه وشوه او ستاسره اته وي نو له کوم ځای به يې راوړې او که درسره شل وي او غوښتنه دلږ ووه نو نورې به باقي پاتې شي او هغه به ستاپه کار راشي هغه وويل سمه ده اوس به زه شل رکعته تراويح هميشه کوم زه بالکل ډاډمن شوم سبحان الله څه ډول يې پوه کړې په حقيقت کې داخلک دامت حکيمان وي «ب» په اوس وخت کې ددې دثابتولو څېړنه مونږ نه کوو بلکه دعمل لپاره مونږ ته همدومره کافي ده چې دحضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې شل رکعته تراويح اودرې رکعته وترپه جماعت سره اداکيدل ،دارو ايت په مؤطاامام مالک کې که څه هم منقطع دی خو عملاً متواتردی دامت عمل دی متواترکړ بس دعمل لپاره همدومره کفايت کوي.وګورئ که څوک درملتون ته ددوا اخيستلو لپاره ولاړشي نوله هغه داپوښتنه نه کوي چې دواله کوم ځای څخه راغلې اوددې څه ثبوت دی چې داهماغه دواده چې زه يې غواړم بلکه که په دې کنبې يې شک هم وي نو يودوه پوه کسانو ته په وربنکارولوډاډمن کيږي اوس که څوک ډاکترته ووايي چې زمااطمينان هله کيږي کله چې ته ماته دپلورونکي لاس ليک رابنکاره کړې چې تاله هغه دغه دوارانيولي نو خلک به داوايي چې ده ته ددوا ضرورت نشته که يې اخلي وايې خله که نه پريږده همدارنګه محقيقين علماهم داسې وو چې هغوی دمدعي لپاره خپل ماغزه نه خوړل مسئله به يې ورته وړاندې کړه که به چاپه هغې کې حجتونه راايستل نو صفا به يې ورته ويل چې له کوم بل چاڅخه تحقيق وکړه چې ستاپرې باوروي زمونږ سره دڅېړنې وخت نشته

ددې جواب حاصل هم هغه جګړه ختمول دي چې فضول بحثونه دغو ښاغليو نه خوښول که چيرې عوامو ته وښودل شي چې په حديث کې داراغلي نودوی ته به داستنباط علم له کومه وي په دې کښې به دوی بيافقهاؤته اړوي نواول دفقهاؤپه بيان باندې ولې باورنه کوی لنډه داچې دعمل لپاره خودتراويحودومره ثبوت بس دی چې رسول الله ﷺ قولاً دامسنون فرمايلې دي اودحضرت عمر ﷺ په زمانه کې اصحابو کرامو ﷺ عملاً دتراويحوشل رکعتونه کول دعوامولپاره دومره بس دي تردې زيات تحقيق دعلماؤمنصب دی «اشرف الجواب حصه دوم ص ۱۴۵»

دتلاوت دسجدې شرعي حيثيت

مسئله: دتلاوت سجده دسجدې دآيت پرويونکي اواوريدونکي واجبيږي که کوم څوک دتلاوت دسجدې پرواجبيدوسجده ونکړي نوګنګاريږي اوس ددې واجب په ادا ينه کې يوځای دوخت پراخي ده اويوځای تنګي ده نوکه چيرې دتلاوت سجده له لمانځه بهرواجب شوه نودهغه داداينې په وخت کې پراخي ده يعني دژوندترپايه دهغه داداکولواجازه شته اودسجدې نه کولوګنګارترمرګه نشي ورته ويل کيدای خوبياهم په سجده تلاوت کې ځنډکول تنزيهي مکروه دي خوکه دتلاوت سجده په لمانځه کې واجب شي يعني په لمانځه کې دننه دسجدې آيت ووايونوسمدستي سجده کول واجب دي دسمدستي مطلب دادی چې دسجدې دآيت دويلواوسجدهٔ کولوترمنځ دومره ځنډنه وي چې پکې درې آيتونه ويل کيدلای شي که په سجده تلاوت کې دومره ځنډوي نوسمدستی اداکول نشول.

مسئله: دسجدې آيت به يادسورت په مينځ کې وي ياپه پاى کې که چيرې په مينځ کې وي نو افضل داده چې دسجدې دآيت دلوستلوسره سم يعني له سورت ختمولو مخکې سجده تلاوت وکړي بياولاړشي اوسورت پوره کړى بيارکوع ته لاړشي.

مسئله: که يې دسجدې آيت ولوست سجده يې ونکړه خودسمدستي له بيان شوې مودې تيربدو مخکې يې رکوع وکړه اوپه رکوع کې يې دسجدې نيت هم وکړ نو جائزدي لکه څنګه چې په لمانځه کې دننه بيله نيت هم سجده رواکيږي کله چې دسمدستى په موده کې دننه وي دسمدستي له مودې تيريدو وروسته دلمانځه په رکوع ياسجده کولو سجده تلاوت نه ساقطيږى اوپه لمانځه کې دننه ددې قضاء ددې آيت لپاره خاصه سجده کول دي.

مسئله: که لمونځ ختم شو اوسجده تلاوت يې ونکړه نواوس ددې قضانشته ځکه چې دقضاء وخت تيرشو البته که سلام وګرزوي لمونځ يې ختم کړاوله هغه وروسته کوم دلمانځه ضدکارځينې ونشو (کوم داسې کاراوفعل يې ونکړ چې لمونځ په ماتيږي) نوله سلام وروسته دې دتلاوت سجده وکړله شي اوپه هغه صورت کې کله چې آيت دسجدې دسورت په پاى کې وي نوغوره داده چې ددې له ويلو وروسته رکوع وکړي اوله هغې سره دې دسجده تلاوت نيت هم وکړي خوکه يې سجده تلاوت وکړه اورکوع يې ونکړه بلکه بياودريدى نومستحب دادي چې دراتلونکي سورت څوآيتونه ووايي رکوع وکړي اولمونځ پوره کړي «کتاب الفقه ص ۷۴۲ لومړى

توک وفتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۲۲ وآپ کی مسائل ص ۸۴ ج ۴ وعالمگيري ج ۱ ص ۸۵ وبحرالرائق ص ۱۲۲ ج ۲ »

دتلاوت دسجدې شرطونه

مسئله: دسجده تلاوت هم هغه شرطونه دي کوم چې دلمانځه دي پرته له تکبير تحريمه اودوخت دتعينولوله نيته چې دادواړه شيان په دې کې شرط نه دي په دې کښې نيت نه تړل کيږی دسجده تلاوت واجبيدو شرطونه دادي: مسلمان به وي ،بالغ به وي ،عقل به يې صحيح وي ، که ښځه وه له حيض اونفاس څخه به پاکه وي ، داهغه شرطونه دي چې دلمانځه لپاره دي څکه نودتلاوت سجده پر کافر ، کوچني ،ليوني ،يادحيض اونفاس په حالت کې جائزنه ده په دې مسئله کې دسجدې دآيت ويونکي او اوريدونکي ترمنځ توپيرنشته البته له پورته بيان شويو اشخاصو څخه که کوم يو دسجدې آيت واوري اودقضاء يااداء په توګه دسجدې د!داکولو اهل وي نوپرهغه سجده واجبيږي څکه نوکوم شخص چې دنيشې ياپليتی په حالت کې وي پرهغه دتلاوت سجده واجبيږي څکه چې دی دقضاء په توګه داداء اهل دی هوکه لوستونکی کوم ليونی ؤ نودهغه له خولې په اوريدوسجده تلاوت نه واجبيږي.

مسئله: همدغه حکم له هغه ماشوم څخه داوريدودی چې دشعورحدته نوي رسيدلی څکه چې دتلاوت صحيح کيدولپاره تميزيعنی شعوراوپوهه شرط ده.

مسئله: همدارنګه له انسان پرته که دسجدې آيت دکوم بل څاڅخه واوريدل شي مثلاً طوطي دسجدې آيت ولولي ياله ضبط الصوت آله

(ټيپ) اونورو څخه يې واوري نو سجده تلاوت نه واجبيږي ځکه چې دلاشعوره شيانو تلاوت له سره صحيح نه دی.
مسئله: داحنافو اوشوافعو په نزد په دې کې اراده شرط نه ده يعني که دتلاوت دسجدې داوريدو اراده يې نه وي هم بيا هم سجده تلاوت وربانديې واجبيږي «کتاب الفقه ج۱ ص ۷۴۷ وعلم الفقه ص ۱۷۸ ج۲
مسئله: که له ماشين يامرغه څخه دسجدې آيت واوري نو سجده نه واجبيږي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۲۵»
مسئله: بې دتلاوت له نيته که دسجدې آيت ووايي نوهم سجده وجبيږي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۲۵»
مسئله: دسجده تلاوت په نيت کې دآيت معلومول شرط نه دي چې داسجده دفلاني آيت په سبب ده «علم الفقه ص ۱۷۸ ج۲»
مسئله: په کوموشيانو چې لمونځ فاسديږي په هغوی سجده تلاوت هم فاسديږي اوبياد دې راګرزول واجبيږي هودومره فرق دی چې په لمانځه کې په قهقه خندا اودس ماتيږي اوپه سجده تلاوت کې وربانديې نه ماتيږي دميرمنې محاذات (په برابري دريدل) هم په سجده تلاوت کې فسادنه راولي «علم الفقه ص ۱۷۹ ج۲»
مسئله: دسجدې آيت که په فرضي لمونځ کې وويل شي نودهغه په سجده کې دلمانځه دسجدې په څير سبحان ربی الاعلی ويل غوره دي اوپه نفلي لمونځو کې ياپه خارج دلمونځو کې که وويل شي نودهغوی په سجده کې اختياردی چې سبحان ربی الاعلی وايي يانورتسبيحات کوم چې په حديثو کې راغلي دي هغه وايي ددې تسبيح په رنګه: سَجَدَ وَجْهِيَ لِلذِيْ خَلَقَهُ وَصَوَّرَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ

بحَوْلِه وَقُوَّتِه فتَبَارَكَ اللهُ اَحْسَنُ الخَالِقِيْنَ كه چيرې سبحان ربي الاعلى او دغه تسبيح دواړه ووايي نو نور هم بهتر دي «علم الفقه ص ۱۸۱ ج ۲ و كتاب الفقه ص ۷۵۳ ج ۱»

د تلاوت د سجدې د واجبيدو اسباب

مسئله: د سجده تلاوت د واجبيدو درې سببه دي: اول تلاوت لهذا د قران كريم پر تلاوت كونكي د تلاوت سجده واجبيږي كه څه هم ده په خپله د سجدې آيت نه وي اوريدلى لكه چې څوك كوڼ وي په دې سره تو پيرنه راځي چې سجده تلاوت په لمانځه كې دننه ويل شوي وي يا د باندې امام ويلي وي يا منفرد (يوازې لمونځ كونكى) خو مقتدي كه د سجدې آيت په لمانځه كې دننه يعنى په امام پسې په جماعت كې ووايي نو پر ده د تلاوت سجده نه واجبيږي ځكه چې په امام پسې د قران كريم ويل منع دي ځكه نو په دې حال كې د سجدې د آيت په تلاوت سجده نه واجبيږي هو كه خطبه ويونكى د جمعې يا اختر په ورځ په خطبه كې د سجدې آيت ولولي نو سجده د تلاوت پر ده او اوريدونكو واجبيږي په داسې صورت كې خطيب ته په كار دي چې له منبره كوز شي سجده وكړي او اوريدونكي هم له ده سره سجده وكړي خو بيا هم د خطبې پر مهال د امام پر منبر د سجدې آيت ويل مكروه دي خو په لمانځه كې دننه د تلاوت سجده مكروه نه ده كله چې د تلاوت سجده د ركوع او سجدې په ضمن كې ادا كړل شي كه بې صرف سجده تلاوت يوازې وكړه نو مكروه دي ځكه چې په داسې كولو د شاته لمونځ كونكيو تشويش پيدا كيږي «كتاب الفقه ص ۷۵۱ ج ۱» يعنى كه امام د جمعې يا اختر په لمانځه كې د سجدې آيت تلاوت

کړ نو جلادې سجده نه اداکوي بلکه په سجده کې دې دسجده تلاوت
نيت هم وکړي که جلايې اداکوي نو دخلکو په دې غونډه کې ګډوډې
راځي عوامو ته به معلومه نه وي چې داد تلاوت سجده وه ځکه چې
مسئله داده چې که دجمعې يا اختر په لمانځه کې ګڼه ګوڼه زياته وي
نو غوره داده چې سجده تلاوت ونه کړي تر څو لمونځيو ته تشويش نه
وي «کتاب الفقه ص ۷۴۲ ج ۱»
۲ دوهم سبب دسجدې دآيت له کوم بل څاڅخه اوريدل دي اوس دغه
اوردونکی خو به يا په لمانځه کې وي يا به نه وي که په لمانځه کې وي
که منفردوي او که مقتدي پر هغه دصحيح قول مطابق سجده واجب ده
چې له لمانځه وروسته دتلاوت سجده وکړي خو که چادتلاوت سجده
له مقتدي څخه واوريده نو سجده دتلاوت نه واجبيږي داحکم په هغه
صورت کی دی کله چې کوم مقتدي له خپل امام پرته دباندې
لخوادتلاوت سجده واوريده که له امام څخه يې واوريده او مقتدي
له اول رکعته ورسره شريک دی نو دتلاوت په سجده کې دامام
پيروي لازمه ده او که چيرې مسبوق وي له څو رکعتونو وروسته په
جماعت کې برخه اخيستونکی وي دتلاوت له سجدې مخکې له امام
سره په لمانځه کې شريک شوی دی بياهم دامام په پيروي کې ده ته
سجده کول په کاردي او که کوم څوک دامام له سجده کولو وروسته په
همدغه رکعت کې شامل شو چې په کې دسجدې آيت ويل شوی دی
نو قطعاً به سجده دتلاوت نه کوي هو که له دې څخه په وروسته
رکعت کې شامل شوی وي نو له لمانځه وروسته دې دتلاوت سجده
وکړي ۳ دريم سبب مقتدی کيدل دي چې که امام دسجدې آيت

تلاوت کړنو پر مقتدي د هغه ادا کول واجب دي که څه هم هغه اوریدلی نه وي «کتاب الفقه ص ۷۵۲ ج ۱ و علم الفقه ص ۱۷۷ ج ۲»

مسئله: ځینې میرمنې د حیض یا نفاس په حالت کې هم د سجدې دآیت په اوریدو پرځان سجده واجب ګڼي دا غلطه خبره ده که چیرې د حیض یا نفاس په حالت کې له چاڅخه یې د سجدې آیت واورید نو پردوی سجده واجب نه ده «بهشتی زیور ص ۴۲ ج ۲»

د تلاوت د سجدې اړوند مسئلې

مسئله: دیوه آیت په تلاوت یوه سجده واجبیږي خو د مجلس په بدلون که بیا هغه آیت ولولې نو د هغه سجده جلا واجبیږي «آپ کی مسائل ج ۳ ص ۸۴»

مسئله: که چارپایي سخته وي چې تندی نه پرې ننوزي او پرهغه پاک تو کرهم غوړېدلی وي(کله چې چارپایي پلیته وي) نو پر چارپائی د تلاوت سجده اداکیدلای شي کنه نه شي اداکیدای.

مسئله: د تلاوت په دوران د سجدې آیت سو که ویل غوره دي تر څو پر نورو سجده واجب نشي «آپ کی مسائل ص ۸۶ ج ۳»

مسئله: استاذ شاګردانو ته د سجدې یو آیت جلا جلا وایي نو یوه سجده ځینې کول غواړي په دې شرط چې مجلس یو وي خو داستاذ چې له څو مره ماشومانو څخه د سجدې آیت اوري هغومره سجدې داوریدو په وجه واجبیږي.

مسئله: که دوه کسه د سجدې آیت ووایي نو پر دواړو دوې سجدې واجبیږي یوه د په خپله ویلو دوهمه د اوریدو «آپ کی مسائل ص ۸۷ ج ۳»

چاچې دسجدې آیت تلاوت کړی وي دهغه په اداکولو سجده تلاوت اداکیږي کوم بل څوک یې دده پرځای نشي اداکولای «آپ کی مسائل ج ۳ ص ۸۹»

مسئله: دچاغوږته دسجدې آیت ورسیدی هغه که داورید وقصد کړی وي او که نه یې وي کړی سجده تلاوت وربانده واجبیږي په دې شرط چې ورته معلومه شي چې دسجدې آیت وویل شو که ټیپ شوي تراویح دوهم ځل په رادیو، یاټي وي کې خپرې شي اودسجدې آیت واوریدل شي نوسجده نه واجبیږي همدارنګه که میرمنې په خاص ورځو(حیض اونفاس) کې له چاڅخه دسجدې آیت واوري نوسجده وربانده واجب نه ده «آپ کی مسائل ص ۸۸ ج ۳»

مسئله: په ټیپ دسجدې دآیت په اوریدوسجده نه واجبیږي «آپ کی مسائل ج ۳ ص ۸۸»

مسئله: که چاپه لاوډ سپیکر کې دقران تلاوت واورید اوپه هغه کې سجده راغله نوپراوریدونکي کله چې اوریدونکي ته معلومه وي چې داآیت دسجدې دی سجده پرې واجب ده «آپ کی مسائل ص ۸۷ ج ۳

مسئله: له رادیو څخه دسجدې دآیت پراوریدونکیو سجده واجبیږي ځکه چې دادویونکي آوازدی اوله میګرافون څخه چې کوم اوازراوزي هغه یې دتلاوت عکس اونقل لیکلی دی «فتاوی محمودیه ص ۲۲ ج ۱۲»

مسئله: که چامرغه ته دسجدې آیت ورزده کړ دهغه په ویلو هم پراوریدونکیو دتلاوت سجده نه واجبیږي ځکه چې دمرغه لوستل صحیح تلاوت نه دی همدارنګه که چادسجدې آیت تلاوت کړ بل

سړي په خپله خودده تلاوت وانه وريدی خودهغه اوازله غره يادیوال یاګنبدې سره ټکرشو دده غوږوته راورسیدی نودديِ آذانګې په اوريدوهم سجده تلاوت نه واجبيږي.

لنډه داچې اصول دادی چې دصحیح تلاوت په اوريدودتلاوت سجده واجبيږي دټیپ دکیسټ اوفیتې اوازتلاوت نه دی ځکه دهغه په اوريدودتلاوت سجده نه واجبيږي (صحیح تلاوت نه دی) اوسپیکرآوازترلیرې بیايي اوکوم آوازچې مقتدیانوته وررسي هغه هم هغه رنګه دامام دتلاوت اوتکبیراوازوي ټیپ دديِ په خلاف دی ځکه چې ټیپ اوازخوندي کوي اوس چې کوم کسټ ولګول شي دادهغه تلاوت عکس دی کوم چې پرکیسټه کې صوت شوی دی داپه خپله تلاوت نه دی ځکه یوپربل قیاسول صحیح نه دي «آپ کی مسائل ص ۲۳۱ ج ۳» مسئله: په زړه کې دسجدې دآیت په ویلوسجده نه واجبيږي ځکه چې تلاوت کول ضروري دي له تلاوت پرته سجده نه واجبيږي (په ژبه ویلوواجبيږي) «فتاوی دارالعلوم ص ۴۴۲ ج ۴ بحواله درمختارص ۵۵ ج ۱ وفتاوی محمودیه ص ۲۲ ج ۲»

مسئله: په یوه عامه غونډه کې دیوواعظ (نصیحت کوونکي) څخه دسجدې آیت واوریدل شي نوټول اوريدونکي دي جلا جلا سجده وکړي ځکه چې دسجدې دآیت په اوريدواولوستلوسجده واجبيږي «فتاوی دارالعلوم ص ۴۲۲ ج ۴ بحواله درالمحتارص ۷۱۷ ج ۱»

مسئله: دټول قران مجیددتلاوت سجدې (څورلس سجدې) په پای کې که یوځای وکړي نوداهم جائزدي اوغوره داده چې په هغه وخت يې وکړي «فتاوی دارالعلوم ص ۲۷ ج ۴ بحواله ردالمحتارص ۷۲۱ ج ۱

خو د ځنډ ولو ګنجائش هغه وخت دی کله چې د تلاوت سجده په لمانځه کې نه وي ځکه چې په لمانځه کې خو به يې سمدستی اداکوي «مرتب رفعت قاسمي غفرله»

مسئله: دلمرختو، لويدو اوزوال پروخت د تلاوت سجده هم حرامه ده مګرچې کله د سجدې آيت په دغو وختونو کې ووايي نوسجده هم په دغووختونو کې صحيح ده اود سهارله لمانځه وروسته ترلمرختوپورې اود مازديګر له لمانځه وروسته ترلمرلويدو پورې اودسهاردسپيدوپروخت د تلاوت سجده هم صحيح ده (کوم وخت چې په همدغه وختو کې د سجدې آيت تلاوت کړل شي) «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۳۱ وآپ کی مسائل ص ۸۵ ج ۳ »

مسئله: پراوريدونکيو سجده واجيبږي که هغوی ونکړه په لوستونکيو هيڅ ګناه نشته اولوستونکي داوريدونکيو پرځای دتلاوت سجده نشي کولای «فتاوی دارالغلوم ص ۴۳۱ ج ۴ »

مسئله: بې اودسه د تلاوت سجده جائزنه ده «فتاو دارالعلوم ج ۴ ص ۴۲۷ »

مسئله: که چاپه لمانځه کې د تلاوت سجده وويله اوسجده يې وکړه بياپه کومه وجه دلمانځه دراګرزولواړتياشوه اوبيايي هغه آيت تلاوت کړنودوهم ځل بله سجده کول په کاردي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۲۸ »

مسئله: د سجدې آيت يې ولوست سجده يې وکړه چې ولاړشو پرمخ ځه په يادنه ورتلونو که رکوع ته ولاړشي ځه پروانه لري لمونځ صحيح دی «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۲۲ »

مسئله: که کوم څوک دسجدې آیت ولیکي یایې په زړه کې ووایې په ژبه یې ونه وایي یایې یو یو حرف کړي یعني هجااوتوري ووایي تو آیت په یو ځل اویو وارونه وایي یاهمدارنګه یې له چاواوري نوپه دې تولوصورتونو کې دتلاوت سجده نه واجبیږي «علم الفقه ج۲ ص ۱۷۸»

مسئله: دچاپه ذمه چې دتلاوت سجدې وي دهغه دادا کیدوصورت دادی چې اندازه دې ولګوي بیادهره ورځ چې څومره یې وس وي دقضاپه نیت دسجدې کوي ددې کفاره همدغه ده چې سجدې وکړي «فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۲۹ بحواله ردالمحتار ص ۷۲۱ ج ۱»

مسئله: دجمعې ،اخترانواوسو که قرائت ویلوپه لمنځونوکې دسجدې آیت ویل نه دي په کار ځکه چې ویره شته چې مقتدیانوته اشتباه پیداشي «علم الفقه ص ۱۸۱ ج ۲»

مسئله: دتلاوت سجده پرهغوخلکوواجبیږي چې لمونځ وربانديي واجب وي په اداسره یاقضاء سره پرحائضه اونفاسه میرمنو، پرنابالغ اولیوني واجب نه ده هغه لیونی چې لیونتوب یې تریوه شپه اوورځ زیات وي له هغه وروسته که لیونتوب زائل شي او کنه اودکوم سړي چې لیونتوب تریوه ورځ اوشپه کم وي پرهغه واجب ده همداسې پرمست اوجنب هم واجب ده «علم الفقه ص ۱۷۸ ج ۲»

[illegible]له: که یو شخص دخوب پرمهال دسجدې آیت تلاوت کړ [illegible]ال سجده وربانديي واجب ده کله چې په دې پوه شي [illegible]کې داآیت تلاوت کړ «علم الفقه ص ۱۷۷ ج ۲

مسئله: د سجدې د آيت له کوم انسان څخه اوريدل که پوره آيت واوري يا صرف د سجدې لفظ د مخکني ياوروستني يوه لفظ سره واوري هغه که په عربي وي يا په کومه بله ژبه وي که اوريدونکي ته دامعلومه وي چې دا ترجمه د سجدې د آيت ده او که نه وي ورته معلومه خو دنا خبرتيا په صورت کې چې د سجدې په ادا کيدو کې څومره ځنډ راشي په هغه کې دی معذور بلل کيږي «علم الفقه ص ۱۷۷ ج ۲».

مسئله: له مقتدي څخه که د سجدې آيت واوريدل شي نو سجده نه واجبيږي نه پرده نه پر دغه امام او نه په هغه خلکو کوم چې په دې لمانځه کې شريک وي هو! که کوم خلک له دې امام سره په لمانځه کې شريک نه وي خواه که هغوی لمونځونه کوي يا کوم بل لمونځ اداکوي نو پر دوی سجده واجبيږي «علم الفقه ص ۱۷۸ ج ۲».

يعني يو مقتدي په زوره د سجدې آيت دامام شاته ولولي نو سجده د تلاوت نه واجبيږي صرف چې په جماعت کې ورسره شريک نه وي پر هغه خلکو واجبيږي «محمد رفعت قاسمي».

مسئله: د تلاوت په سجده کې نيت نه تړل کيږي بلکه د سجدې په نيت دې الله اکبر ووايي سجدې ته دې لاړشي او بيا دې الله اکبر ووايي راپورته دې شي د سلام گرزولو هم ضرورت نشته او په ناسته د تلاوت سجده کول هم جائز دي خوله ولاړې څخه تلل افضل دي «آپ کی مسائل» ص ۸۴ ج ۳».

مسئله: ځيني خلک سجده تلاوت وکړي دواړو لوروته سلام گرزوي داغلط دي يعنى سلام اړولو ته اړتيا نشته «اغلاط العوام ص ۷۴».

مسئله: علماؤ ليکلي چې که کوم شخص د سجدې د تولو آيتونو تلاوت په يوه مجلس کې وکړي نو الله تعالی ﷻ دده مشکل لرې کوي او په داسې حالت کې اختيار دی چې ټول آيتونه په يو ځل ووايي او له هغه وروسته څلورلس سجدې وکړي يا له هريو، ويلو وروسته د هغه سجده وکړي «علم الفقه ج ۲ ص ۱۸۱»

مسئله: د خارج د لمانځه سجده په لمانځه کې او د لمانځه سجده د لمانځه د باندې بلکه په نورو لمونځو کې هم نشي اداکيدای نو که کوم شخص په لمانځه کې د سجدې آيت ولولي او سجده کول يې هيرشي نو دهغې ګناه پرده پاتيږي چې اوس پرته له توبې کښلو بله لاره نلري يا يې ارحم الراحمين په خپل فضل معاف کړي.

مسئله: که کوم څوک په لمانځه کې د کوم بل چا څخه د سجدې آيت واوري که څه هم هغه بل هم په لمانځه کې وي نو دا سجده د لمانځه د باندې ګڼله کيږي په لمانځه کې دننه به يې نه اداکوي بلکه له لمانځه بهر به يې اداکوي «علم الفقه ص ۱۷۹ ج ۲»

مسئله: د لمانځه سجده په خارج د لمانځه کې هغه وخت نشي اداکيدلای کله چې لمونځ فاسد نه وي که فاسد شي او دهغه فاسدونکي د حيض راتلل نه وي نو هغه سجده به په خارج کې اداکوي او که د حيض له امله په لمانځه کې فساد راغلی نو دغه سجده معافيږي.

مسئله: د ټول سورت تلاوت کول او د سجدې آيت پريښودل غلط دي صرف له سجدې څخه د ځان ژغورنې لپاره دې د سجدې آيت نه

پرېږدي ځکه چې په دې له سجدې کولو څخه ګويا انکاردی «بهشتي زيور ص ۲۵ ج ۲ و علم الفقه ص ۱۸۱ ج ۲»
مسئله: په تراويحو کې امام د دوو رکعتو نو نيت وتاړی په لومړي يا دوهم رکعت کې يې د تلاوت سجده وويله سجده يې وکړه او دوه رکعته يې پوره کړل بيايې د دوو رکعتونو نيت وتاړئ سهوآيې بيا هغه د سجدې آيت ولوست نو په دې صورت کې به دوهمه سجده کوي ځکه چې د تکبير تحريمه په ويلو بل لمونځ پيل کول حکماً مجلس بدلوي «مراقی الفلاح ص ۲۸۲ فتاوی رحيميه ج ۴ ص ۴۲۸»
مسئله: امام د آلم سجده سورت تلاوت کړ سجده يې وکړه او بيايې پر همدغه ځای د سهار او نورو په لمانځه کې همدغه سورت دوهم ځل ولوست نو دوهمه سجده لازميږي «فتاوی رحيميه ص ۴۰۴ ج ۴ الاشباه ص ۱۹۱»
مسئله: ځيني ميرمنې پر قران کريم سجده کوي دا غلطه ده په دې سره سجده د تلاوت نه اداکيږي «بهشتي زيور ص ۴۲ ج ۲»
مسئله: که د سجدې يو آيت په يوه مجلس کې څو ځله وويل شي نو يوه سجده واجبيږي او که يو آيت د سجدې وويل شي بيا هم هغه آيت له بيلابيلو خلکو څخه واوريدل شي بيا هم يوه سجده واجبيږي که اوريدونکي مجلس بدل نکړ نو يوه سجده واجبيږي د ويونکي مجلس که بدل شي او که نشي بدل که د اوريدونکي مجلس بدل شي نو پرده معتددې سجدې واجبيږي د ويونکي مجلس که بدل شو وي او که نه وي بدل شوی که د ويونکي مجلس بدل شي نو په دې صورت کې هم څو سجدې ورباندې واجبيږي د مجلس بدلولو دوه صورتونه دي:

یو حقیقي بل حکمي که ځای بدل شي نو حقیقي دی او که ځای نکړي بدل بلکه کوم داسې کارورځینې وشي چې له هغه ځخه دافهمول کیږي چې لومړی فعل او کارېې ختم کړ اوس یې دوهم پیل کړنو دا حکمي تبدیل ده ،

د حقیقي مثال: ۱ دوه کوره جلاجلاوي اوله یوه کوره بل کورته ولاړشي په دې شرط چې تریو دوه ګامه زیات تګ وغواړي ۲ سپوروي پلی شي.

د حکمي مثال: د سجدې آیت یې تلاوت کړ تریوه دوې زیاتې ګولې دوډۍ یې وخوړله د چاسره تریوه دوو زیاتو کلمو خبرې یې وکړې یاځملاست ویده شو یا په پیرلو پلورلو بوخت شو ، که تریوه دوې زیاتې ګولې دوډۍ ونه خوري ، له چاسره تریوه دوې کلمې زیاتې خبرې ونکړي ځملي ویده نشي بلکه په ناسته ناسته ویده شي نو په دې ټولو صورتونو کې مجلس نه بدلیږي.

مسئله: که یو آیت د سجدې څو ځله په یوه مجلس کې وویل شي نو اختیار دی چې له ټولو وروسته سجده کوي یا له لومړي تلاوت وروسته ځکه چې یوه سجده له خپل مخکني او وروستني تلاوت لپاره بس ده خو احتیاط په دې کښې دی چې ټولو وروسته سجده وکړل شي «علم الفقه ص ۱۸۰ ج ۲»

مسئله: که پریوه ځای د سجدې آیت څو ځله ووایي نو یوه سجده واجب ده که ترټولو ویلو وروسته په پای کې سجده کوي یا یې لومړی ځل ووایي سجده وکړي بیا دغه د سجدې آیت له ځان سره ووایي (لکه چې حفظ کوونکي دې ته اړوي) او که ځای بدل شو بیا دغه آیت

ووايي بيادريم ځاى ته ولاړى دغه آيت يې بياووايي همدارنګه پرلپسې يې ځايونه بدلول نوځومره ځله چې يې ووايي هغومره سجدې به كوي «بهشتي زيور ص ۴۳ ج ۲ بحواله مجمع الانهر ص ۱۵۸».

مسئله: كه چيرې يو ځاى ناست وي دسجدې څوآيتونه تلاوت كړي نوهرڅومره آيتونه چې يې ويلي وي هغومره سجدې به كوي.

مسئله: په ناسته يې دسجدې كوم آيت ولوستى بياولاړشو خوله ځايه بنوريدلاى نه دى چيرې چې ناست ؤ پرهغه ځاى په ولاړه هغه ايت بياووايي نويوه سجده واجب ده.

مسئله: يو ځاى يې دسجدې آيت ولوست بيا په كوم كارپسې ولاړى اوبيا بيرته دې ځاى ته راغلى دوهم ځل يې هغه آيت ولوستى بيا به هم دوې سجدې كوي (ځكه چې مجلس بدل شو)

مسئله: كه يو ځاى ناست وي او دسجدې آيت ووايي بيا چې يې كله دقران تلاوت پوره كړ نو پرهمدغه ځاى په ناسته په يوبل كاراخته شو مثلاً ډوډۍ خوړل، يادميرمنې وماشوم ته تى وركول، تردې وروسته يې بياهغه آيت دسجدې ولوست بياهم دوې سجدې واجبيږي ځكه چې كله بل كارپيل كړي ګواكې مجلس بدل شو.

مسئله: دكوردكوټې يادالان په يوكونج كې يې دسجدې آيت ولوست بيابل كونج ته ولاړى هغه آيت يې ولوست يوه سجده كافي ده كه هرڅومره واره يې ووايي، البته كه په كوم بل كاراخته كيدو وروسته يې هغه آيت ولوستى نودوهمه سجده كول غواړي بيا په دريم كاربوختيدو وروسته يې كه ووايي نودريمه سجده واجبيږي.

مسئله: که غټ کوروي نو په بل کونج کې په بيا بيا ويلو بله سجده واجبيږي او په دريم کونج کې په ويلو دريمه واجبيږي.

مسئله: د مسجد هم همدغه حکم دی کوم چې دې کوټې او خونې دي که د سجدې يو آيت څو ځله ووايي نو يوه سجده واجب ده که په يو ځای په ناسته ناسته يې ووايي او که اخوا ديخوا په ګرزيدو را ګرزيدو يې ووايي.

مسئله: که په لمانځه کې د سجدې يو آيت څو ځله ووايي بيا هم يوه سجده واجب ده که تر ټولو ويلو وروسته په پای کې سجده وکړي يا يې يو ځل ووايي سجده وکړي بيا په همدغه رکعت يا بل رکعت کې هغه آيت ووايي «بهشتي زيور ص ۴۵ ج ۲»

مسئله: ويونکي ځای بدل نکړي يوه ځای ناست څو ځله يې يو آيت ووايو اما اوريدونکي ځای بدل کړ چې لومړی ځل يې يو ځای واوريد او دوهم ځل پر بل ځای نو پر ويونکي يوه سجده واجب ده او پر اوريدونکي چې څو مره ځله يې اوريدلی وي هغو مره سجدې واجب دي.

مسئله: که چيرې په يوه سورت کې يو سړی يو آيت ونه وايي يوازې د سجدې آيت ووايي نو په دې کې هيڅ حرج نشته او که په لمانځه کې داسې وکړي نو په هغه کې شرط همدا دی چې دا آيت به دومره درازوي چې د دريو کوچني آيتونو سره برابروي خو غوره دا ده چې د سجدې له آيت يو دوه آيتونه ملګري کړي ويې وايي «بهشتي زيور ص ۴۵ ج ۲ بحواله مجمع الانهر ص ۱۵۸ ج ۱ وشرح وقايه ص ۲۳۳ ج ۱»

مسئله: که له يو چا څخه ډيرې د تلاوت سجدې پاتې شوې وې نو احتياط په دې کې دی چې د هرې سجدې په بدل کې پاو کم دوه سيره غنم يا د هغه قيمت صدقه کړي «جواهر الفقه ج۱ ص ۲۹۳»

د هغه آيتونو بيان کوم چې سجده تلاوت وربانديې واجبيږي

په قران کريم کې څورلس داسې آيتونه دي چې د هغوی په ويلو او اوريدلو يوه سجده واجبيږي تفصيل د هغو آيتونو دادی: ۱ دسورة اعراف په پای کې داآية: إِنَّ ٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِۦ وَيُسَبِّحُونَهُۥ وَلَهُۥ يَسْجُدُونَ ۩ ﴿٢٠٦﴾ اية ۲۰۶ پاره/۹/

۲ دسورة رعد په دوهمه رکوع کې داآية: وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَظِلَٰلُهُم بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْءَاصَالِ ۩ ﴿١٥﴾ آية ۱۵»

۳ دسورة نحل د پنځمې رکوع دپای داآية: وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ مِن دَآبَّةٍ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٤٩﴾ يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ۩ ﴿٥٠﴾ ۴۹، ۵۰»

۴ دسورة بنی اسرائيل په دوولسمه رکوع کې دغه آية: وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ۩ ﴿١٠٩﴾ پاره اية ۱۰۹»

۵ دسورة مريم په څلورمه ركوع كې داآية : إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُ ٱلرَّحْمَٰنِ خَرُّواْ سُجَّدًا وَبُكِيًّا ۩ ﴿٥٨﴾ پاره ۱۶ آية ۵۸ »

۶ دسورة حج په دوهمه ركوع كې دغه آية: أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسْجُدُ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ وَٱلْجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ ٱلْعَذَابُ ۗ وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّكْرِمٍ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ۩ ﴿١٨﴾ پاره ۱۷ آية ۱۸ »

۷ دسورة فرقان دپنځمې ركوع داآية: وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱسْجُدُواْ لِلرَّحْمَٰنِ قَالُواْ وَمَا ٱلرَّحْمَٰنُ أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُورًا ۩ ﴿٦٠﴾ پاره ۱۹ آية ۶۰ »

۸ دسورة نمل په دوهمه ركوع كې داآية : أَلَّا يَسْجُدُواْ لِلَّهِ ٱلَّذِي يُخْرِجُ ٱلْخَبْءَ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴿٢٥﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ۩ ﴿٢٦﴾ پاره ۱۹ آية ۲۶ »

۹ د سورة الم تنزيل السجده په دوهمه ركوع كې دغه آية: إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِـَٔايَـٰتِنَا ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا۟ بِهَا خَرُّوا۟ سُجَّدًا وَسَبَّحُوا۟ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ۩ پاره ۲۱ / آية ۱۵.

۱۰ د سورة ص په دوهمه ركوع كې دغه آية: وَخَرَّ رَاكِعًا وَأَنَابَ ۩ آية ۲۴.

۱۱ د سورة حم سجده په پنځمه ركوع كې داآية: فَإِنِ ٱسْتَكْبَرُوا۟ فَٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُۥ بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُونَ ۩ پاره ۲۴ آية ۳۸.

۱۲ د سورة نجم په پاى كې دغه آية: فَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ وَٱعْبُدُوا۟ ۩ پاره ۲۷ آية ۶۲.

۱۳ په سورة انشقاق كې دغه آية: وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ ٱلْقُرْءَانُ لَا يَسْجُدُونَ ۩ آية ۲۱.

۱۴ په سورة اقراء كې دغه آيت: كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَٱسْجُدْ وَٱقْتَرِب ۩ پاره ۳۰ آية ۱۹.

يادونه: مالكيه او حنفيه دسورة حج دپاى آيت په هغوځايونو كې نه شميري په كوموچې دتلاوت سجده واجيبږي «كتاب الفقه ص ۷۵۵ ج۱»

دتراويحو پرختم حافظ ته تحفه اونذرانه وركول

سوال: څه فرمايي علماء ددين اوشرع متين دلاندې مسئلې په هكله چې دروژې مباركې په مياشت كې حافظان تراويح وركوي اودختم په ورځ خلك حافظ صاحب ته څه تحفې اوسوغاتونه وركوي په عامه توګه داسې وي چې څه پيسې دده لپاره ټاكلې نه وي بلكه هغه وخت جامې، اونوريا صرف روپۍ چې څومره وي خلك يې وركوي آيادحافظ لپاره تحفه اوهديه اخيستل روادي ؟ كه حافظ صاحب تحفه واخيسته نوآيادې قران اوروونكى او اوريدونكيوته كوم ثواب وركول كيږي اوكنه ؟آياپه تحفه اخيستونكى حافظ پسې تراويح صحيح دي ؟اوآياده ته ثواب وركول كيږي ؟ په ځواب موژرونازوئ دلته سخت انتشاراواختلاف دى

پوښتونكى محمدمختار احمد سرتاګنج مظفرپور

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ○

جواب: دقران كريم ويل او اوريدل هم طاعت اوعبادت دي دحضرت امام ابوحنيفه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِ مذهب دادى چې پرطاعت باندې اجرت اومزدوري اخيستل روانه دي اخيستونكى اووركوونكى دواړه ګنهګاردي دمتقدمينو همدغه مسلك اومذهب دى خومتاخرينو احنافو دامام اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِ اومتقدمينو په مسلك كې دوخت اوحالاتوله نظره څه استثنا پيدا كړه اوتوسع يعني پراخي يې

وښو دله د قران د تعليم او ورزده كولو د ختميدو له ويرې يې د قران كريم پر تعليم اجرت اخيستل روا وبلل د مسجدونو د آبادۍ او د جماعت د پاتيدو د ويرې په بنسټ يې په اذان، اقامت او امامت باندې اجرت اخيستل جائز وبلل د روژې په تراويحو كې پر قران اورولو د متقدمينو رايه موږ ته معلومه نه ده غالباً لدې جزيې څخه متقدمين ساكت او خاموش دي په اوس وخت هم د مولانا تهانوي رحمه الله او دارالعلوم ديوبند فتوى همدغه ده چې په روژه مباركه كې پر قران اورولو مزدوري اخيستل جائز نه دي او له مخكې څخه مزدوري ټاكل صحيح نه دي او كه له مخكې دا ورته معلومه وه چې مونږ به قران اوروو او په هغه كې به روپۍ راكول كيږي او اوريدونكي داګنې چې مونږ به قران واورو او مونږ به څه وركړو نو په داسې حالت كې هم په قران اورولو څه اخيستل يا څه وركول جائز نه دي خوله دغو ټولو خبرو سره زمونږ رايه داده چې كه په تراويحو كې څه اخيستل او څه وركول حرام وګرزي نو څو ورځې وروسته به د حافظانو په شمير كې كمښت راشي او لږ موده وروسته به په مسجدونو كې په تراويحو كې د قران د ختم كولو لړۍ بنده شي د روژې له دوو غړو څخه به يو غړى قيام الليل (تراويح) كمزوري شي او سو كه سوكه به په مسجدونو كې د تراويح جماعت ختم شي او چيرې چې د سورتونو تراويح كيږي په هغوى كې به هم ډير لږ خلك برخه اخلي او د روژې مباركې د غه رونسانه شپې چې په اوس دوركې د اسلام شعار بلل كيږي ډيرې به كم شي د حفظ په درجو كې به د ماشومانو شميرې لږيږي او حافظان چې كله تراويح وركول پريږدي نو قران به يې

هیرشي همدارنگه به دقران حفظ په خطر کې ولویږي او دتراویحو په اړه چې کوم صورت حال دی له هغه څخه به مونږ په نظري اوفرضي طریقو غاړې نشو خلاصولای بلکه مونږ به پرواقعي اوعملي صورتونو غوراوفکرکوو زمونږ په خیال کې واقعي شکل هم هغه دی چې یادونه یې پورته وشوه څکه زمونږ رایه داده چې په تراویحو کې دې دقران کریم داورولو په اړه هغه پراخي را وایستل شي کومه چې دقران دتعلیم اوحدیث دتعلیم اودفقهې دتعلیم ،امامت ،اذان او اقامت په اړه راایستل شوې ده سمه مزدروي ورسره خلاصول خومناسب نه معلومیږي چونکه قران مختنه دی اودهغه داداب غوښتنه داده چې دهغه پرتعلیم او اورولو دپیرلو پلورلو خبرې ونشي خوداورید ونکیو دا فرض جوړیږي چې دوی دقران اوروونکي خدمت ترخپل وس زیات وکړي هکه خپل ارزښتمن وخت اورید ونکیو ته ورکړ خپلې ورځې او وختونه یې محبوس اوبند کړل څکه نو دقران دحافظ لپاره تحفه اوسوغات اخیستل جائزدي په تحفه اخستونکي حافظ پسې قران اوریدل هم داجراوثواب باعث دي اوپه تحفه اخیستونکي حافظ پسې تراویح کول بالکل صحیح دي اوددې پوره ثواب ورکول کیږي.

والله تعالی اعلم.

منت الله رحمانی غفرله

۱۲ رمضان المبارک ۱۴۰۷ ه ج

پر همدې مسئله دلاندې علماؤ امضاګانې
محمد شمس الحق عفی عنه مدرس جامعه رحماني مونګیرشیخ الحدیث جامعه رحماني مونګیر۱۲/ ۹ /۲ ه ج داجرت مسئله خو ترخیرنې لاندې راتلای شي اماد تحفې په جواز کې څه شبه ده زبیراحمد القاسمي استاذفقه جامعه رحمانی مونګیر محمد صدر عالم غفرله دزماني دحالاتوله مخې چې کوم ګنجائش ورکول شوی هغه دفقهې سره سم دی مولانا محمد ظفیرالدین غفرله مقیم خانقاه رحمانی مونګیر مفتی دارالعلوم دیوبند ضلع سهارنپور مولانا محمد شهابدينْ کوثري محله دلی پور وارډ شمیره ۱۲ دحضرت امیرشریعت مد ظله رایه دحالاتوله مخه زیاته مناسبه ده دارالافتاء امارت شرعیه خانقاه مونګیر ، مولانامحمد تسلیم صاحب نائب ناظم جامعه رحماني انقاه مونګیر ، مولانا صغیراحمد رحماني استاذ جامعه رحماني مونګیر، جواب صحیح دی مولانا عبدالمجید مفتاحي جامعه رحمانی خانقاه مونګیر محمد نعمت الله القاسمي مفتی امارت شرعیه بهار خانقاه رحمانی مونګیر ۱۲ رمضان ۱۴۰۲ ه ج

دنفلو جماعت کول

محترم او مکرم حضرت مفتی صاحب دارالعلوم دیوبند دامت برکاتهم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

ستاسو په خدمت کې عرض دی چې علماء ددین څه فرمايي په دې مسئله کې که کوم دقران حافظ د لماخوستن له لمانځه وروسته یا په تهجد کې په نفلو کې قران کریم وایي او په دې حافظ پسې ګڼ شمیر لمونځ کوونکي دقران اوریدو لپاره دثواب په نیت شریک شي

نو آیا په داسې طریقه په نفلو کې قران اوریدل جائزدي که ناجائزاو دامام ابو حنیفه رحمه الله په اند زیات شمیر خلک د نفلو جماعت کولای شي او کنه؟ او آیا دغو خلکو ته په دا ډول ثواب ورکول کیږي او کنه؟ له جواب: څخه په کته ترلاسه کولو موونا زوئ ستاسو ډیره مننه فقط والسلام

المستفتی محمد مستقیم دیوبند محله ضیا الحق

۲۳ رمضان المبارک ۱۴۰۸ ه ج

باسمه تعالی

الجواب بالله التوفیق

په درمختار کې راغلي دي: انه یکره ذلک لو علی سبیل التداعی بان هذه یقتدی اربعة بواحد «کمافی الدرر» ولاخلاف فی صحة الاقتداء اذلامانع (الی قوله) ولو لم ینوا الامامة لاکراهة علی الامام.

تردې لاندې په شامي کې راغلي: لو اقتدی به واحد او اثنان ثم جائت جماعة اقتدوبه قال الرحمتی ینبغی ان تکون الکراهة علی المتاخرین ۱۲

له دغو عباراتو څخه معلومه شوه چې له دوو دریو زیات مقتدیان که په جماعت کې له امام سره شریک شي نو د احنافو په نزد مکروه دی خو که صرف له دوو دریو مقتدیانو سره جماعت پیل کړي وروسته نور په خپله راشي په کې شریک شي او امام د هغوی د امامت نیت نه وي کړی نو د امام او د هغو دوو دریو مقتدیانو چې له اوله سره په جماعت کې شریک ؤ د دوی په لمانځه کې کراهت نه راځي بلکه

کراهت صرف پرورو سته راتلونکيودی «هکذافی فتاوی محمودیه ص ۱۲۱ دوهم ټوک وفی الفتاوی بدارالعلوم دیوبند»

والله تعالی اعلم

کتبه العبد نظام الدین اعظمی

مفتی دارالعلوم دیوبند ۲۴ / ۹ / ۱۴۰۸ه ج

الجواب صحیح

حبیب الرحمن خیرابادي مفتی دارالعلوم دیوبند

۹۲۴ / ۱۴۰۸ه ج

یادونه: له مکروه څخه مراد تحریمي مکروه دي

والله اعلم بالصواب ۲۴ / ۹ / ۱۴۰۸ه ج